د لوي ښبنتن په ستر نامه

# پښتو کې ناسم ورځني شوي ويونه

د پښتو نړيوالې ورځې ته

ليکونکی

ډاکتر ماخان مېړی شينواری

Ketabton.com

:

:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي ښتن په ستر نامه

د کتاب نوم:

په پښتو کې ناسم ورځني شوي ویونه

لیکونکی:

ډاکتر ماخان میرې شینواری

د خپرېدو کال:

ز ک ۲۰۲۰

خپرونکي:

ketabton.com

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک


لیکنه ځانګړې ده الف
سریزه ب
په ژبه کې باید انارشي نه وي ۱
سلمه څنګه سلنه شوه؟ ۲
ژبه قراردا د نه دی ۴
ستونځې په ټوله پوهنه کې ۷
په پیداښتي پوهنو کې وده ۸
.... زما کوخه د دې لیکنې سره ۹
زما سوال ۱۰
ژبه سوچه کېدنه نو څه؟ ۱۰
.....کې څېړنې په پښتو ۱۲
نوموني ۱۳
ژبه معیاري کړنه ۱۵
ناسم نومونه څنګه پېژنو؟ ۱۸
ئ ،، په پښتو تپل شوې ،، ۲۳
د ښاغلي خبیب غلي لیکنې ته ۲۵
بیا هم دا ،، ئ ،، تپ ل شوې ۳۰
کچه ۳۵
ولې اوبلن ۴۱
خوي وی ۴۸
د ستاینونومونو درج،، ته ۵۶
سلمه او نه سلنه ۵۹
ترډېره برېده ۶۳
غبرګون ۶۶
...ایا موږ پیداښتي پوهنې ۶۹
... په نورو ژبو کې شته ۷۸
ستونځوبی ۸۳
..د پوهنیزه څه لیکلو ۸۶
تر ۸۸
د تر وزر شوي ۹۳
منځ کې، په منځ کې ۹۸
د واحد لاندې څه پوهیږو؟ ۱۰۴
نېکمرغه ۱۰۷
...سرکال تر ټولو ۱۱۰
..نسکرېټد پښتو ا سد .. ۱۱۲
... ژبه کې د تعجب یا ۱۱۸
د تل أه پاره، تل تر تله ۱۲۸
څه وکړو؟ ۱۳۳
،د،، په،، او ،، پر ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| | پرتله کونه ۴۵ |
| | لیونی یم !ناروغ یم، نه ۱۳۵ |
| | پټ سړی کور ته نه ځي ۱۳۷ |
| | ...د پښتو سره د نورو ژبو ۱۴۰ |
| | مورفيم ۱۴۶ |
| | ...ګڼونه په ګڼونو او ۱۴۷ |
| | نه دی که ندی ۱۵۱ |
| | ....هغه لیکنې ۱۴۵ |
| | یوه پای راوړنه ۱۵۶ |
| | ،،د ژبپوهانو ګواښنه،، ۱۵۹ |
| | د ډاکتر ماخان مېړي شنواري |
| | ژباړې ا لیکنې ۱۶۸ |
| | د ډاکتر م م شینواري ژوند ته |
| | لنډه کتنه ۱۷۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

.......................... الف ................

دا لیکنه سوچه بوچه ځانګړې ده، نو
له کینې به مخ ته نه ځو

اوس دوه .دا ناسمې لیکنې ته، ته او ته هم کوي
شونتیاوې دي

زه لیونی، زورواک او کلکسترګی او یا .لومړي
نادرنښت پورې درته برېښم، نو بیایې .... بل څه
مه لولي او که نه

ویې لولی، نو دوه امکانات شته :دویم

زه ناسم یم، یا مې ستاسې د لیکنو ردونه :ومړیلـ
ناسمه کړې، نو په دې حالت کې دې ما ته بیا د
داکتر نوم ونه کارول شي، هغه تاسو له ما
او که .واخلی

که په سمه وم، نو زما دا کړنې او زیارونه :دویم
په ډاکترۍ ارزي، د پښتو ډاکتري را ته
راکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

.................. ب ...........................................

سریزه

دا په خپله خټه کې یواځنی او ځانګړې لیکنه ده، دا نو څه مانا؟

دا یواځنی ځکه ده، چې بل چا تراوسه زموږ په ټولنه کې داسې په دې سویه او دې ډول انګړنوالی دا د ناخوښی وړ دنده لوي ځښتن ماته را په برخه کړه او دا ځ .لیکنه نه ده کړې یې هم په دې کې دي، چې زموږ د ټولو لیکوالانو او ژبپوهان د لیکلو په مخامخ کې ځای دا زما لیکنې ټولې د تاند او ځنې یې د دوعوت په درنو خپرونو کې خورې .په ځای شوې شوي، چې مننه ترې کوم.

.دا به د لیکنې د خونډیونې زر تاسو ته روښانه شي

دا نو په څه مانا؟

په دې مانا چې زه یا زورور، یا ځانپالی چې بې ځایه ځان منځ ته راوباسي او یا لیونی دا دا لومړي دوه خو باید له پوښتنې ځکه وباسم، چې زورور نه یم او باور وکړی، چې .یم که داسې .ځانپالی هم نه یم، خو که لیونی مې څوک وبولي ورسره مخامخوالی به ونه لرم وړ لیکوالان او ادیبان باید ولري، چېږي، نو دوه لارې زمہ

**یا ورته بې ارزښته وبرېښي او په اند وي، چې بس یو لیونی دی او وي به او :لومړی یا**

**دا نیوني ورته ناسمي برېښي او زه هم ورته لیونی نه برېښم، نو په دې حال کې :دوبم زما د ټولو په مخامخ یو یې زما له پاره باید په دلایلو ولاړ ردونې راوړي او دا چې دا به پوره د کړنې وړ کار نه وي، چې په دې حالت کې باید محاکمه شم او د پوهنتون د استادانو په پرېکړهمې د ډاکترۍ را څخه واخستل شي او نوره کومه جزا چې راته ټاکي هم باید ویې کړي**

**او یا**

**ناسمونونه سم کړي او که زما لیکنې نه شي ردولی، نو په دې حال کې باید دا خپل :دریم په دا دومره کار او سمونونو بیا راته د پښتو ژبې ډاکتري راکړي او کارونه مې وستایل .دا نه زما له پاره، دا د پوهنې د چوپړ له امله .شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته به له هرڅه د مخه بخښنه کړی، چې په ليکنه کې بيا بياه همغه څه ډېر راغلي، خو ما .مي ورته زړه دومره توان ورته نه لاره يې بله لار نه لرله يا

ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

# په ژبه کې بايد انارښې (ګډوډي) واکمنه نه وي

دا تر اوسه ماته تجربو ښوولې، چې ناسم څه ټولنه زر خپلوي، ځکه چې نوي وي اود دې په هکله بيا هرڅومره هلې ځلې چې وشی، ډېر يې ډېرې ستونځمنې بيرته سميږي.

په پښتو ليکل اوکه پښتو سوچه کول:
هر څه چې په پښتو کې‌دونکي وي يا شونتيا لري، بايد په پښتو شي او په انډوله پښتو، که نه د يو څه له پاره بايد د پښتو يو نامناسب ناانډول وی پيدا نه کړو، چې دا کار مو په ليکنو کې ډېر کيږي او ما له همدې امله ليکنې هم پرې کړي.
زه په دې ډول ليکنوکې سوچبوچ ځانله يم اوپه دې اند کې هم ځانله يم، نو بايد له دې د مخه ملامت وکڼل شم. خوکه زما دې ليکنوکې که بې ځايه د ژبلارې اوسم اند څخه لرې څه وو، نوتاسو په ما ځان مه ګوناه کاره کوئ، زه به ځان پخپله هغه د جاپانيانو په څير هاراکيري وکړم. تاسوبه ماته زياته بخښنه کوئ اوزما تيرې او تروې خبرې به هم راته بخښئ. راباندې ګران ياستئ اوپه رښتيا راباندې ګران ياستئ، له دې امله دا جرآت هم.

زه نه ځانپالی يم او نه په هرڅه ځان راته پوه برېښي، خو زما هسې په پښتو کې دې ناسمونونو ته را فکر شو.

ژبه کې انارښې يا ګډوډي واکمنه او ځواکمنه نه ده اونه بايد وي. ژبه کې هم - لکه نوروپوهنوکې - د هر څنګه ودې له پاره لارې ( قوانين) شتون لري.

دا چې زموږټولنه وروسته پاتې ده، نوژبه مو هم ورسره کړيږي، موږ په خپله ژبه کې زيات وخت د نورو ژبو د هغو زياتو مسلکي ويونو له پاره انډول په خپله ژبه کې نه پيژنو، داسې نه وايم، چې نه يې لرو، ځکه چې په هره ژبه کې هر وی چې په پيدابښتې توګه په بله ژبه کې شته، هغه هرومرو په پښتو کې هم شتون لري. موږ په خپله ژبه کې ډېرلرودي ويونه پرېښودي يا نوره هم ښه را څخه پاتې دي، ځکه چې پوهنه موپه بله ژبه زده کړې او هغه د خپلې ژبې ويونه راته اوس داسې هکپک کونکي برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ساده بيلګه يې همدلته راوړو:

:

............ ٢ .................

موږ غونډوسکه لرو، خودا چې په پوهنه کې موکره کارولې، دا نه منو، چې ګونډې د عربي د کرې انډول به په پښتو غونډوسکه وي. يعني د کرې انډول مو، چې غونډوسکه ده شته، خوله ياده مو وېستل شوې او اوس چې چا ته ووايې در پورې خاندې هم، چې ګونډې کره څنګه غونډوسکه شي.

موږ چې تراوسه په ټولو پوهنو کې څه لوستي، نوهغه موپه نورو ژبو لوستي اود نورو ژبو ويونه مو په خپله ژبه کې راننباسلي او ان تردې چې دا مو منلي. موږ هغه څه چې لولو، په پيژند يې پوهيږو، خو لا تراوسه په خپله ژبه کې د هغه نوم په انډول نه پوهيږو، نو له دې امله اړتيا پيښيږي، چې د دې ويونو انډول په پښتو کې پيدا کړو.

ايا دا انډول شته او که پيدا کوو يې اوکه دا انډول ټاکو؟

پورته مو وويل، چې په ژبه کې ګډوډي واکمنه نه ده، په ژبه کې د هر څه له پاره لارې شته، نو له دې امله موږ د نه بللو يا په پوهنو کې پرېښودي د نورژبوانډول ويونه بايد په پښتوکې پيدا کړو، ټاکل يې ناسم دي او تراوسه مو چې څه ټاکلي هغه هم ناسم دي، چې په لاندې کې به يې روښانه کړو.

موږ دا په ژبه اويا نوروپوهنو پوه کسان، موځانونه بايد دومره غوره ونه ګڼو، چې په ژبه يا نوروڅه کې مو څه شي منځ ته راوړی اويا مود کومې بلې پرې پوهيدلي وی ، له پاره کوم بل وی منځ ته راوړی اوکه دا کار مو کړی وي، نوناسم به وي، چې دا به هم وروسته وګورو

په ډېره بخښنه: زموږ پخوانيو ژبپوهانو پښتو ته اړيين ډېر ښه نومونه هم ټاکلي، د خوي سره سم، چې موږ يې تل بايد مننديو وو.

## سلمه به څنګه سلنه شوې وي؟

زموږځني پښتوپوهان اوبيا چې دوی ژورنالستان هم وي، د خپل ( نه ) ابتکار له امله چې کړی يې وي، نو د شپې خوب وګوري اوپه فکر کې شي، چې راځه نن يوڅه وکړه او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بې له دې چې په سم او ناسم يې پوه وي په ژبه خپل ګډوډ اند ورتپي اووايي، چې دا سلم خوماته ښه نه برېښي راځه دا سلن کړه. يو په ژبلار او سم انديز دليل خوورته نه لري او نه يې لرودی شي. دی خوژورنالست يا پښتو پوه دی، دا چې يوڅوکسان دا له راديو تلوېزيون څخه واوري، نو اندي، چې دا خوګوره چې څومره ښه يونوي وی زموږ اديبانو

................... ۳ .............

او ژورنالستانو راپيدا کړی، چې په دې توګه ټوله ټولنه دا ناسم وی خپلوي اوهمداسې ناسم يې کاروي. دا ماته ښه روښانه دی، چې دا کار په دوه زرم کال کې شوی او زه له همغه وخته د دې په مخامخ ولاړ يم.

اويا
مايع ته د پښتو انډول پيداکول:

ځنې پښتو پوهان سره يوځای کيږي او وايي، چې مورډ مايع وی کاروو، چې عربي دی، نودې ته به په پښتوڅه ووايو. په دې ډول خبروکې ما هم کله کله شتون لروده، خپله خبره مې کړې، خوچا ورته غوږنه دی نيولی، وايي، چې دی خو څه ژبپوه نه دی. مخامخ يې تکيه شوی يم، خو لا تراوسه يې ګټه نه ده کړې او نه زه له خپله نيته تير شوی يم. دوي ډېر ناسم دا اوبلن بولي.

دوی خوپه عربي نه پوهيږي او ځنې زيات يې په بله کومه ژبه هم نه، نو له دې امله يې په پښتو انډول هم نه شي پيداکولی اوپه فزيک هم نه پوهيږي، چې دا مايع په پيژند وپوېږي، چې بيا يې د پښتو انډولساده کيده. دا چې دا په ختّه کې څه شی دی يعني په دې نه پوهيږي، چې دا خو د تنونو د يوه ټولګي ګډ خوی دی اواوبلن خو لا تراوسه کلک دي پخپله هم لا مايع يعنې اوبه نه دی.

دوی داسې نه کوي، چې يوه کس ته دا دنده ورکړي، چې په هکله يې څېړنې وکړي او فزيکپوهان هم مرستې ته راوغواړي.

بله بيلګه: مستطيل په پښتو يعنې څه؟

ما د پوهنې وزارت نصاب کې له استادانو وپوښتل چې مسطيل به څه ته وايي، هر يوه پيژند ورکاوه، نوما ورته وويل، چې دا نوم يې نوڅه مانا لري، څوک پرې نه پوهيده، هلته يو مولوي صيب روان وو، چې ورڅخه ومې پوښتل ويې وی: د مستطيل مانا غزېدلې (څېره ده ځکه ښځينه) ده.

بله بيلګه دا په پښتوتپل شوې ،، ئ،، ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا يوائې د کړ له پاره اوبيا يوائې د مخاطب جمعي کړ له پاره، چې سړی ورته هکپک کيږي.

ولې ورته هکپک کيږي؟

.............. ۴ ..............

ځکه چې :

لومړی: موږد غږلرونکوتورو له مخې نوم، فعل او خوي اوداسې نورنه ټاکو اوکه داسې وکړو، نوالله دې خير را پيښ کړي، چې بيا به نوپه همدې کې رابند يو.

دويم: که داسې وي، نو دا به بيا يوه لار (قانون) وي. چې دا لار وي، نوبيا د مخاطب يو، او ويونکو، اودريموله پاره هم بايد دا لار وي، چې بيا به نولړترلړه اته، که نه ۱۲ او.. ييګانې ولرو.

ډاکتر ماخان ميړی شينواری

## ژبه قرارداد دی او که څنګه؟

ځنې په پښتوکې ناسم ورځني شوي ويونه چې له چا سره خبرو ته راواچوو اوناسمون ته يې ګوته ونيسو، چې دا نومونه موخه ور نه ده، نو سملاسي اورو، چې ژبه خو قرارداد دی، دا په دې مانا، چې که موږ يو څه ناسم ووايو اودا خلک همداسې ناسم واخلي او ورځني شي، نو هغه د قرارداد له مخې بيا منلي ګڼل کيږي، چې بيانو بايد سم وي.

موږ خو لا تراوسه د ژبسمون له پاره کومه ژمنه ټولنه نه لرو، چې دا کار سرته ورسوي اوکه وي هم، زموږد ژبې د ځوانی له مخې کيدی شي ځنې ناسم ويونه موژبې ته راننوتي وي.

تر هغه ځايه چې زما تجربه ده، موږتراوسه ژبې ته کوم داسې وی نه دې راننباسلی، چې هغه دې د هغه وي غوښتونی خوي ورکړي.

زما تجربه – په ډېره خواشينی بايد ووايم – داسې ده، چې موږ په ژبه کې يوکره پيژند لرونکي يا پيژندل شوي وی د يوه بل کره پيژندلرونکي وي - چې پيژند يې هم کره روښانه وي - په ځای ناسم ځای په ځای کوو. دا نو قرار داد نه شي کيدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ دې موضوع ته داسې خپل پام رااړوو:

لومړی:

.

................... ۵ ................

هغه ویونه چې له پیداښته نوروژبو کې شته نږدې ټول یې موږ هم په خپله ژبه کې لرو، چې موږ یې باید په خپله ژبه کې راپیدا کړی شو او دا کار د مسلک اوپه ژبه پوهیدنې له امله شونی دی.

بیا: دا کار مسلکي کسان، چې د مسلک برسیره په یوه بله دباندنی ژبه هم ښه پوه وي.

که څوک داسې نومونوباندې د پښتو په انډول - د مسلک او ژبې له مخې – نه پوهیږي اودا بیا غواړي په پښتو انډول ونوموي، نو ناسمون ورسره لهپیله مل دی.

موږیې دلته یوه بیلګه راوړو:

د مایع اوبلن بلل. ایا دا به نو هم بیا قرارداد وي او که څنګه؟

یادونه له دې د مخه چې په دې بیلګه روښنایي اچوم، د فزیک له مخې د تنونو نومونه لنډ اخلم، چې په درې ټولګیو وېشل شوي، بې له زیاتې شننې:

۱ – د کلک تنونوټولګی، چې زرې یې یود بل څخه پخپله نه بیلیږي.

۲ - د تښتیدونکو تنونو یا غازونو ټولګی، چې څنګه ازاد شي یوې اوبلې لورته ځغلي.

۳ – د بهیدونکو تنونو ټولګی، چې بهیږي.

زموږژبپوهان، چې د مایع په پښتو انډول - د مسلک له مخې هم – نه پوهیدل، دا یې اوبلن وبلل، چې پوره ناسم اود مسلک څخه لرې دی.

اوبلن څه پیژند لري؟

ګوروچې اوبلن ځان ته کره پیژند لري. دا د د دوه هایدروژن اویوه اکسیجن خوي دی، چې لا اوبه هم نه دي او په کلکو بدنونوکې ګډ کیږي.

اوبه واوره کیږي، چې کلک بدن یا تن دي، دا واوره بیا اوبلنه کیږي، چې نرمیږي،خولا تراوسه کلکه ده اواوبه شوې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د دې تودوخې نوره هم جګه شي، نو دا اوبلنه واوره بیا اوبه کیږي.

.دې ته دې د ګرانو لوستونکو پوره پام وي، چې دا یواځې او یواځې د اوبو خوي دئ او د

:

............. ۶ .................

تنونو د کوم ټولګي خوي نه دئ، دا په دې مانا، چې شړومبې یا شیدې نه اوبلنیږي او نه کوم غاز یا ټېنتیدونکی اوبلنیږي. دا په دې مانا، چې اوبلن غازنه شته.

لنډ: ټول هغه تنونه چې بهیږي بهیدونکي تنونه دي او نه اوبلن. دا بهیدنه یې ګډ خوي دئ.

دا نوقرارداد نه دئ، چې نوم د بل نوم ځایناستی کیږي او ان د یوه ټولګي تر نوم پورې.

د پیداښتي نومونویا ویونویوه بله بیلګه: سلم ته سلن ویل هم ناسم دئ، دا د ځنو کسانو د یوه ناسمې مینې په بنسټ همداسې بې له پرې پوهیدنې او کوم دلیله منځ ته راوړل شوي.

دا هم کوم قرارداد نه دئ او نه قرارداد کیدی شي.

دویم:

ځنې داسې نومونې لرو، چې د هغې له پاره له پیداښته سم نوم، د نورو ژبوپه مرسته لرودی شو، خو دا چې زموږ د ژبې سمه وده له څه باندې شپیته کاله را په دې خوا ده، چې له دې امله ځنې ناسمونونه په کې راغلي، چې اوس ښه بریښي، خو د ناسمو نومه ونو په ډله کې باید راشي.

بیلګه ۱ :

روغتون ته په ټولو ژبوکې د پښتو انډول ناروغتون یا رغنتون یا رغنځی ویل کیږي، چې له خوي او ژبې له مخې یې همدا سمه نومه ونه هم ده.

دا هم قرارداد نه دئ، خو دا چې موږ ډېر یا له سره داسې بللی، اوس یې بله نومه ونه راته پردئ بریښي.

بیلګه ۲ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کورنيوچارو وزارت، چې بايد د دننيو چارو وزارت بلل شوی وي، خومورډاسي بللی.
د کورنيوچارو وزارت هم بايد ولرو، چې د کورنيو چارو سره سر اوکار لري.

يادونه: په دې ناسمونو کې دليل نه شي ويل کيدی، چې دا روحياتو له امله ښه يا بد بريښي، په ژبه کې هر څه شته، چې ځنې به په ځنو کسانوښه او په ځنو بد اغيز لري.

دا هم د قرارداد سره سر اوکار نه لري.

................. ۷ ............................

دويم:

هغه نومونه چې د انساني ټولنې د ودې سره د پرتلې له امله منځه ته راغلي:

زه يې دلته يادونه کوم. زما په بله د مخه تيرې ليکنه کې شته اويوائې نومونه يې اخلم، کره پيژند لري او پر ځای يې د يوه بل کره پيژند وی تاسم کارول کيږي.

بيلکه:

ستاندارد، سطحې، سويې، ... ته کچه ويل پوره ناسم دي.

زموږ په ژبه کې خودا ټول ناسم بلل شوي ويونه د يوه کس د شپې د چرت څخه راوتلي او سهار بيا دا نورو کسانوراخستلي او ټوليز شوي.

د ژبو د اسانتياو له پاره د نورو ژبو پوهان هم د ليک ښه بدلون اونورونوښتونو له باره کار کوي.

دا څو کاله دمخه د المان دولت له خوا پنځه ميلیارده يورو وټاکل شو، ځنې بدلونونه په ژبه کې راغلل، چې د نوې ښې ليکنو له پاره پنځه کاله وخت ورکړشوی وو، چې په ښوونځيو او نورو دفترونو کې دا نوې ښه ورځنۍ شي. په دې کې ورسره سوېس اتريش او ليښتنشتاين هم ګډ وو.

ز ه يې يوه بيلګه راوړم:

پخوا دوي فيل Elephant ليکه او اوس يې Elefant ليکي.

که ګران لوستونکي مرسته کوي او د قرارداد په توګه سم نومونه غوره شوي وي، هيله ده، چې ويې ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ ستونځې په ټولو پوهنوکې.

په هره پوهنه کې موږ دباندنیو ژبو ته اړتیا لرو او له هغو څخه زده کړه هم کوو. موږ په ژبه کې د ودې له پاره هم کوم داسې نوموتي ادبیات نه لرو او هغه څوک چې په ژبه کې

.

............ ۸ ............

لوړې زده کړې کړي او کوي یې ، هغوي هم په د دباندنیوهیوادونوکې دا کار یعنې زدکړې کړی، چې دا حال موپه ژبه کې هم دی.

ډېرو پښتنو او سترو پښتنو په پښتو ژبه کې هم پوره لیکنې کړي، خو دا د نورو ژبو سره د پرتله کیدو نه دي. که تاسووغواړئ د بیلګې په توګه د پرېپوزېشنونو له پاره څه وګورئ، دا ګوګل ته ورکړئ، نو په لسګونو لیکنې به په دې هکله شوې وي.

ما په شمیرپوهنه کې نږدې پنځه ډېرش کتابونه ژباړلي او لیکلي، خو دا په شمیر پوهنه کې ډېره وړه برخه ده او د پوهنیزو څیړنوله پاره خو په پوښتنه کې نه راځي، یواځې هغه لومړنۍ زده کړې ترې شونې دي یعنې د پوهنتون تر سویې پورې، چې هغه غوره یې پسې څېړنې دي، همداسې مو ټولې پوهنې.

## په پیداېښتي پوهنو کې وده

په پوهنوکې او په ځانګړې توګه پیداېښتي پوهنو کې - چې زه ژبه هم یوه له پیداېښته پیدا پوهنه، ځکه بولم، چې له پیداېښته راسره ده اوله پیداېښته د اړتیاوو په بنسټ منځ ته راغلې - هره وده د نوښتونو او د نوو پرې ابادولو پوهنیزو کړنو او کارونو په بنسټ سره منځ ته راځي.

یعنې پرمختک یا وده او نوښتونه.

دا پرمختګ او پسې راتلنه یې نوښتونه څنګه منځ ته راځي؟

دا د نړۍ تر دې ځایه ټوله وده په نوښتونو اباده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وده داسې منځ ته راځي، چې د اړتیاوله مخې د اړونده ریښې پوهان د دې اړتیاو په هکله څیړنې کوي، چې دا ټولې څیړنې په دمخه تیرو او د اړونده پوهنوپه لاروا‌و قوانینوابادې وي، چې د دې څیړنو لاس ته راوړنې بیا د ټولنې د پرمختګ له پاره کارولکیږي. دا څیړنې نوپه رښتیا ډېر ې پیچلې پروسه ده اود یوه اړتیا سره سمې موضوع په هکله کیدی شي په لسګونه ، که نه سلګونه کتابونه وکتل شي، وارزول شي، ټولې موخې ته رسیدونکې لارې او قوانین وکتل شي، چې اړونده لاس ته راوړنه ترې راووېستل شي.

.............. ۹ ............

هغه څه، چې ورته په کلکه ګوته نیسم، هغه دا ده، چې هیڅ یو څه په پوهنوکې د کسانویا نوره هم ښه، دپوهانو د خوښې کارنه دئ، یعني دا چې په شمیرپوهنه کې دوه زیات درې برابر پنځه کیږي، نو دا څوک په خپله خوښه شپږ کولی نه شي.

ډېره بخښنه، چې داسې یوه بیلګه راوړم، خووبه ګورو، چې ورته اړیم.

# زما موخه د دې څیړنې یا لیکنې سره پښتوژبه ده:

زه په پښتوژبه کې ډېرد نوښتونو پلوی یم، خو هغه باید د ژبې لار( قوانینو) اوسم اند په بنسټ وي. په ژبه کې نوښت د چا د خوښې کار نه دئ.

نوښتونه په څه کې غواړو؟

ډېر زموږ پښتانه په دې اند دي، چې ژبه موسوچه شي.

ژبه یا ژبو کې څنګه ویونه لرو؟

زما په اند ټولې ژبې سره غبرګې پیدا دي، چې په لاندې ډول یې را لنډوم:

۱ ــ هغه ویونه یانومونه، چې د هغه څه منځ ته راوړل د کسانوکار وي اودا بیا د هغوي د نومونو پسې نومول شوي. دا نومونه لکه الځهایمر( الزایمر)، څلزیوس، سادیست او نور، همداسې نومول کیږي اوپه بله ژبه کې هم همدا دي.

۲ ــ هغه څه چې د یو څه د ودې یا پرتلونې په بنسټ منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې جملې څخه به ستاندارد راوړم، چې عربي يې معياردی. د دې له پاره هم په پښتو کې انډول نه لرو او له دې امله به يې همداسې ستاندارد يا معيار بولو.

۳ – د ژبو پيداېښتي ويونه.

داسې ويونه د انسانانو د اړتياوسره منځ ته راغلي، په پيداېښتي ډول. دا ويونه په ټولوژبوکې انډول لري، د ډېرو لږو ځانګړنو سره.

په دې هکله زياته ليکنه نه کوم. دا خبرې ما په خپل کتاب کې چې په کتابتون.کوم کې شته کتل کيدی شي.

................. ۱۰ ..............

## زما سوال او هيله

هيله ده چې د يوې بلې ژبې وی له پاره چې په مانا يې نه پوهيږي د پښتو وی مه ليکی، دا همغه په دباندنۍ ژبه وبولۍ.

دا د چا يا زموږ د خوښې کار نه دی او دا هم سمه نه ده، چې ژبه د قرارداد خبره ده. اوس ژبه لرواوداسې څه هم نه شته، چې موږ يې په هکله قراردادوکړو. له دې امله دا ژبه نوره هم تخريبيږي، که پرته له پوره پوهنې ګوتې په کې ووهو.

لکه:

لومړی:د ستاندارد يا معيار، سطحې، سويې او ...له پاره کچه مه کاروي.

دا داسې برېښي، چې ګوندې موږ په کچه هم نه پوهيږو او ستاندارد ا، ...هم نه پوهيږو.

دويم: د مايع له پاره چې وی ګوری، نونورې ژبې هم وګوری، که په عربي ښه نه پوهيږي اويا د يوه کس څخه وپوښتی، چې په عربي پوهيږي. د خوي له مخې مايع د شيانويوه ټولګي ته وايي، چې بهيږي او نه اوبلنيږي.اوبلن لا اوبه نه دي، هغه لا تراوسه واوره ده.

هيله ده چې په پښتو د يوه لرودي څه له پاره يو بل لرودی، چې موخه يې بله وي، مه کاروي.

لکه غبرګون، چې د هغې له پاره اړوند د کاروني وړ مناسب ويونه شته. تاسو هغوغونډالو ته وګوری، وبه وينی، چې بل د همغه څه له پاره په کار وی شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيله ده چي په پښتوکي لرلی او سم څه بل ډول مه بولی او مه يي تخريبوئ.

دېرش سلمه چې څوک يې دېرش سلنه بولي، تخريب اوتيری دئ.

## ژبه سوچه کيدنه.

زموږ پښتنوليکوالواو ژبپوهانو کي دا دري موضوعګاني په ډېره مينه د ليکنو اوويلو سرتکي ګرځيدلي، چې غواړم ز ه يي همدا اوس د خبروله پاره رامنځ ته کړم.

............ ۱۱ ..............

لومړی: ژبه سوچه کيدنه ( کونه).

دويم: ژبه معياري کيدنه(کونه).

دريم: ژبه پوهنيزه کيدنه ( کونه).

لومړي ته: ژبه سوچه کونه يا کيدنه.

دنړئ ژبې چې منځ ته راغلي، ټولې د اړتياوپه بنسټ دي. غبرګې منځ ته راغلي اوله دې امله ټولې ژبې سوچه دي او د هرې ژبې وی په بلې ژبې کې انډول وی لري.

د ژبې سوچه کيدني څخه به موخه دا وي، چې ګوندې موږ ټولې ليکنې بايد په پښتو وکړی شو. دا کيدی شي، ځکه چې زموږد پښتو منځپانګه – لکه د بلې هرې ژبې هم- له پيداښته پوره ده.

## د ژبې سوچه کيده نو څه دي؟

دا نور بل څه نه دې پرته له دې، چې ټولې پوهنې بايد په پښتو وليکلی شو، دا په دې مانا چې ژبه بايد پوهنيزه شي.

ژبه په هغه وخت کې پوهنيزه ده، چې داسې لږ تر لږه دا لومړنيو ستونځو ته اوبی (ستونځوبی ) پيداشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: ګومان مې دی، چې زموږزیات کسان به د لومړي ځل له پاره د ،،ستونځوبي،، سره مخامخ شوي وي او دا د مشکلاتو- یا ستونځو حل، له پاره موږ نه پیدا کوو، یعني ما هم نه دی پیدا کړی، زما ورته پام شوی، چې دا مو په ژبه کې شته.

لکه: ملګوبی، ګوړوبی، خړوبی او نور

موږ په پښتوکې – دا باید په ډېره خواشینی سره ووایم- چې د هغه ساده اړتیاوله پاره هم پوره مسلکې کسان نه لرو، موږ ان له هغه پیلیزو پوهنو سره له پیله په پښتو څه نه لرو، موږ ان دا د ښوونځي پوهنې مو

.............. ۱۲ ...........ړ

لومړی: په پښتو نه دي او

دویم: موږ چې د ښوونځي له پاره څه لیکلي هغه هم ناسم دي او دا ناسمې مو هم لا تر اوسه نه دي سمې کړې .

ما د شمیرپوهنې یو کتاب لیکلی، چې Ketabton.com کې خپور دی اوله اوم تر۱۲ –م ټولګې پورې مود هر کتاب څخه یوه یوه برخه څیړلې، چې له څومره ناسمونونو ډکه ده. متأسفانه، چې ټول د شمیرپوهنې یا ریاضي کتابونه – چې ما لوستلي - همداسې ناسم دي. موږ په نورو برخو کې هم پوره ستونځې لرو.

## په پښتو کې څیړنې څنګه شونې دي؟

زموږ ژبپوهانو، چې په پښتوکې یې تراوسه ماستري یا داکتري لروده یا لري او یا یې له دې وروسته لاسته راوړي، دا یې هم له نورو ژبو څخه لاس ته راوړي، دا په دې مانا چې دپښتو د اکادمیکزده کړوله پاره هم د نورو ژبو څخه ګټه پ،رته کوو او او س هم په خپل هیواد کې ورته د جګو زده کړو ادبیات نه لرو. نو زما په اند که څوک غواړي، په پښتو کې – لکه څنګه په نورو ریښوکې هم- څیړنې وکړي یا لوړې زده کړې، نو اړیین دی، چې یوه پر مخ تللې دباندنی ژبه ښه زده کړي، که په دباندې کې د زده کړې شونتیا نه وي، نوداهڅې دې په کوردننه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ځنګه موچي هيواد وروسته پاتي دی، همداسي مو په ورته ډول ژبه هم وروسته پاتي ده، چي له نږدې شپيته کاله د مخه داسي لړه رسمي سوې( په قانون کي پوره، خو قانون ته ځوک ګوري)، نوکه هر پښتون غواړي څه وليکي ډېر ښه به وي.

نه ! ډېر اړيين به وي، چي يوه پرمختللي ژبه، چي له ټولو يې انګرېزي ښه ده او پسي روسي، فرانسوي او الماني، زده وي او د خپلې ژبې لپاره ترې کار واخلي.

دا په دې مانا، چي د نصاب له پاره د ښوونځي اوپوهنتون کتابونه سيده له انګريزي او يا دې نورو پرمختللو ژبو را وژباړي، خوهغه ژباړې بايد په مسلک اوپه دواړو ژبو ښه واک ولري.

.

................. ۱۳ ...............

# نومونې ( نومه ونې)

نومونه او په ټوليزه توګه – زما په اند- ژبه ځنګه منځ ته راغلي؟

يادونه:

ما نومونه ليکلي، خوموخه دې د ژبې ويونه وي، که دا نومونه، کړنې يا فعلونه، نومځاينيوي او يا نور څه وي.

ځنې شيان د هغو د خويونوله لارې راته روښانه کيږي.

موږ ته پوهنه په پښتوکونه ډېره ستونځمنه په دې ده، چي دا پښتو نومونه او ويونه راته ورځني نه دي، لږ ترلږه په پوهنو کې. ځنو پوهنوکي خو نه دا چي دا نومونه ورځني نه دي، په هغې پوهيدل هم ستونځمن دي. زه کله کله، چي د الماني څخه کوم نوم په پښتو ژباړم يا پښتو کوم يا يې نوره هم ښه په پښتوکې يې انډول پيداکوم، چي پرې پوهيدنه راته ستونځمنه وي، بيا يې انګريزي ګورم اوبيا يې د عربي سره هم پرتله کوم، ګورم، چي دا ځنګه وبلل شي يا يې نوره هم ښه انډول يې څه دی. نه چي دا ځنګه وبلل شي، بلکي چي دا ځنګه يا کوم نوم يا وی دی، داسي نومونې(ښه به يې داسي نومه ونې ) په تخنيک کي ډېرې مخ ته راځي، ځکه چي د نوروپوهنو د ژبې په ځنګ کي په تخنيک کي هم ستونځې لرو.

لنډ: د ژبې ستونځې او مسلکي ستونځې لرو، چي د شيانو پښتو بلل راته ستونځمن کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نومونو اوویونو له لارې یو شی یا د شیانوډله یا ښه یې ټولګی یواځني ټاکل کیږي، نه داسې نه ده، یواځنی ټاکلی دی اودا ټاکنه زیات وخت د شیانو د خویونوپه بنسټ سرته رسیږي.

مورږدلته د بیلګې په توګه نومونه ترڅیړنې لاندې نیسو.

## مورږ درې ډوله نومونه اوویونه لرو:

یو: هغه ویونه او نومونه چې له پیداښت څخه راسره مل دي.

دوه :



الف: هغه نومونه اوویونه، چې د هغه څه له پاره منځ ته راغلي، چې د هغو د منځ ته راوړونکو نومونوباندې یادیږي، یایې ورته دځانګړي خوي څخه منځ ته راوړل شوي.

ب : هغه نومونه اوویونه، چې د شیانود میندلو له لارې منځ ته راغلي.

درې: هغه نومونه یا ویونه چې د پوهنې د ودې سره منځ ته راغلي.

## و یو ته:

دا پیداښتي نومونه اوویونه په هره بله ژبه کې خپل اندول په پښتو کې هم لري او باید مورږیې ورته پیدا نه کړو. دا مورږ یې په لاندې ډول لږ روښانه کوو:

الف: ټولګیزنومونه اود ټولګیز ویونو له لارې نومه ونې:

۱ – ټولګیز نومونه، چې د ګډو خویونو په بنسټ وي:

لکه انسان، نبات اوداسې نور اویا همدسې تو، سوږ،برګ او نور، دا ډول نومونه او ویونه هره ژبه لري، که په کومه ژبه کې ستونځې ورسره وي، نو د نوروژبوپه مرسته یې د خوي له مخې نومونه پیداکولی شي.

۲ – ټولګیزنومونه، چې د تودوخې درجې اړوند د ګډو خویونو له مخې چې د شیانو ګډ حالت د ځنو خانګړو شرایطو سره په ګوته کوي یا لنډ: د شیانوفزیکي حالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا شیان په درې ټولګیو وېشل کیږي:

اول: کلک . یعني د کلکو شیانوټولګی، چې زرې یې سره کلکې نښتې وي، لکه تیږه، یخ،واوره ، که اوبلنه هم وي.

دویم – بهیدوني ( د هغوتنونوټولګی، چې بهیږي یا یې زرې کلکې سره نه وي نښتي) یا بهیدونکي ( دا نوم زموږادیبانوتخریب کړی او اوبلن یې بولې، چې دا د دې ټولګي د یوه شي ( اوبه) خوی دی( او هغه هم اوبه نه دي))، لکه اوبه، شیدې ...

دا ولې؟

ځکه چې زموږ د دې ناسم نوم اینوونکي او ناسم وي بلل کووني( که بلونکي؟؟).

لومړی ۱: د دې شیانود ټولګیو په فزیکي خوي نه پوهیدل او

................... ۱۵ .................

دویم ۱:همداسې دوي نه شوکولی، چې دانومونه له نوروژبو راواخلي، هلته دا پوره روښانه دي اوهرڅوک پرې پوهیدلی شي.

دریم – تښتیدوني (بخار،غاز ونه او غازډوله):

د دې لپاره چې خبرې اوږدې نه شي، داسې یې را لنډوو:

یو ته: هغه څه چې له پیداښته ورسره بلد یویا باید بلد وو، هغه په ټولو ژبو کې شته، ځانګړنې به یې ډېرې کمې وي.

د دې شننه ډېر وخت غواړي اوڅوک ورته سره سینه هم نه شي لرودی، چې ویې لولي، نو دلته به اوس په همدې بسیا وکړو، دویم اودریم ته به راشو:

دوه اوهمداسې درې ته: غزوم یې نه لنډ: داسې نومونه په ټولو ژبوکې همغه دي اوڅوکورته بل څه نه شي ویلی.

دریم ته: دا د هغو تنونوټولګه ده، چې زرې یې یوله بله تښتي، لکه د بویولوتنونه یا بخار، غاز او ....

دا نومونه د شیانود ټولګیو د پیژند له مخې منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبه معیاري کونه

معیاري ژبه نوڅه؟

معیاري ژبه باید د کلیوالي ژبې سره توپیرولري، ژبه باید خپل ګرامر ولري اووی کتابونه اود اړتیاوله پاره په معیاري ژبه یا لوړه ژبه اویا اکادمیک ژبه د لوستلو اومرسته اخستلوله پاره پوره پانګه ولري

تراوسه چې په پښتو ژبه کې څه شوي، دا ځانله یا یو یوکس کړي اودا هرومرو ستر کار، خو ډېر کم دي.

لنډ ورځنۍ ژبه یا کلیوالي ژبه، چې په هغه ژبه چاپیریال کې، د ټولوینژبې سره په ویلو او لیکلو توپیر لري او لوړه یا معیاري ژبه هغه وي، چې د هغې ژبې ټول ویونکي پرې لیکنه اولوستنه کوي.



دانو په څه مانا؟

دا په دې مانا، چې د ختیز، سهیلي او لودیز افغانستان خلک په خپلو کلیوالي ژبو غږیږي، چې سره تو پیر لري، خو معیاري ژبه دا ده، چې ټول یو ډول لیکل پرې کوي.

لنډ: معیاري ژبه د هغې ژبې د خلکود پوهې لاس ته راوړنواړتیاوې پوره کوي.

دریم ته: پوهنیزه ژبه هغه ده، چې د اړتیا ټولې پوهنې لکه د مخه موګوته ورته ونیوله پوره کړي. دا داسې بریښي، چې دژبې سوچه کونه اود ژبې معیاري کونه په خته کې د ژبې پوهنیزه کیدنه ده.

پام:

د ژبې معیاري کیدنه یا کونه باید په دې موخه نه وي، چې یوخیالي – بې له کوم ژبني او سم اندیزدلیل- څه ژبې ته ورواچوو، چې ګوندې یوڅه خووشو.

لکه:

،، غني د ترمپ د خبرو په غبرګون کې وویل،، یا ،، ....غبرګون وښوده،،. نه پوهیږم، چې ،، په غبرګون کې وویل،، کې به د لیکونکي موخه څه وي، خوماته څه نه وایي. دا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور کسان ووايي، چې دا يا هغه يا دغه موخه لري. دا چې موخه يې که هرڅه وي، خودا يوه سمه وينا نه ده، چې څوک ترې څه پوه شي.

داچې ژبې سره غبرګې دي اود يوې ژبې اړول په بله ژبه اوس ـ زموږ له پاره – اړتيا ده، بايد دا خپلې ژبې انډول په بله ژبه هم په همغه انډول واړولی شو، چې دا مو نو د دې ،، غبرګون،، سره وران کړ.

که د غبرګون په ځای ،، ګړنګون،، هم وليکو همدا يوډول به ترې پوه شو. نو اوس بايد و اندو، چې موخه به څه يې وي.

وايو: غنې د ترمپ د خبرو په هکله يا مخامخ، او يا په پلوی څه وويل يا غنې د ترمپ د خبرو په هکله خپل اندڅرګند کړ.

## دا نوښنګه کيږي؟

.................... ۱۷ ...................

دا داسې کيږي، چې د ښونځي څخه نيولې تر پوهنتون اوله دې وراخوا د هغې ټولنې اړتياوې پوره کړي، دا په دې مانا، چې ته پوهنيزې څيړنې هم بايد په خپله ژبه وکړی شې.

موږ لا تراوسه دې ستر کار ته پوره هلې ځلې کول مخ ته لرو، خودا کار د حکومت دی او په ځانله يا يو څو کسانوسرته نه شي رسيدلی

زه دا ليکنه دلته رالنډوم اود نورخبرو له پاره نوراړينې ليکنې هم شته، چې بايد خبرې سره په وکړو، هيله ده چې د تاند درنه پاڼه يا خپرونه به په دې لار کې مرسته وکړي، چې ددرناوي وړ.

لاس ته راوړنه: پښتو سوچه کونه، ـ معياري کونه او – پوهنيزه کونه همغه پښتو پوهنيزه کونه ده.

ايا دا کار شونی دی؟

پښتو ژبه د نوروژبوپه څير پوهنيزه کيدی شي، چې پای کې يوائې دوه بيلګې د شميرپوهنې اوفزيک څخه راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شمیرپوهنې یا نوره هم ښه له ځمککچپوهنې څخه:

کره، قوس، قطر، وتر، قطعه، قطاع، سطحه، محیط

پښتو یې ( خو ورپورې خاندئ مه، دا همداسې دي، که زموږزړه غواړي اوکه نه):

ګردئ،لینده، نیمی، ټوټه ونې، ټوټه، برخه، هواره، چاپیریال.

له فزیک څخه:

یادونه: دا پښتو نومول یې اړیین دې اوکه نه؟

په اړیینوالي نه غږیږم. موخه دا ده، چې په پښتوکې ورته انډول لرواوکه نه.

لومړی: (برېښنا) ترونی

په کوټوکې چې برېښنا څراغ روښانه کوو، نو انګرېزي ورته سویچ Switch په الماني ورته Schalter وایي، وهو یا کیکاږو. که دا په پښتوکوو یا نوره هم ښه، په پښتوورته

................... ۱۸ ................

انډول لټوو، نو لومړی باید وپوهیږو، چې دا د فزیک له مخې څه دنده لري، د دې نوروژبو موخه به همدا وي اوکه څنګه؟

د فزیک له مخې دا هغه اله ده، چې دوه سیمونه (( برېښنا) وړونې) سره تړي او یا د مړکیدو وخت کې یې سره بیرته بیلوي. پوښتنه دا ده، چې دا که موږ د سویچ په ځای ،،ترونی،، وبولو، نو موخه ور به نه وي؟

د پورته انګرېزي او الماني ژبو ویونو له پاره انډول همدا ،،ترونې،، دئ.

دا چې داسې بلل یې ښه کار دئ او که نه یا په داسې بلنوسره هم انده یوکه نه، په دې باندې خبرې نه کړو، خو دا همداسې دئ، دا ترونی دئ اونه بل څه.

# ناسم ویونه څنګه پیژنو؟

یوه د مخه راوړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکني زموږ د ټولودرنو ليکوالانوسره په مخامخوالي کې دي، خو زه زه پوهيږم، چې زما لپ
.د دې روښانولوله پاره اړيين ګڼم، چې دا خپل اند له تاسوسره ګډ کړم

.بيا هم که دا د داسې څه ليکونکي ما باوري کړي، خو دا هم يوه ښوونه ده اوزما زده کړه

الي له امله دي، نه ياغي يم اونه يې زه تاسوته لوړه کوم، چې زما ليکنې نه د چا د مخامخو
زما ليکنې يواځې اويواځې د لا نورو .خوي لرم اونه د ځانښووني له امله دي
.روښانه ونو له امله دي

زه د خپلومشرانو په ځانګړې توګه د ژبپوهانومشرانو ډېردرناوی ځکه کوم او لرم، چې
تلې او ژوندۍ به يې همدا دوي دي، چې دا پښتو يې را ژوندۍ کړی، ژوندۍ سا
دا د دوي برکت دئ اود هلوځلولاسته راوړنه ده، چې اوس دا ژبه د .ساتې
.ورکيدو کندې ته نه شي لويدلی

.

.................... ۱۹ .....................

اسمونونو له امله تر اوسه مې چې د تاند په درنه خپرونه کې څه خپاره شو،هغه زموږ د ن
وو، هيله ده، چې په دې لار کې به زما ليکنې داسې لږ څه دې ناسمونونو ته ستاسو پام را
.اړولې وې

دا ما .په يوه پوهنه کې چې يوڅوک څومره وروننوځي، پوهيږي، چې څومره نه پوهيږي
ر په دې پوهيږم، چې ژبه څومره ستونځمنه ده، خو چې خپله په يو څه کا .هم حس کړه
.وکړې هلته د داسې يوبل څه سره مخامخ کيږي، چې په هغې هم بايد کاروشي

زه پوهيږم، چې په ډېرو موضوعاتو به ډېرو ژبپوهانوکارکړی وي، خودا چې زه نه
پوهيږم، زه ملامت يم او دا چې زه هم بيا څه په ليکم، نو دا بيا سم کارځکه بولم، چې
.سګونه کسان کار کوي اودا هم ښاينه دهګورو په يوه موضوع په سلګونه که نه لـ

يې روښانه کړو، نو پوره دلايل ونه‌ويونو باندې خبرې کوو او غواړو دا ناسمون ناسمو که
بايد راوړو او وښايو، نور هم ښه ِيو يا څوغوره پوهنيز لاملونه يا دلايل ،يا غوره دليل
چې

او پوهنيز -سم انديز – يد غوره‌په همدې ډول که بيا دا څوک ردوي هم با .دا ناسم دئ
.دليلونه رواړل شي

.او يا که د اړونده وی خونديونه د وی د خوي سره مخامخ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکنې په دننه کې کتل کېدی شي؟

کوم دلیلونه کیدی شي؟ دا نو

دا ځکه په پیل کې راوړم، چې موږ ورسره د ستېه او له پوره وخته بلد بېلګه يې روغتون
.ه سملاسي پوهیږو، چې دا روعتون موږ د روغانو ځای بللی‌د دې وی څخ .یو

.ناروغتون، رغنځی، یا رغنتون :نو دا چې موخه مو د ناروغان ځای دی بیا دا بللی شو
.شوی رانیول فارسي څخه ځني بیا وایو، چې دا له

.نه داسې نه ده

ي ، ځکه ژبې د شته او باید و کې په هره پیداښتي ژبه کې چې یو وی وي، هغه په پښتو
اړتیا په بنسټ، د پیداښنتي لارو سره منځ ته راغلي او دا هره ژبه، پښتو هم او اړتیا مو
.سره همغه دي

کوم دلیلونه نه دي؟

.

...................... ۲۰ ....................

کې دي؟ مخامخوالي کوم دلیلونه د ژبلار سره په ټکر یا

## ناسم ویونه څنګه پیژنو؟ و، چېاوس راځ

چې په ناسم څه وپوهیږو، دا په ژبه کې داسي ،دی دا کار په پیداښتي پوهنو کې لږ ساده
.لږڅه ستونځمن کار دی، خوسره له دې هم په ژبه کې د ژبلار په بنسټ لارې شته

لارو داسي ویونه، چې د پیداښت په اوږدو کې یې د پیداښنتي :پیداښنتي ویونه :لومړی
سره سم لرو، بیا کله کله زموږ ځني لیکونکي د خپل خیال په بنست د هغو له ډلې ځني
لکه موږ اوتاسي په ګڼونو کې د لرلې څخه په .ویونه راباسي او په بل ډول یې نوموي
په دې هکله ).څنګ کیږولکه چې دېرش سلمې ته دېرش سلنه وایاودا پخپله بې لارې ده
(مې لیکنه شته

:دویم

:یوکره پیژند لرونکی وي د بل کره پیژندلرونکي وي په ځای ایښوونه ناسمه راځي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې عربي ،که د یوه څه له پاره په پیداښتي توکه په نامه نه پوهیږو، لکه د مایع له پاره
نود خپلي ناپوهۍ په بنسټ بیا د دې له پار یود بل څه له پار ټاکلی کره پیژند لرونکی ،دئ
ټاکو، چې دا بیا هرومروناسم باید وي، لکه د مایع له پاره چې انډول پښتویې نوم یا وی
په دې ).بللی اوبلن او زموږ ژبپوهان دا ډېر او خورا او دلارې وتلی ناسم بهیدونکی دئ
(هکله مې لیکنه شته

اویا موږ کچه، چې ځانګړی پیژند لري ، بې ځایه اوبې له کومې ژبلارې د هوارې، معیار
دا پردي ویونه دي او په .نوروله پاره کاروو، چې دا ټول هم پوره ټاکلي پیژندونه لري او
.پښتو کیدی نه شي

نوپه داسې ویونو، چې انډول ورته په پښتونه لروڅه وکړو؟

.دې ډول ویونو ته همهغه د د باندني ژبې وی کاروو، که عربي وی وي،خونوره هم ښه

:دریم

............. ۲۱ ............

:نه لرلي نومونه بیا د خوي له مخې نوموو کې ځنې په پښتو

ځني څه یا د شیانو نومونه، چې موږپه پښتوکې نه لرو یا نه لروده، هغه د هغه څه له خوي
د .چې دا کار د نورو ژبو ویونکي هم کوي ،څخه پیژنو، اود خوي له مخې نوموو
په توګه هغه ځای چې موږ هلته لمونځ کوو، لمنځتون بللی شو یا په هغه بیلګې
دا نوم ورته د لویې پکتیا په )مړي خښیږي مړستون بللی شو چې کې ونوځای
تاسونه راته برګیږي، نووبه وایم، چې روغتون مو که خو ،(ځنو ځایونو کې اخلي
به سم نومول شوی رغنځۍ، رغنتون اوهمداسې ناروغتون بللی وی، د خوي سره
.د هیڅ سمون له پاره نا وخته نه شته ،وی

:څلورم

موږ خپله غوښتنه څنګه ښوولی شو، چې سمه ده؟

.دا د غوښتني ښوونه نه ده، چې دا ګوندي دې اوهغوعلماوو لیکلي اوویلي، نوسمه ده ---

.یا دا چې له دې ستونځوسره مخامخ یو، نو باید دا لار وټاکو ----

ځم د دې ،، ی،، غبرګوني ؟ یا پنځمي ،، ئ،، ته‌را

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دلته د دې له پاره يوه لنډه يادونه کوم اوبيرته تاسو درانه همهغې خپلې پخوانۍ ليکنې ته رابولم، چې ويې ګورئ، هلته داسې نورد ويلوڅه نه دي پاتې شوي اوزما دلايل .هم په سم انديزدليل ژبلارې نه دي رد شوي

.له ليکنه ، چې ،، ئ،، ربښتيا تپل شوې کتلی شیپه دې هکله مې ب

## .د شميرپوهنې څو ساده روښانه ونې، چې پرې پوهيږو

شميرپوهنه د څه سره سر او کار لري؟ :هر څه ډېر لنډ

.د شميرپوهنې له لارې د شيانو څووالی او څومره ګڼل او شميرل کيږي

دا نو څنګه؟ ايا ګڼل او شميرل سره بيل دي؟

.................. ۲۲ ...................

.دا په ټول ژبو کې همداسې ده، خو موږ ورسره لا بلد نه يو

که په .ګڼلو د يوه څه څو والی پيدا کوو:لومړی هغه چې پوښتنه يې څو او څومره ده .(پاره ساتلی دلته شميرل نه وايو، هغه مو بل څه له )يوتوکرئ منې پرتې وي، نو دا ګڼو لس منې، ما څلورمنه غنم راوړه، يا ما دوه پاوه چای واخسته يا ما نن پنځه ساعته :بېلګې .کار وکړ

په ذکات کې لسم .د ګڼلو په ذکات کې څوم من ذکات دئ :دويم چې پوښتنه يې څوم ده .سپين په ښوونځي کې څوم لمبر شو؟ او داسې نور... کن

ګڼل په څه شي ګيږي؟

.... ل په ګڼونو کيږي، چې هغه په نا عربي ليکدود ژبو کې له کينې وښي لور ته دې‌ګڼ او داسې يې .... ۳ ، ۲ ، ۱ ، ۰ دي يا يا يې له ښي و کينې لور ته ليکو لکه ۰، ۱،۲،۳ .او نور ...درې ،(دوې ) صفر، يو، دوه :لولو

ښي، خو داسې څه د ځنو شمېرنيزو ويونو سره بلدېدل، که څه هم داسې لږ مسلکي برېږ موږ پيداېښتې ګڼونه لرو او نور ګڼونه، که :ناڅه ورسره بلدېدل راته نااړيين نه برېښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځووالی یې غواړو وګڼو، نو  د دې ګڼونو سره پرتله کو یا نوره هم ښه د دې ؛یونو په نظم
.پیداښښتي ګڼونه ګڼلوړ دي او ناپایګڼلوړ دي .کې راولو

نوړ او ناپای ناګڼلوړګڼلوړ او ناګڼلوړ، ناپای ګ

.

.

.

.

.

.

......................... ۲۳ .........................

موږ له دې وروسته په ژبه کې ناسم

.ننباسلو ویونو برخه باندې پیل کوو

ډاکترماخان میړی شینواری

،، ئ ،، په پښتو تېل شوې.

په خواشینی باید ووایم، چې زه په ګرامر، چې  اسم، فعل،صفت یا ستاین نوم اوکه نور څه
شیان دي نه پوهیږم. خو بیا هم ګومان مې دئ، چې په ژبه پوهیږم او د ژبلارې سره سم
پرې لیکنې او خبرې کوم، خو په خواشینی باید ووایم، چې په ژبه کې دې ناسمونومو
وناسمو ویونو ته یواځې زما فکر شوی، ځکه د بل چا لیکنې په دې هکله نه ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم دا له دې امله ليکم، چې خبروته يې راواچوو او ژبه مو له ناسمونو سره مخامخ نه کړو.

راځم خپلې موخې ته او هغه دا ،،ئ ،، ده

دا (ئ) په پښتو تپل شوې،هيله ده، چې ددې د کاروني څخه ځانونه وژغورو.

ولې؟

دا ،، ئ ،، همداسې ويلکيږي، لکه ،، ی ،، نوبيا ولې دا ،، ئ ،،.

ځنې وايي، چې دا يوه د فعل اودا بل د نوم او پرونوم له پاره ده، خود صفت له پاره هم بله په کې نه شته.

دا به ومنو، چې دا دې داسې وي . پوښتنه موداده، چې ايا په دې نورويېگانو کې داسې نه ده؟ ، هغه په اسم، فعل اوصفت کې نه راځي؟

که راځي، نو د هغو له پاره بيا ولې نورې يېگانې نه ليکل کيږي؟

که داسې مخته لاړ شو، نوکومان مې دی، چې موږبه بيا په پښتو کې شل يا څلرويشت يېگانې ولرو.

................ ۲۴ .............

دا تازه په پښتوتپل شوې،،ئ ،، يواځې اويواځې د پښتو ناسمون دی.

وايي چې، تول نوي خواږه دي پرته له مرگه، نو ،، ئ ،، نوې په ژبه راتپل شوې، تل يې کاروو.او چې گورم، دايواځنی يې ده، چې تل يې دا ناسمون سم ليکو.

د توري يا نور هم ښه يې ، د غږ لرونکي توري له لارې نوم او فعل نه ټاکل کيږي. دا ،،ی،، يو غږدی اود هر څه سره راځي اوتر اوسه راتله، خوولې دې بيا د ،، ئ ،، له لارې، چې همهغه د،،ی ،، غږ په ځای يې بې له اړتيا راولو او له دې لارې فعل وټاکو.

موږ په پښتو کې داسې يوه ،، ئ ،، نه لروده، چې له عربي مو پور کړه اوبله په عربي کې هم نه شته، چې د نورو ....له پاره يې راوړو، نو که دا ،، ئ ،، همهغو عربوته پرېږدو په ژبه کې مو نه دا چې کموالی نه راځي، ژبه موله ناسمون څخه ژغوري او که نه، نو د څه سره به مامخ شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د فعل یا کړ يې بدلیږي، نو باید د ټولو پرونومونو له پاره دا کار وشي. نو ددې له پاره ځما وړاندیز به په لاندې توګه وي.

او که نه، نو له ،، ئ ،، هم تیر شی. ژبه هم ګډوډي نه مني.

## وړاندیز:

پرونوم ....... کړ .. پخوانی بیګانې...اوس

ته ............ډوډی....خورې......خورئ

تاسو........... ډوډی..... خوری.....خوری+

هغه،هغوي.. ډوډی.....خوري......خوری+

که ما، موږ ..ډوډی.....خوړی......خوړی=

دا بیا کیدی شي د کړ (کړنې) او پوښتنې اونوروحالتونو له پاره هم نورې ورزیاتې کړي، کیدوني دي.

هیله ده، چې ټول به خبرې پرې وکړو

په شمیرپوهنه کې یوه لار( قانون) ده، چې که یوه لار د

............ ۲۵ ...........

۱ له پاره باورولري او هغه د ن له پاره هم باورولري، نوهغه بیا د د ن + ۱ له پاره باوري او همداسې دا بیا د ټولو پیداښتي ګنونوله پاره باورلري. دا داسې نیمه نیمخوره دی، خو راسره ویې منی.

دلته هم چې یوځه د یوه پرونوم کړ ،،یې،، بدلون له پاره باوري وي، نوهمهغسې لاربیا باید د نورو پرونومونو کړ ،، بیګانو،، له پاره هم باورولري.

په ژبه کې بیا پوښتنغونډالي راځي او نورګرامري څه، نو بیا به د هغوسره څه کوو؟

او که داسې وي، چې د شپږ پرونومونو ځخه د یوه پرونوم کړ له پاره بله ،،ئ ،، په خپله خوښه ټاکی، نو بیا به د دې نور پرونومونو پرته ددې نورو غږلرونکو تورو سره څه کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايا د هغو څخه به هم د  کوم يو له پاره بل ډول غږتوری پيدا کوو؟

که بې لارې يو، خوبايد دا بی لاري پرېږدواو که داسې نه انګيرو، نوبيا دا بايد ټوليزه شي، يعني د ټولو غږ لرونکوسره بايد د کړ له پاره بل غږلرونکی وټاکو اود ټولو شپږ نومځاينيوو او  همداسې د نومونوله پاره، چې دا به بيا موږ له خپلې ژبې پښيمانه کړي.

همداسې: تنباکو کړو کې هم بايد دا کړو له پاره کړؤ وليکو اوداسې نور.

 ژبه مو ملکيت نه دی اودا پيداښتي حالت يې د هرڅه له پاره بسيا کوي اوکه نه نوبيا خو ورته ناسم څه نه ټاکو.

يا تاسو د دې کار دليل وليکی، چې ولې؟

راځی چې په ګډه دا د عربو ،،ئ ،، له پښتوبيرته لرې کړو، ډېرې بيګانې لرو.

په پای کې:  زه له ټولولوستونکو ډېره بخښنه غواړم او ستاسو  هر ډول ځړې ګوتنيونې ته هرکلی وايم.

## د منلي خپيب غلي أه ليکنه

زما په يوې ليکنې،  چې ،، ئ په پښتو ټپل شوې،، درانه او منلي استاد خبيب علي د رد له پاره له دلايلو څخه يو دا دليل راوړی. نور به يې هم درسره ګډ کړم.

..... ..... ۲۶ .........................

منلی استاد خبيب ليکي:

.،، که موږ د ډاکتر صيب ماخان شينواري خبره سمه وبولو او کړواله «ئ» په پښتو ليکدود ټپل شوې وګڼو، نو دا څنګه کېدای شي چې وزير محمد ګل خان مومند يا بل کوم ليکوال دې دومره لوی بدلون په پښتو ليکدود کې راوستی وي او په پښتو ټولنه کې دې هېچا ورسره مخالفت نه وي کړی؟،،

پيل يادونه: ماډېر دلايل راوړي او ډېر  هڅېدلی يم، چې تېروتنه په را څخه ونه شي، خو دلايل مې که څوک نه مني، نو په پوهنيزه دلايلو دې يې رد کړي، نه چې هغه يا  ده ويلي يا ليکلي، نو بايد سم وي او يا چې  د بل چا ورته نه يې پام شوی، نو زمادې هم ورته نه پام کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ مخکښانو دا ژبه سمه کړې ساتلې او په رسمي چوکاټ کې يې منځ ته راوړې، دا يوه ستر کار دی، چې پښتانه يې بايد تل منندوي.

دا چې ما دا،، ئ،، تيلي بللې، نو دايي يو پوهنيز ځواب نه دی، چې هغو يا دوي دا کار کړی، نو اسي دې وي. ناسمونونه هرڅوک کوي او بيا دژبې درسمي دپيل وخت کې او دابهماته هم ټول لوستونکي وبخښي. که دا ماته ناسمه نه برېښي‌دی، نو بيا مې ولې دا ليکنهکوله.

په پورته ،، هغه،، کې يوه روښانه ،،ه،، اوبله پڅه ،،ه،، ده اوکه روښانه اوپڅه درته ښه ن برېښي،هرډول يي،چې بولی. دلته به نوڅه کړو؟

زما اندېښني هم همدا دي، چې نو ولې زما ورته پام شو اويا ولې زه داسي تيرى کوم. دا يوپوهنيز تيرى دی اوله دې امله بايد پوهنيزه جزا وټاکل شي، خو د يوې پوره څېړنې وروسته.

دا نو څنګه وڅيړو؟

موږ خوداسي يوه دولتي اداره نه لرو، چې دا کار سرته ورسوي، دا کيدی شي، چې د ژبپوه اوپه ژبه پوه کسانوله خوا سرته ورسيږي. دا خوماته وړه خبره نه برېښي، ځکه دومره ټينګار په کوم او ګران لوستونکي دې همداسي اند نه وي، چې ګوندې د يوه ليوني او سرسختي يا نانورمال کس سره مخامخ دي. زه تل په جنجالي خبروکي د ځان له پاره په حق قايل نه يم، خو په تاسو مې قانعکول هم راته اړيين برېښي.

......................... ۲۷ ....................

بيا ليکي:

،،بايد ووايو چې په پښتو ژبه کې همدا يوه زورکي واله «ی» په دوو بڼو ليکل کېږي، چې موخه ترې په اصل کې د دوو اوازونو څرګندول دي. د پښتو ژبپوهنې استاد پوهاند زيار صيب يي دا دوه بڼې، يوه نومواله (ی) او بله کړواله (ئ) بولي،،.

،،استاد محمد معصوم هوتک هم يوځای پښتو يې‌ګاني پنځه ګڼلي دي چې ګومان کوم منظور به يي ترې پنځه بڼي وي، نه پنځه يې‌ګانې،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ګوره هم پوهنیز دلایل نه شي کېدی. دا ناسمون دی، چې له هره وخته شوی وي. زما درنښت دي تولو ژبپوهانو ته ي او په تېره بیا له ما مشرانو ته.هغوي زموږژبې تهبطساره ستر کار کړی، چې موږ هغه بایدمخ ته بوزواو په هغو یې اباد کړو

ښاغلی خبیب علي صیب لیکي:

،، که موږ د ډاکتر صیب ماخان شینواري خبره سمه وبولو او کړواله «ئ» په پښتو لیکدود تپل شوې وګڼو، نو دا څنګه کېدای شي چې وزیر محمد ګل خان مومند یا بل کوم لیکوال دې دومره لوی بدلون په پښتو لیکدود کې راوستی وي او په پښتو تولنه کې دې هېڅا ورسره مخالفت نه وي کړی؟،،

په خواشینۍسره باید ووایم، چې زه اوس هم په دې خپل اند کې ځانله یم، خو دا دی زما یاغیتوب ونه ګڼل شي، دا دې د یوه زاړه زده کوونکي، پوښتنوځواب وي، چې زما له تاسو هیله ده.

ښوونه نو څه شی دی؟

په پیداښتي پوهنو کې د ښووني لارې اود یوڅه یا د غوښتنو ښوونه روښانه ده، خودا په ژبه کې هم روښانه ده او که څنګه؟

هو!په ژبه کې موږ ژبلارښود لرو اود هغې له مخې هر څه راته روښانه راپېژندلشوي دي. د بېلګېپه توګه : موږ ګورو، چې که یو نوم په ي سره پای شي، نو هغه ښځینه نوم وي. په دې کې باید مخامخوالی نه وي، که چیرې داشي نوم مخ ته راغی، چې په ،،ي،، پای شوی او ښځینه نه وي، نو بیا دا لار ماتیږي اوباورله لاسه ورکوي.



د دې په څټ باورنه لري، یعنې هروی چې په ،،ي،،سره پای شي، نو ښځینه نوم نه کیږي.

موږزموږ په ژبه کې د ،،کړی اوکړئ(؟) په ډول نورڅه هم ډېر لرو، لکه وړې،وړی، خورې،خوری یعني غلامي د غلامیکړی ،،وړې،، کړې او دا ،،وړې شوې،، کړی یې د ځان سره کور ته وړی.

یا دا د انګوروخورې داني دي غلامي راتولې کړي او هغه کس ورته امروکړ، چې دا به خوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوري، دا د انګورخوري داني به خورې. يا

ولې ولې ولې

دلته ګوره ستونځه په ييکانو کې نه ده، دا د ژبې تولیزه ستونځه ده او له دې ستونځوسره مورږلد يو اود ستونځوبې له پاره يې نورې پخپله منځ ته راوړې لارې نه پيداکوو.

د مشرانو ليکنې: دا چې زموږ مشرانوداسې ليکلي، دا يوهنيز د ليل نه شي کيداى. پوښتنه دا ده، چې دا نو بيا ولې د نورو ييګانوله پاره باوري نه دي.په دې هکله ما په خپله ليکنه کې يو لښتکى په توګه هم ليکلي، چې دې نورو ييګانوسره دې نو څه وشي. يوه لار( قانون) چې توليزنه وي،هغه باورنه لري.

د شميرپوهنې لار د ژبې لارې څخه هم نه شي بيليدلى،هلته لارده، چې يوه لار د يوه

ګڼ له پاره باوري وي او د يو بل ګڼ له پاره هم باوري، نو بيا هغه لار د ټولوګڼونوله پاره باوري ده.

دا ژبلار نه ده، خو په ژبه کې يوه نوې لارده، چې په سمون يې خبرې بايد اجازه ولري.

منلى خبيب غلي ليکي:

،،د دې غونډې په پايله کې چې کومه فونيميکه الفبې وټاکل شوه، په هغې کې هم پنځه يې‌ګانې دي. البته په دې «ئ» بنه يکې کومه يې نشته.،،

................... ۲۹ .................

زه د پنځه يا ښيږو ييګانوسره ستونځې نه لرم، خو دا بايد ژبلارې سره سمې، يا د ټولو له پاره او ياد ،، ئ ،، لهپاره هم نه.

دروند خبيب غلي ليکي:

،، بايد ووايو چې په پښتو ژبه کې همدا يوه زورکي واله «ى» په دوو بڼو ليکل کېږي، چې موخه ترې په اصل کې د دوو اوازونو څرګندول دي. د پښتو ژبپوهنې استاد پوهاند زيار صيب يې دا دوه بڼې، يوه نوموواله (ى) او بله کږواله (ئ) بولي.،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د سترو او غوره ليكوالانوپه ليكنوكي دا گورم اوزورېږم، چې په هكله يې څه ليكم، خو په كلكه په دې اند يم، چې يا ،، ئ ،، نه شته او يا د نورويېگانو اوازونو يا غږونو له پاره هم بايد ييگانې پيدا شي.

كه دا يوه لار وي، نوموالي اوكړوالي يې گانې شته،نو د با يد دا د نورو ييگانوله پاره هم وي.

يوه لار ( قانون) په هغه وخت كې باوري دی، چې توليز وي.

ښاغلی خبيب غلي ليكي:

،،كه موږ دا «ئ» له پښتو ليكدود وباسو نو د سوېل لويديز وگړي به څه كوي؟،،

ييگانې څلور اوبنې بدلې: دا د ژبپوهنې لار نه ده، چې بنې دې بدلې وي اويې دې همغه وي. دلته دې هم بيا د نورو ييگان له پاره همغه يې خوبدله بڼه پيدا شي.

په پوهنه كې يوځه د يو چا يالورله پاره نه كيږي.

ما رښتيا دا د عربو يې بللې،كله د گوډي الف او كله يې د مسئول يې بولم. موږ هم مسئول يو د مسئول يې بايد و ليكلی شو.

زه دا ليكنه نه اوږدږم، په دې ليكنه پسې مې بله ليكنهكړې، هيله ده، چې گران لوستونكي او مينهوال به يې ولولي.

.

.................. ٣٠..........................

ډاكتر ماخان ميږی شينواری

## بيا هم دا ،، ئ،، تپل شوې

د مخه يو څو غوره راوړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه مي چي د تاند په درنه خپرونه کي څه خپاره شو،هغه زموږ د ناسمونونو له امله وو، هيله ده، چي په دې لار کي به زما ليکني داسي لږ څه دې ناسمونونو ته ستاسو پام را اړولي وې.

په يوه پوهنه کي چي يوڅوک څومره ورننوځي، پوهيږي، چي څومره نه پوهيږي. په دې بوهيږم، چي ژبه څومره ستونځمنه ده، خو چي سړی خپله په يو څه کار وکړې هلته د داسي يوبل څه سره مخامخ کيږي، چي په هغې هم بايد کاروشي.

زه بيا بخښنه غواړم، چي په ډېرو موضوعاتو به ډېرو ژبپوهانوکارکړی وي، خودا چي زه نه پوهيږم، زه ملامت يم او دا چي زه هم بيا څه په ليکم، نو دا هم بيا سمکارځکه بولم، چي ګورو په يوه موضوع په لسګونه که نه سلګونه کسان کار کوي اودا هم غنيوالی يا بډاينه ده.

## ناسم ويونه څنګه پيژنو؟

د لته بيا لږ تکرار دی، خو زه اړ وم، چي دا مي لبکلي وي او اوس يې راتهلړې:ول شتونځمن برېښي.

دا په پيداښنتي پوهنو کي لړساده ده، چي په ناسم څه وپوهيږو، په ژبه کي داسي لږڅه ستونځمن کار دی، خوسره له دې هم په ژبه کي د ژبلار په بنسټ لارې شته او داسي يې لنډ به ګوته کوو.

لومړی: داسي ويونه، چي د پيداښت په اوړدو کي يې د پيداښنتي لارو سره سم لړو، نو د هغو له ډلي څني ويونه راباسل او په بل ډول يې نومول ناسم دي.

لکه موږ اوتاسي په ګنونو کي د لرلي لار څخه په څنګ کيږو، چي بېلګه يې دېرش سلمي ته دېرش سلنه وايواودا پخپله بې لارې ده يعني د پيداښت سره مخامخوالی دی.



دويم: د يوکره پيژند لرونکی وي د بل په ځای اينسوونه ناسمه راځي: که د يوه څه له پاره په پيداښنتي توکه په نامه نه پوهيږو، لکه د مايع له پاره، نود خپلي ناپوهی په بنسټ بيا د دې له پار يود بل څه له پار ټاکلی کره پيژند لرونکی نوم يا وی ټاکو، چي دا بيا هرومروناسم بايد وي، لکه د مايع له پاره چي اندول پښتويي بهيدونکی دی او اوبلن وايو.

دريم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره بيا لور، لور اولورهم لرو، نودا توپيرونه به بيا ښځګه بيلوو، دا خوږبه ده اوداکاربايد وکړيشو، بې له دې چې پرته له ژبدود د ژبې په توروکې زياتوالی راولو.

:اوس راځو دې ته چې

## بيا هم دا ،، ئ،، تپل شوې

زه پوهيږم، چې زما ليکنې زموږ د ټولودرنو ليکوالانوسره په مخامخوالي کې دي، خو زه د دې روښانولوله پاره اړيين ګڼم، چې دا خپل اند له تاسوسره ګډ کړم.

بيا هم که دا د داسې څه ليکونکي ما باوري کړي، خو دا هم يوه ښوونه ده اوزما زده کړه.

زه تاسوته لوړه کوم، چې زما ليکنې نه د چا د مخامخوالي له امله دي، نه ياغي يم اونه يې خوي لرم اونه د ځانښوونې له امله دي. زما ليکنې يواځې اويواځې د لا نورو روښانه ونو له امله دي.

زه به د خپلومشرانو په ځانګړې توګه د ژبپوهانومشرانو ډېردرناوی ځکه کوم او لرم، چې همدا دوي دي، چې دا پښتو يې را ژوندۍ کړی، ژوندۍ ساتلي او ژوندۍ به يې ساتي. دا د دوي برکت دئ اود هلوځلولاسته راوړنه ده، چې اوس دا ژبه د ورکيدو کندې ته نه شي لويدلی.

زه دلته د دې له پاره يوه لنډه يادونه کوم اوبيرته تاسو درانه همهغې خپلې پخوانۍ ليکنې ته رابولم، چې ويې ګورۍ، هلته داسې نورد ويلوڅه نه دي پاتې شوي اوزما دلايل هم په سم انديزدليل ژبلارې نه دي رد شوي.

زه يوه بيلګه راوړم:



زه يواځې دې ته ګوته نيسم، چې په رښتيا دا د عربو د ګوډي الف ،، ئ ،،، چې موږ هم ورته د ،، مسئوليت،، په ليکلو کې اړ يو او زموږ د ناسم ليکنډول يا – دود مسئوله ده، مسئوليت د همغومسئولوپه غاړه واچوو اونوره يې همغه يواځې ،،مسئوليت،، ته پرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه يادونه دې وي او هغه دا چې دا د ،، مسئوليت،، ئ د دريم ډېر ګړو کړنو له پاره تل
همداسې سمه نا سمه ليکل کيږي، دا په دې مانا، چې د ليکوالانو پام يې ډېر ځان
ته را اړولی.

هغه دلايل، چې زما د ليکنې مخامخ – چې ئ په پښتو تپل شوې- ليکل شوي، زه
ورته په لاندې توګه ګوته نيسم:

دليل – چې هرومرو بايد پوهنيز وي- راوړو، يا يې منو او يا يې په يوه پوهنيز دليل ردوو.

زه زما د پخوانی ليکنې د ردونې دلايل په داسې لنډه توګه په ترتيب راوړم او بيا يې يا د
منلو او يا نه منلو پوهنيز دلايل په همهغه ترتيب له تاسو سره ګډوم.

زما دليکنې مخامخ ليکنې:

لومړی - دا چې زموږ مشرانو دا ئ داسې ليکلي، نو دا له دې امله سمه ده اوسمه بايد
وي.

او يا دا چې:

که دا ئ ناسمه وي، نو ول.ي په دومره وخت کې زموږ د مشرانو دې ته فکر شوی نه دئ

دويم:

ييګانې څلور اوبنې بدلې يعنې په پنځه ډوله ليکل کيږي، دا يو غږ، چې همغه غږ دی، په
دوه ډوله- چې ی او بله يې ئ ده- سره ليکو.

:دريم

.د غلامئ کړئ ماتې کړئ :غونډاله لرو

............................... ۳۳ ......................

دلته نو بايد د ،، کړئ،، نوم او ،،کړئ ،، منځ کې توپير وشي، نو له دې امله دا يوه کړياله
.او دا بله نوميالـه يې دي

د پورته درې راوړنو مخامخ دليلونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي ته:

موږد خپلومشرانوپوهانو په پوهه نوې زده کړې کوو اود ژبسمون له پاره په دې زده کړو ودان نوي سمونونه ورزیاتوو. دا له پیدابښته پیدابښتي خوي دی، دا په دې مانا چې که زموږ راتلونکي له موږځخه پوره په هر څه کې د مخه نه شي، نو دا به بیا زموږ ملامتیا وي.

هره پوهنه کې چې یوه لار تولیزه نه وي، ناسمه ده.

نیسو، چې د ،، ئ،، لیکل اړیین دي، نو پوښتنه به بیا دا وي، چې دا نو بیا د نورولیکانوله پاره ولې باید باوري نه وي. په دې هکله ما په خپله لیکنه کې یو لښتکی په توګه هم لیکلي، چې دې نوریی ګانوسره دې ئو څه وشي.

د شمیرپوهنې لار د ژبې لارې څخه هم نه شي بیلیدلی،هلته لارده، چې یوه لار د یوه ګڼ له پاره باوري وي او د یوه بل پسې ګڼ له پاره باوري شي، نو هغه لار بیا د تولوګڼونوله پاره باوري ده، دا په دې مانا، چې یوه څه ته یوه لار وټاکو، چې هغه کار موږ کړی وي او هغه بیا د بل اړوند څه له پاره باوري نه وي، ناسم دی.

دا شمیرپوهنې لار په شمیرپوهنه کې ښوول کیږي.

زه د سترو او غوره لیکوالانوپه لیکنوکې دا ګورم او زوربړم، چې په هکله یې څه لیکم، خو په کلکه په دې اند یم، چې یا ،، ئ ،، نه شته او یا د نورولیکانو او اوازونوله پاره هم باید یيګانې پیدا شي.

بیا: یوه لار ( قانون) په هغه وخت کې باوري دی، چې تولیز یا تولباوري وي.

دویم ته:

.



دا د ژبپوهنې لار نه ده، چې بڼې دې بدلې وي او یې دې همغه وي. موخه د ،،ی،، وبینه ده اود دې له پاره دا ،،ی،، بسیا کوي او که نه، نو دلته دې هم بیا د نورولیکان له پاره همغه یې خو بدله بڼه پیدا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې ده.،، چې ،، د غلامی کړی ماته کړی،،. ځکه چې:

یو: په پورته روښانونه کې خوستونځه په ،، ی، ئ ،، کې نه ده، دا د يېګانو دنده هم نه ده او زه په بل څه کې هم ستونځه نه ګورم، که په زور يې نه پيدا کوو. دلته په لومړۍ کړی کې ک بايد يوزورکی ولري يا لومړی کړی دوه سيلبې لري يعنې يوه سيلبې يې ک – او بله يې –ړی ده او دا دوهمه کړی يوه سيلبې ده.

همداسې ده. ،، چې (د غلامی کړی ماته کړی). ،، که نه نو دا ورته ستونځې د نورو يی ګانوسره هم پېښوي.

د بيلګې په توګه دې لاندې غونډالې ته ستاسوپام راګرځوم:

په کړی او ک-ړی کې چې غواړو توپير وکړو، نو بايد په دا يوه کې د ک پسې څه راشي او نه د وی په پای کې بلو، چې هغه د ناسمې ويېنۍ – که ورسره مخامخ کيږو= راشي.

غلامې دا دلته ولې دا وړې خورې ورې وريژې( ز، ج) يا د ډوډۍ ټوټې هلته وړې او خورې ( غونډاله که ښکلې نه وي، نو بخښنه دې وي).

دلته هم لومړۍ وړې، خورې دوه سيلبې دي يعنې ،، و - ، - ړې،، او ،،خو - ، رې،، اودا دوهمې يوسيلبې دي، دا په دې مانا، چې د کړی او کړی سره له هرې لورې يو ډول دي.

اويا

ولې ولې ولې؟

په پورته کې دا ،، ي ،، دربواره يا درې ځله راغلې، يوه پوښتنه ده بله يې نوم دی او بله يې کړنه ده دا په دې مانا چې په شپږواره ردبدلېدنې سره يعنې له وي دربواړه هريو هر ځای نيوی شي.



د لته دې نوبيا يوه ،، ې،، وي اودربواره ليکنې.

که دلته اړيين نه وي، نوبيا دې په ،،کړی،، ولې ،،ئ،، راشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بیلګه به بې له يې راوړو:

،،تلل ( له یوه ځای ځخه وبل ځای ته،، او،،تلل ( یعنې د یو ځه کچول یعنې د څومره والي جوتول)،، همداسې ،، تلنه،، او ،،تلنه،،.

ګوری زموږ په دې ډول ستونځې لا ډېرې دي.

غلامي هلته ستا تلنه ( له یوځاي ځخه بل ځای ته) به هرومروستا د بار تلنه( چې څومره دروند دئ) اړیینه کوي.

کوچۍ په کوچ کې  کوچ له ځان سره يووړل.

کوچۍ کوچ  په کوچ کې له ځان سره یووړل.

کوچ( کوچ: له یوځای بل ته تلنه او دابل يې هغه غوړ خوندور کوچ)

# کچه (؟)

ډاکتر ماخان میږی شینوری

دې لیکنې ته مې پام شو چې ومې لوستل: په ننګرهاار کې د کابل په کچه روغنوت جوړ شو.

موږ په ژبه کې چې څه په خپله خوښه لیکو، بې له دې چې په هغه وپوهیږو، ناسم راځي. د بیلګې په توګه دا کچه زموږ په ژبه کې د داسې څه له پاره زموږ د لیکلوست خاوندانو له خوا کارول کیږي، چې هغه يې ترې پوهیدنې اوبنسټیزې مانا سره  هیڅ اړوندوالی نه لري

کچه څه ته وايي اوموږ دا څنګه، ولې او د څه له پاره څنګه ناسمه کاروو؟

........................ ۳۶ .............

په لاندې کې یوڅو بیلګې راوړو اوبیا ګورو، چې دا کچه څنګه او د څه له پاره کارول شوي دي.

لولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف : ،، په جلالاباد کې د کابل په کچه روعتون جوړشو،،.

ب : ،، سږ کال د ټول هواد په کچه د مالي ستونزو له امله ۲۲۰ کارخونې تړل شوې دي،،.

پ : ،، ننګرهار کې د درې ولایتونوپه کچه د ړندو تر منځ د کرکټ پنځوس اوریزه سیالي پیل شوه،،.

ت : ،، ولسمشر غني د سیمې په کچه د ترکمنستان...،،

ټ : ---- کله کله لولو، چې: ،،...په ډېره کچه...،،...
ث: :.... ،، د سیمې په کچه مرکز جوړ کړي،،.
ج : ---- افغان نوولس کلنو د اسیا په کچه د کرکټ تاریخي اتلولي وګټله،،.

ح : ،،افغان حکومت په ځایي کچه سولې ته د طالبانو هڅول غواړي،،.
ګرانولوستونکو! تاسوپه دې باوروکړي، چې دا پورته ټولې غونډلې ناسمې دي او هیڅ ترې نه پوهیدل کیږي.
داسې به نه وایو، چې دلته به له کچې موخه دا یا هغه وي.
د لیکونکي موخه خو به څه وي، خوپه هرډول ناسم دي.
که ورته زیر شو، نو ځنې ځایونوکې ،،کچه،، زموږ په ادبیاتوکې د ستاندرد( معیار)، سطحې(هوارې)، سویې، لیول له پاره کارول کیږي او له ځنو خو هیڅ نه پوهیدل کیږي.

موږبه الف : ته پام وکړو ،، په جلالاباد کې د کابل په کچه روعتون جوړشو،،.

که ووایو، چې ( په ډېره بخښنه): ،، په جلالاباد کې د کابل په ،،درچه،، روعتون جوړشو،،.

یا یو بل څه

نوپه دواړو او په بل څه کې به هم موږ په همغه موخه وپوهیږو، لکه پورته مو چې ګوته ورته ونیوله یعنې ستاندارد یا مغیار.

دا هر څه به روښانوو اوبیا به دې ناسمون ته ګوته نیسو:



لومړی دا څه څیرو، د څه له پاره چې ،، کچه،، کارول کیږي.

د ،،کچې،، پیژند د ټولو، چې له پاره یې کاروو په پای کې راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه پیژندونه راوړو:

## لومړی: ستاندارد یا معیار:

یو ستاندارد **Standard** یو پرتلییز ډوله یوونیز یا یوونیز شوی یا ښهیي یووالیز ، لا نور هم پیژندل شوی او زیات کارول شوی( یا لږ تر لږه هڅیدنی وړ) رقم او ډول دئ، چې یو څه جوړ کړي یا یو څه منځ ته راوړي، کوم چې د نورو رقمونو او ډولونو په مخامخ٠مقابل) بریالی شوی وي.
لنډ: دجوړښتونو په پرتله کې دجوړښت بریالي ډوله جوړښت ،،ستاندارد یا معیار،، دئ بیا: دا که کورونه وي یا ماشین الات، د جوړونې له پاره يې ډېر مسلکي کسان وړاندیزونه کوي اودا وړاندیزونه بیا سره پرتله کیږي، هریو ډول چې د غوښتونکو کسانو خوښ شو،هغه بیا ستاندارد یا معیار دي، چې دا د جوړېدو څه به بیا په همغه ستاندار یا معیار کوړیږي او نه په هغه کچه.

## دویم: نیوو Niveau :

١ – ټاکلې هواره یا کرښه ده، چې د ځمکې د سرهوارې سره غبرگه ځغلي.
پوهیږو، چې دلته سړی سمسمکیوالی سره پرتله کوي او دا هر اړخیز. دلته د نیوو په ځای هواره یا سطحه یا level راوړل شوې.
٢ - Niveau : یوه ټاکلې پوړۍ ده، کومه چې له مخه ورکړشوې سکالا باندې شتون لري او له هغې سره سړی یو څوک یا شي ارزوي. که څوک د زده کړې یا پوهې له مخې یوبل سره پرتله کوي، نو دلته سړی وایي، چې دا په یوه یا برابره سویه دي. روغتون یا بل څه چې سره پرتله کیږي هم سویه ویلی شو یا وایو.
،، هغه ربښتیا سویه لري،، د روزنې درجه
١ – ته د ځان له پاره جگ ستاندارد یا معیار ټاکې، چې ته اوس سملاسې درس ویلو ته د تلو هیله لرې.

## دریم: نورم Norm :



نورم: ټولیز منل شوې نه لیکلې لار یا قانون دئ، چې باید د هغې پسې سمه تلنه وشي یا سړی ځان د هغې پسې چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

،، نورمونه کره کړې یا نورمونه کیږدی،،.

دا یا هغه چې ټولیز ورځنی(مروج) یا پیژندل شوی وي.

،، د هغې لویه د نورم څخه قوي تغیر ده.،،

زیات وخت چې ډېر مخ ته لرو.
د انسانانو د ګډ ژوند له پاره ټولیز پیژندل شوې، منلې باوري لار"ethische Normen"
یا اخلاقي نورمونه.
دا په تخنیک کې تخنیکي نورمونه شته اوداسې نور.

## څلورم: سطحه ( هواره) Ebene:

یو څه د یو بل څه سره په برابر جګوالي. دا د ارزښت له پاره کارول کیږي. دا هم د لیول له پاره کارول کیږي.

اوس راځو کچونې یا کچې یا کچولو ته:

# کچول نو څه ته وايي؟

اوس د کچې پیژند ورکوو اودا پورته پیژندونه هم په پام کې نیسو، چې څنګه اوولې یې له پاره کچه کاروو.

پیژند: کچول دې ته وايي، چې د کچونې فزیکي لویه (اوږدوالی، دروندوالی،مهال) د یوه کره ټاکلي کچیوون یا کچ یووالي ( متر، کیلوګران، ساعت) سره پرتله شي.

د بیلګې په توګه یوټوکر په کچه کوو. وه بوري غنم په کچه کوو.

له یوځای څخه وبل ځای ته د تګ وخت په کچه کوو

**اوبس همدومره او نه وراخوا.**

**................ ۳۹ ...............ږږ**

بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې لویې د پیدا کولوله پاره دالویه باید په اړونده کچووني یا کچ الي سره په کچه شي. د بیلګې په توګه د یوه واټن څرګندول یا معلومول په متر یا ... کچولو سره روښانه کیږي.
که دوه اوږدوالي سره پرتله کوو، نو وایو، دا یو د دې بل څخه په کچه ستردی. دلته نو په کچه ستردی.

یعني کچه، کچونه اویا...د یوې لویې د څومره ولي د روښانولو له پاره اویا د دوه همغو لو یو له بل سره پرتله کونوله پاره هم باید دا لویې په کچه شي.

د هغو څه له پاره، چې څومره والی نه څرګندوي اود یوبل څه او موخې له پاره کارول کیږي د کچې کارونه ناسمه ده.

که داسي لړنور څه په ورزیات کړو، نوزیان خو نه لري.

نوڅه په کچه کوو؟ موږ چې څه په کچه کوو، هغه فزیکي لویې دي.

## ( فزیکي) لویې څه شی دی؟

موږ په ورځني ژوند کې تل یا زیات وخت د دروندوالي، اوږدوالي اومهال سره سر اوکارلرو.

دا لویې دي.

دا چې دا لویې څومره لویې دي، د کچیونونو سره یې کچوو یا پرتله کوو.

کړنه: د یوې لویې کچه ونه، چې له دې لارې یې څومره والی ځان ته روښانه کوو.

یوون یا یووالی : دا باید د یوه څه سره پرتله شي، چې دې پرتله ونو څه ته یونونه ( یووالي) وایو. ناسم عربي یې واحدونه، چې واحد یوه ته وایې( عربي کې ورته وحدة ( ه چې په سر یې ټکي وي،نه شم لیکلی) وایې ، چې انګرېزي او الماني یې unit Einheit, دي، چې د یوې الي له لارې کیدی شي اودا الي کچوون الي یا د کچوني الي بولو یعني هغه الي چې کچول پرې کیږي اودا یوونونو ته، چې د کچولو له پاره یې کاروو. کچون یوونونه یا کچون یووالي ( کچه -وون-یووالي ) وایو.



په پیل کې مې چې کومې غوندالې راوړې، بیایې راوړم او داسې لنده شننه یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف : ،، په جلالاباد کې د کابل په کچه روغتون جوړشو،،.

دا ،، کچه،، په پورته کې د معیار له پاره کارول شوې.

ب : ،، سږ کال د ټول هواد په کچه د مالي ستونزو له امله ۲۲۰ کارخونې تړل شوې دي،،.

،، شږ کال د ټول هیواد په کچه،، څه ترې پوهیدنه نه لري یا څه نه شته.

پ : ،، ننګرهار کې د درې ولایتونوپه کچه د ړندو تر منځ د کرکټ پنځوس اوریزه سیالي پیل شوه،،.

،،ننګرهار د درې ولایتونوپه کچه،، څه شی نه شته

ت : ،، ولسمشر غني د سیمې په کچه د ترکمنستان...،،

،، د سیمې په کچه،، څه شی نه شته

ټ : ---- کله کله لولو، چې: ،،...په ډېره کچه...،،...
،، ... په ډېره کچه..،، څه شی نه شته.
ث: :.... ،، د سیمې په کچه مرکز جوړ کړي،،.
،، د سیمې په کچه،، څه شی نه شته.
ج : ---- افغان نوولس کلنو د اسیا په کچه د کرکټ تاریخي اتلولي وګټله،،.

،، د اسیا په کچه،، مې ګوماندی، چې د اسیا د سویې له امله کارول شوی وي،خوبیا هم ناسم دی.

ح : ،،افغان حکومت په ځایي کچه سولې ته د طالبانو هڅول غواړي،،.
،، په ځایي کچه،، څه شی نه شته.

په پای کې زما هیله اود لیکنې بخښنه یې راته وکړی:

۱ – چې څه لیکو،باید پرې پوه وو.

۲ – په څه باندې یا د څه په هکله چې څه لیکو، باید پرې پوه وو.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – د بلي ژبې نوم يا بل کوم ،، وي،، له پاره پښتو چې پيدا کوو – پرته له انډول وي ـ ، ترې تيرشو. ومو ليدل، چې دا مود ناسمونو سره مخامخ کوي.

او که بيا هم

۴ – څه ليکو نو په دواړو ژبو بايد وپوهيږو اووګورو، چې دا يې نږدې انډول کيدی شي، اوکه نه؟

۵ – که غواړو، چې د پردي ،، وي ،، له پاره پښتو وليکو، نو موږدا د همدې پيداښته زده کړې او راسره ژبې څخه بايد راونيسو، نو بايد وګورو، چې دا ولې انډول دئ اود څه له پاره کارول کيږي؟

۶ ـ بيا مې هم هيله ده ، چې هغه د باندني ويونه، چې پرې نه پوهيږو، همهغسې يې وليکو، پښتوورته پيدا نه کړو، ځکه چې هر کار د هر چا نه وي اونه يې وبولو، که دا ډېر يا لږ پوه وي.

د لا سمون له پاره ستاسو مرستې، کوتنيونو او وړانديزونو په هيله.

خبرې له خبروراوځي اوپه خبروسميږي. هيله ده، چې خبرې په وکړو.

ډاکتر ماخان ميږی شينواری

# ولې اوبلن

## د نه په پښتو بللشوو نومونو او ويونو د پښتو ناسم انډول:

غواړم د ګرانولوستونکوسره هغه څه ګډ کړم، چې ژبې ته مو ناسم راننباسل شوي، دا په دې مانا چې ناسم مو ژبې ته نه دې راننوتي.

زموږ هيوادوال يا نوره هم ښه، ليکونکي په پښتو د مايع په انډول نه پوهيدل اودا چې مسلکي نه وو، نو پوهيدلی هم نه شو يا په دې هکله له ستونځوځانونه ژغورل، نودې ته يې يعنې مايع ته يې په پښتو کې د انډول له پاره اوبلن نوم وټاکه. په وټاکه باندې ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوراچوم یا لیکم، چې انډول یې ورته ونه شو کارولی له دې امله یې داسې ناسم اوبلن وباله.

## اوبلن نوڅه شی دئ؟

اوبلن په ژبه کې د شیانو یا تنونود یوه ټولګي یو پیداښتي خوي یا وی دئ او په نوروژبوکې هم انډول باید ولري. دا چې اوبلن لا بهیدونکي نه دئ، زموږ ادیبان په دې نه پوهیدل او د نورومرستي ته یې هم غوږنه نیوه، نو له دې امله د عربي مایع انډول هم نه شو کیدلی. دا نوم ورته ټاکل شوی یا غوره شوی دئ اونه په پیداښتي توکه دا انډول دئ.

موږ د دباندني وی یا نوم له پاره پښتونوم نه ټاکو اوباید ویې نه ټاکو ، موږ یې انډول پیدا کوو، چې دا کار کیدونکی دئ.

پښتو یوه ډېره توانمنده ژبه ده او په هره ژبه کې چې په پیداښتي توګه څه وي، هغه هرومروپه پښتو کې هم شته.

دې ته د ټولولوستونکوپام رااړوم، چې د داسې پیداښتي ویونو له پاره لکه مایع هرو مرو پښتو انډول باید وي او موږ هغه باید په دا خپله لرلې ژبه کې ومیندلی شو، داسې نه لیکم، چې پیدا کړو، شته دئ باید د پوهنې په بنسټ ولټول شي.

زموږ ژبپوهانو فکرکاوه، چې ګوندې موږ د مایع له پاره پښتو انډول نه لرو او باید یو ښه، لنډ او ښه غږیزنوم یا انډول ورته وټاکو، نو له دې امله یې مایع ته اوبلن نوم وټاکه.، چې په همدې غږېږو.

زه د پوهنې وزارت په نصاب او دې خبروکې وم، خو زما توان نه رسیده، ځکه چې زه د پښتوځانګه کې نه وم.

موږ ډېرتنونه لرو، چې مایع دي، دا په دې مانا، چې دا د تنونو ګډ خوي مایع د تنونویو ټولګی جوړوي، نو له دې امله داسې مخ ته ځو او فزیک څخه ګټه پورته کوو یا اخلو:

موږ تنونه یا اجسام د خویونو له مخې یاد زرو سره ټینګ نښتوالي له امله ( چې د جوړښت له امله یې غوره کوي) یا د تودوخی په بنسټ په درې ټولګیو وېشو( فزیکي پیژند):

لومړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلک بدنونه، د بدنونو هغه ټولګی، چې بې له باندنی اغیزي یې زرې سره کلکې نښتي وي او بې له باندني زوره ځاي په ځای وي.

لکه:تیږه، لرګی، یخ، واوره او اوبلنه واوره (دا هم لا اوبه نه دي) اونور

دویم:

ښنتیونکي – یا غاز ډوله بدنونه: د بدنونو هغه ټولګی دی، چې زرې یې سره نه وي نښتې اوزرسره بیلیږي او یا دا چې بې له باندنی اغیزې ښنتي( هرې لور ته ځغلي). دا نو د ژبې د قانون اود دې خوي سره سم ښنتیدونکي یا ښنتیدوني بلل کیږي ( نه ! ښه یې: ښنتیدونکي دي) او سم اندیز هم ځکه دی، چې هرې لورې ته ښنتي لکه غازونه. د اوبوبوخار اونور

دریم:

د بدنونو هغه ټولګی چې زرې یې داسې نښتي وي، چې کلکې نه وي اویوبل ټیلوهي یعنې مخ ته بیایي یا چې بې له دباندني زور یا اغیز بهیږي. دا بهیدنه یې خوي دی اوله دې امله بهیدونکي یا بهیدوني بلل کیږي یا د بدنونو بهیدونکی ټولګی بلل کیږي.

نورهمداسې مخ ته ځو: اوبه، شدې، شرومبې، تیل او ورته شیان یعنې تراوسه مایعات څه خوي لري،

دا هر څه د همغه خوي له مخه ټولګیز کیږي. اوبلن غازنه شته، خو بهیدونکی غاز شته.

لنډ: که تاسو یو په عربي پوه اوداسې لرډ فزیک سره بلد کس څخه وپوښتی، چې مایع ته په پښتو څه وایي، هرومروبه درته ووایي، چې بهیدونکی.

دا داسې د بلې ژبې نوم یا وی ته د انډول میندلو پاره باید په هغه بلې ژبې اومسلک پوه افغان وي، نه توکلي کسان.

جبه اوبلنه ده، هغه څه چې اوبه یې زغملې وي، اوبلن دی، مګر یوڅه مایع اوبلن نه دی، پخپله اوبلن لا نه بهیږي، یعنې دا اوبلن لا اوبه نه دي.
دا ګاز یا غاز، چې تاسو ورته ګوته نیولې ده او ناسم یې،، اوبلن غاز،، بولی، د اوبو س

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ره ګډ خوي يې يواځې دا بهيدل دي، نور بل کوم خوي ورسره ګډ نه لري او نه يې اوبه زغملي، چې اوبلن شي، دا بهيږي، چې له دې امله بهيدونکی غاز دی او نه اوبلنيږي.

بيا : اوبلن لا تراوسه کلک يعنې نرمه واوره ده، چې پسې ويلې کيږي اوله دې امله چې ټوټې يا زرې يې سره نښتې دي بيا اوبه کيږي، چې بهيږي، دا په دې مانا، چې اوبلن اوبه نه وي، نو بهيدونکي يعنې مايع نه دي. اوبلن لا واوره ده خونرمه.

څوک چې د تلنې توان لري، تلونکي دي. څوک چې د خوړنې خوی يا توان لري خوړونکي دي، څه چې د الوتنو خوي لري الوتوني يا التونکي دي او داسې نور لکه اوسيدونکی، لوستونکی او او... يعنې د بهيدلو توانوالو ته بهيدوني يا بهيدونکي بايد وويل شي او دي، او نه دا ناسم اوبلن.

## اورغورځونه اواوربهيدنه :

ما يوه ليکنه ولوستله، چې لاوا يې ،،اوروبی،، بللی وو، چې زما اند يې زما د مخه ليکنې په بنسټ په دې هکله څه ليکلو ته راوهڅاوه، چې له تاسوسره يې شريکوم.

موږ اورغورځوني لرو، چې هغه اور راغورځونه يا غورځوي او دا اورغورځونه يې بيا داسې حالت ته ورسيږي، چې بهيږي. د پورته روښانوني سره سم، دا هم دا د اورغورځونې لاوا، چې بهيږي، نودا اوربهيدنه ده يا ،، بهيدونکی اور،، دئ.

دلته ګورو، چې دا لاوا يا اور نه اوبلن کيږي، دا اور بهيږي، نو له دې امله بيا هم په دې ټينګار کوم، چې د عربي مايع له پاره اوبلن کارول پوره ناسم دئ او دا د پښتوسره تيری دئ.

يادونه: دا د دې ليکونکي ته دومره درناوی لرم، چې داسې لړڅه يې د پوښتنې لاندې نه شم راوستلی. زه ترې بخښنه غواړم.

که داسې نرم د موټرو خوزت وي نو ، نو کړی شو ووايو، چې دموټرو نرمه بهېدنه دا په نورو ژبو کې همداسې ده. خوزښت دوی هم لري او همداسې که تاسو په حج کې د ورايه يا له پاسه لاندې کسان چې له تورې تيږې راګرځي وګورئ، نو دا هم داسې بريښي، لکه چې بهيږي، ګورئ، که دلته اوبلن ووايی، نو دا به بيا د ژبې سره پوره ناروا کړنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، تر،، until

د اړیکویونو سره مې اړیکې له دې امله ونیولې، چې د سربل ،، تر ،، سره مې داسې لږ څه جنجال ته نیت وو او داسې لږڅه ګوته ورته نیسم اویوځونور هم همداسې غوره یې یا هغه چې ماته لږ د شنلو وړ برېښي لږ غزول یېي ستاسو مخ ته ړدم.

دا خبرې به داسې لږڅه اوږدې شي، خودا چې کاغذ نه لږیږي او چاپوم یې هم نه نوګومان مې دئ، چې تاسو به هم را څخه ورسره ونه زوریږئ.

د انګرېزي ژبې څو پرېپوزېشنونه راوړم د الماني ژباړې سره او بیا یې د پښتو سره پرتله کوو.

د اوس دپاره به دا درې بسیا وکړي او که نور یې په دا منځ کې راغلل، هغه به هملته په ګوته کړو.

With; from; until

الماني یې: mit; von;  bis

پښتو یې:

له ... سره، له ... څخه ،تر  یا د (له) ... سره، له ...(څخه)، تر

زه لومړی  د جرمني څخه دbis  (انګرېزي: until)، چې د پښتو معنا یې تر (... پورې) ده یو څو جملې د ،، تر ،، لپاره راوړم، په دې هیله، چې ګران لوستونکي به یې بیا د ( دلته ،،له،، نه لیکم، چې وروسته پرې غږیږو) پښتو سره پرتله کړي، نه داسې نه چې پرتله یې کړي, بلکه وګوري، چې پښتو یې هم همداسې سمه ده او که څنګه او په هغه خپل وخت کې  بیا دا نور دوه هم  د ځیړنې ( موږ بلد یو چې تر(سم نه دئ) څیړنې) لاندې ونیسو.

په ژبه کې د ،، تر،، کارونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړيکوی تر: له دي سربل ،، تر ،، سره موږ د يوڅه يعني پيښي، نوم، مهال او همداسي د ځاي پای په ګوته کوو، يعني دا په هغه وخت کارولکيږي، چي دا پورته ياد څه پوله ولري يا پولي ته ورنږدي کيږي.

لنډ: د پيښي، مهال همداسي ځای او يو څه اخرني ټکی يا پوله په ګوته کونه.

**يادونه:** دا دي دلته بيا هم په کلکه وويل شي، چي په بل هرځای کي کارونه يې ناسمه ده، لاملونه يې راوړو.

يادونه: که داسي لږځير شو، نو څه چي پای لري يعني ،،تر،، .. وي، نو هغه به هرومرو يوپيل هم لري، که دا څرګند او يا نا څرګند وي.

که وايوچي: سپين تر کابله پوري لاړ، نودا هرومرو له يوځای څخه، چي پيل دی، تللی. که په دي هکله تکرارولرو، نو راڅخه زړه بدي کيږی مه، وايي، چي تکرار د زده کړې مورده او يا د پام بنسټ دی.

دادي څو الماني انګريزي اوپښتو غونډالي د **سربل تر Bis** سره

through (*US*) ,to ,until (*temporal*)

*.zwei Uhr in der Schule **bis** Meine Tochter ist*

.two o'clock **until** My daughter is at school

زما لور تر دوه بجو په ښوونځي کي ده.

*.Freitag krank **bis** Ich war von Montag*

.Friday **to** I was sick from Monday

زه دوه نی تر **جمعي** پوري ناروغ وم.

by (*temporal*)

(c) ketabton.com: The Digital Library

*.Donnerstag fertig sein **bis** Die Aufgabe muss*

.Thursday **by** The task must be complete

پوښتنې باید تر ځلورنۍ ( چهار شنبې) پورې تمامې وي،

all the way to ;to (*local*)

*.Köln **bis** Der Zug fährt*

.Cologne **to** The train goes

ګاډی تر کولن (پورې) ځي.

په لاندې توګه مخ ته ځو:

١ – تمپورال يعني:  اخر ټکی ښايی.

٢ – په مخه ښه کې هغه د بيا ليدلو وخت ډېر يا لږ پوره: تربيا پورې.

٣ – ځای: اخرنۍ موخه ښايی.

۴ – له  ...څخه ...  تر ... د وخت يا ځای واټن  په ګوته کوي.

۵ – د يوه غزېدا سور، د يوه سپکتروم ( د يوې ځيرې يا څه بربښيدته، د دې په پښتو معنا لږ ستونځمنه ده، خو په نورو ژبو کې کټل ښه دي او په فزيک کې راځي)، د يوې پورته – او يوې کښته پولې ورکونه.

۶ – د په خوښه اړيکوی سره

٧ – bis zu   د الماني په ځير پرېپوزيشن په پښتو کې نه شته، دا هم همغه ،،تر ... پورې،، دی:  پورته پوله په نخښه کوي، يو پوله ارزښت

٨ -  bis auf : يو اخر شي  چې سرې ردوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې وايو ټول خلک ميلمانه دې ترسپين پورې( يعنې پرته له ...)

د دې په څېر: ټو ل ميلمانه دې د ... په ګډون پورې په پښتو کې موږ تر ... پورې لرو.

دوي دا هم معلومه کړې، چې دا وی کله ژبې ته راننوتی دی، چې هغه يې زه دلته نه راوړم.

بيلګې: — تر بلې مياشتې (پورې) بايد کور جوړ وي.

– هغه تر بلې مياشتې (پورې) نه شته

– تر اوسه(پورې) هرڅه ښه دي.

– څوک چې سره بيليږي يا مخه ښه اخلي: تر وروسته پورې.

– ،،ښه اوسه، تربيا پورې،،

– ،، په مخه دې ښه، تر بلې اونۍ (پورې).

— تر دې ځايه(پورې) او نه وړاندې.

(،،پورې،، ته دې پام وي، چې ورځخه (موږ دلته هم کله ليکو، چې ترې..(هغه زموږ په کليوالي خبرو کې وايو، چې تر نه تيريدلی.. دا ترنه معنا ورڅخه دي او نه تر)) تيريدلی هم شو).

– تر جلال اباده پورې موټر نيسو، وروسته بيا بايد په پښو لاړ شو.

— ستا مور له سهار څخه تر ماښام (پورې) په پخلنځي کې ولاړه وه.

— دا يو سفر دی، له جلالاباد څخه تر کندهاره پورې.

— سپينه له پاسه (څخه) تر کښته (پورې) لمده وه. يا له سر څخه تر پښو پورې لمده( که لنده) وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

،، تر،، Bis د ترړنوي Conjunction په دنده کي
برابرارزښته جملي- برخي سره تړي.

سپين په ميلمستون کي ناستوو، تر هغي چي ميلمانه کوروته ولاړل.

يو ځوالماني انګرېزي او پښتو غونډالي:

- until (*temporal,subordinating*)

*.das Gewitter vorbei ist **bis** ,Wir warten hier*

.the thunderstorm is over **until** We'll wait here

موږ دلته تميږو، تر څو جګړ تيرشي.

1. to(*coordinating*)

*.Stunden in der Woche 50 **bis** Ich arbeite 40*

.hours a week 50 **to** I work 40

زه په اونی کي ۴۰ تر ۵۰ ساعته کار کوم.

*.dunkelbraun **bis** Ihre Haare sind braun*

.dark brown **to** Her hair is brown

د هغي ويښتان نسواري تر تياره نسواري دي

دا نوري غونډالي دي هم ورسره وي:

..............ږ.ږ ۵۰ .........................ږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ اسمان له برگ څخه تر شين وو.

ـــ سپين ۲۵ تر ۳۰ کسان ميلمانه کړي.

( دلته دې پام وي، چې ،، له ۲۵ تر...، نه ليکم، ځکه چې هغه بيا خپله موخه بدلوي)

ـــ په دې لمنځتون کې دې ۳۰۰ تر ۵۰۰ کسان ځای شي؟

ـــ زه په اونۍ کې زيات وخت ۵۰ تر ۶۰ ساعتو کار کوم. ( پام دې وشي، له يې مخ ته راشي او که نه، په الماني ورسره له نه شته. نه ! داسې نه ده. له ورسره نه راځي، ځکه چې دی له تر کارنه کوي دی له ۱ تر ۵۰ يا ۶۰ ... يعنې له ۱ تر ۵۰ يا له ۱ تر ۶۰ ساعته پوري کار کوي، نو له دې امله ۵۰ تر ۶۰ ساعته پورې او نه له ۵۰ تر ۶۰ ساعته...دلته دا خبره راڅخه لږ ستونزمنه کيږي، له ۵۰ تر ۶۰ ساعته په دې مانا دي، چې دیٔ خوله ۱ تر ۵۰ کار کوي، خو به يې داسې وليکو، چې له ۱ ت ۵۰ او همداسې کله کله له ۵۰ څخه ور اوړي تر۶۰ پورې. گران ليکونکي دې هم په کې خپل فکر وځغلوي. (بيا: تکرار د زده کړې مورده ).

ـــ سړی کړی شي چې هغه تر اخره پورې وگوري.

ـــ سپين کړی شي چې هغه په رڼو اوبو کې تر ځمکې تل پورې وگوري يا د ځمکې تر تل پورې....

ـــ موږ ناوخته د شپې تر دننه ( تر منځ) پورې خبرې وکړې.

ـــ ژوبن هره ورځ تر زر کسانو پورې گوري.

ـــ سپين په ښار کې تر نوي کيلو متره پورې په بس کې ځي.

ـــ د سندرغاړي ټولې سندرې پيژنم ــ تر اخرنۍ پورې دلته تر په دې معنا دی، چې اخرنۍ سندره يې نه پيژنم..

خبر و استعمال يا کارونه:

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر زر، تر بیا، له پښو تر سره، تر ګیډې، تر لاس خوزونې( په مخه ښه کې)،  تر څو چې نور امکان نه وو.

ترې رابېل ویونه:

تر وروسته، تر وروستنی، ترغزونې، تر اوسه.

لنډ: تر په هغو جملو کې راځي، چې د ،، تر،، سره ،، پورې،، مل وي یا مل کیدی شي، یواځې همدې ته دې په  لیکنو کې پام وشي، سم دې وکارول شي یعنې تر...(پورې)، بل ډول کارونه یا استعمال یې ماته ناسمه برېښي، چې ګران ژبپوهان دې هم ورته پوره پاملرنه وکړي، دا د ما سره هم مرسته ده او د دې مرستې د غوښتنې اجازه دې وي.

# پرتله کونه

یوه د مخه اړینه یادونه: زموږ ژبپ،هان ،، پرتلنه،، لیکي، چې ناسمه ده، څه چې دا ،، پرتتل ،، نه دی، دا پرتله کول ده، نو لهدې امله پرتلهکونه او نه پرتلنه. که غواړو، چې دا دې لنډیز وي، نو د داسې لنډیزونو دې ځانونه ساتو، چې ناسم دي.

تر دې مخکې ... وبخښی دا ،، تر دې مخکې،، نه شته. تر ناسم دی او مخکې هم کلیوالي لیکندود دی.

له دې د مخه ... په بخښنه دا هم پوره نه دي.

له دې څخه د مخه چې په دې موضوع  پیل کوم، د اړتیا له مخې غواړم دا لاندې ستاسو مخ ته کېږدم:

## خوي نوم یا ستاینومAdjektive .

:مخ .په دې هکله مې لیکنه په تاند کې خوره شوې وه او دلته یې هم کتلی شی )خوي ویونه Adjektive

ستاینومونه به نوپه پښتو کې څنګه وي؟

یا دونه: زه په دې هکله لیکنه لرم، چې په هغې مې دا ستاینومونه د الماني انډول خوي نومونه بللي، چې وبه هڅېرم، هلته یې نور هم روښانه کړم.

موږ په پښتو کې د دې له پاره د نوروژبو په څېر د ستاینې یا خوي جګونه نه لرو. زموږزیات لیکوالان، چې زه ګورم،  ډېر اوخورا ډېر د دې له پاره لیکي.

بیلګه ۱: چټک،ډېر چټک، خورا چټک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلکه۲ : جګ، ډېرجګ، خورا جګ.

دا کړی شو نور هم وستایو، چې ولیکو، لا نور هم چټک، ــــ ډېر ــ، ــ خورا ــــ اونور.

دا لار چې په ژبه کې نه لرو، کیدی شي، چې دا د یوه قرارداد له مخې د پوهانوله خوا ومنل شي او یا یوبل څه ورته پیدا کړي. داد قرارداد له لارې کیدی شي، خو هیله ده نورڅه سره پیدا نه کړو، چې بیا د قرارداد نوم پرې کیږدو.

دې ته دې په ګډه فکر وشي، چې ستایننوم او خوینوم همغه څرګندوي او که څنګه؟

دا چې زه دا خوي نوم وبولم، ناسم نه دئ او که دا چګېدنه په ډېر او خورا سره هم وکړم، ناسم نه دی، د دې اجازه دې وي.

## اوس راځم خپلو اري خبرو ته یعنې پرتله کونې ته:

زموږزیات یا نږدې ټول لیکونکي اولیکوالان ژبپوهان د شیانو یود بل سره پرتله کونه او په همدې ډول یې د پرتله کونې ستاینه یا خوي روښانونه په ،، تر،، کوي

لومړی: رموږلیکونکي په دې اند دي، چې پرتله کونه د ،، تر،، سره کیږي.یعنې

سپین تر شین(هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) (ډېر- ،خورا - ) ښکلی دئ.

دویم: په پیداېښتي ډول یې، چې زموږ هیوادوال په بیلابیلوځایونوکي کاروي:

هغه د ،، له ... څخه ،، سره پرتله کیږي.

پوښتنه : له دوي، تاسو...او ... څخه کوم ښکلی دئ؟

سپین له شین (هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) څخه ښکلی (ډېر- ،خورا - ) دی.

دریم: سپین (را، ور، در) څخه ښکلی ( ډېر - ، خورا - ) دئ .

په پورته لیکنه کې دا د ،، ور څخه،، په ځای ځنې لیکوالان کله کله ،، تر یا نوره ،، لیکي یعنې:

که پوښتنه وشي، چې له سپین اوشین څخه کوم ښکلی دئ اوسپین ور څخه ښکلی وي،

نووایو: سپین تر شین ښکلی دئ. دلته ،، تر څخه،، نه وایو.

تر د هغه مهال، ځای اویوه څه د پای په نخښه کونې سره یعنې ،،تر...پورې،، سره توپیر لري.

ګورو چې دا پورته ،،تر یا ترې،، د ،،ورڅخه،، په ځای راغلی.

موخه: پرتله ونه د هغه ،، تر،، سره چې موخه ورڅخه د ....پای وي، نه کیږي، دا په دې مانا چې په لاندې کې ،، تر،،

سپین تر(ما،هغه، تاسو او...) ښکلی ( ډېر -،خورا -) ښکلی دئ، ناسم دئ .یادونه: یعنې دا ،،تر،، هغه اړیکوی نه دئ، دا له یوڅه یا چا یا شي څخه ښکلی دئ، چې زیات کسان یې لیکي:: ترې ښکلی..... چې دا ترې هغه د ،، ورڅخه ،، په موخه یا مانا دئ او نه د ،، تر،،، دا په دې مانا چې داترې د ،، تر،، سره څه ګډ نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسبت ( دا عربي وى دى، چې دا مورږ يې هم كاروو، په شمېرپوهنه كې يې هم كاروو، په پښتو : و... ته،، سره سر خوري):
مورږ په پښتوگې نسبت ټه څه وايو؟ ( څه ووايو سم نه دى، ځكه دا مورږنه وايو، دا څه ورته ويلكيږي، دى. له دې امله: څه وايو،دى).

دلته هم شيان سره پرتله كيږي
دا چې نسبت پښتو نه دى، نوكارونه يې كيدى شي له عربي څخه بل ډول وي، خومورږ يې هغه پښتو ډول سره كولى شو، ځكه په عربي خونه پوهيږو.
په گڼونو كې لويوالى، كوچنيوالى اوبرابروالى سره پرتله كيږي.
زه به يې د شمېرپوهنې بېلگو څخه پيل وكړم:
بېلگه:
۲ نسبت ۴ (ته) كوچني (دى)په كسانو يا شيانوكې، لويوالى، ښكلا، پلنوالى، ..

كسان يا شيان:
الف نسبت ب (ته) ښكلى ( جگ،پلن،...) دى.
تناسب: گڼونو كې:
د دوه گڼونو پرتله كونه كه دا سي وي، لكه د نورودوه گڼونو،نو وايو:
۲ نسبت ۴ متناسب ۳ نسبت ۶ ته
يا يې انډول ۲ پر څلور برابردي له ۳ پر۶ سره

نسبت به نو په پښتوڅه وي؟
په گڼونوكې پرتله كونه:
۲ و ۵ ته كوچني دي

كسانو يا شيانو كې
سپين وشين ته ښكلى(جگ،....) دى
د ننگرهار انگور د كابل انگورو ته ځواږه (تروه، ....) دي
نوگورو، چې د عربي ،،نسبت،، د پښتو ،، و..ته،، سره انډول دى.

تناسب به نوپه پښتو څه وي؟
۲ و۴ته داسې دي لكه ۳ و۶ته
يعني ۲ پر څلورو برابردي د ۳ پر ۶ سره.
سپين وشين ته داسې جگ( ښكلى،....) دى لكه برگ وخړته.
په پورته كې نوتناسب د برابر په مانا دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا داسي هم وايو چي:
سپين وشين ته په جګوالي کي داسي ځان نيسي، لکه برګ وخړ ته.
ګوروچي دلته تناسب ته د پښتو انډول،،ځان نيونه،، کيدی شي.

که شميرپوهني ته پام وکړو،نومتناسب دبرابرپه مانا راځي.

الف وبه ته داسي جګ دی، لکه پ و ت ته

يا الف و ب ته (داسي) برابر جګ دی لکه پ و ت ته.

تناسب داسي هم ليکو.

a/b = c/d

پخوا موداسي هم ليکه: a:b::c:d
ګومان مي دی انګريزي کي يې اوس هم داسي ليکي.
لاس ته راوړنه: ګورو، چي پرتله کونه د ،،تر ،، سره نه کيږي.
بيا: سپين وشين ته ښکلی دي يا
سپين له شين ځخه ښکلی دی.
ناسم: سپين تر شين ښکلی دي.
خو سمي پرتله کوني له پاره ليکو، چي : سپين له شين ځخه ښکلی دی.
نو د ،،تر،، سره پرتله ونه نه شي کيدی،دا د ،،له ... ځخه،، سره کيږي.
که څوک وپوښتي، چي شين ښکلی دی، که سپين؟ :پای يادونه
.ښکلی دی ( ي )سپين تر :نو ځواب داسي هم ورکولی شو
.مخه مو چي وويل ورځخه ښکلی دی ی لکه دد دلته نو دا تر نه دی دا تري
په پورته کي مو .دي ،،تر،، او ،،تري،، دي په ليکنو پام وشي، چي سره بدل نه شي
وليدل، چي دا پرتلونه په ،، تر ،، سره همغه ،، د ،، تري ،، سره بايد وي، چي دا يې
.ورسره نه ده ليکل شوي

## ادجکتيو يا خوي وی Das**Adjektiv**

،، ورزيات ) (lateinisch *[nomen]* )*adiectivum*, *ad-iectivum* nach altgriechisch *epí-theton*

شوی،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژبپوهنه کې هغه ويېول دی، کوم چې د يوه څرګند شي يا يوه ذهني شي، يوې کيدنې يا کړنې يا حالت او داسې نور جوړښت روښانه يا تشريح کوي.

ادجکتيو،،خويوی،، يا ،،ملوي،، هم بلل کيږي، په ښوونځې کی ،،ښکه،، وی( يو شی ښکه دی؟) هم بلل کيږي.

يادونه: زموږ ادبيان داخوې ستايننوم بولي چې د عربي د صفت انډول دی. په دی هکله دې ژبپوهان خپله پوهنه منځ ته راواچوي، چې کوم او ولې ښه يا سم دی.

خوی ويونه کيدی شي وکارولشي:

attributiv (auf ein Substantiv bezogen, z. B. der *schöne* Tag),

- اتريبوتيو( يوه شي اړوند يا يوه شي ته يې نسبت وکړی، د بيلګې په توګه. ښکلې ورځ (

prädikativ (als Teil eines Prädikats mit Kopula; z. B: der Tag ist *schön*) oder

- پرېډيکاتيو ( د يوه پرېډيکات برخه د کوپولا سره: د بيلګې په توګه: ورځ ښکلې ده) يا
- ادوربال adverbial ( هغه ښکلې سندرې وايی)

د ګرامرټول د خبروڅه پوره غزيدلې وي،خو د اوس له پاره زه په دې لړخه بسيا کوم. که ژوند وو، نو بيا به يې سم وغزوم، خو دا کار د ژبې مينه وال ښه کولی شي.

د الماني ژبې زيات خويونه کيدی شي جګ شي. دا تلنه کومپاراخيون Komparation يا درجه بندي بلل بلل کيږي.

موږبه يې دا اوس همدا د ډېر اوخورا سره درجه جګه کړو.

Positiv: *schön*ښکلی

ډېر ښکلی .

Komparativ: *schöner*

(c) ketabton.com: The Digital Library



Superlativ: *am schönsten*خورا ښکلی

داسې خوینونه هم شته، چې د هغوی د جګونې سره ستوی بدلیږي:

او موږيې بیا په ډېر اوخورا سره جګوو:

gut, besser, am besten;ښه،ډېر ښه ،خورا ښه

viel, mehr, am meisten. ، زیات، ډېر زیات، لا زیات

دې ته ټول مینه رابولم،چې اندونه سره ګډ کړي.

اوکه د نوروژبوڅخه یې هم ګټه واخستله، نولا نوربه هم ښه شي.

ځنې خوینونه شته،چې په هغې دا جګیدنه نه شي راتللی:

ټیک همغه یا مطلق خوینونه لکه بلاربه ( ډېره بخښنه دې وي، چې دا بې ادبي ونه ګڼی، که حامله ولیکم هم همدا ده، خوعربي ده)،مړ اونور.

د رنګونو جګیدنه بیا شته لکه شین، تک شین، شین چک.

سپین، تکسپین، سپینچک اوهمداسې نور. د دې بلاربې سره یوه ټوکه رایاده شوه، په ډېرهبخښنه بهدا دلته هم ولیکم. زماد ښوونځیو ملګري دروېزه اڅکزي د الماني پښتو دګشنري لیکلي، هغه د الماني یو وی شاپزي ته د پښتو مانا غول لیکل وو، چې دايي انډول دی. یوه بل افغان ورته زنګ وواهه، چې دروېزه صیب دا د شاپزي مانا خو دې ډېره بې ادبه کړې. ده ورته وویل چې څه مې لیکلي وی، دې کس ورته ښبېړته په ځواب کې وویل چې: بولي.

ډاکتر ماخان میرۍ شینواری

## ته ،،د پښتو ستاینومونو درج،،

لیکنه ته، چې زه یې داسې لړ ځېږم عبدالحق سلامزوی د دې سرلیک لاندې درانه استاد !ډېرو ګرانو د پښتو پوهانو د پښتو استادانو او درنو لیکوالانو

.ډېر زوربړم، چې داسې لیکنې کوم

باورپه لوي ښتن وکړی، چې زما هیڅ یوه لیکنه د چا سره د دښمنی له امله نه ده او بیا زه تاسو ته لوړه کوم، چې د ځان پالنې له امله هم نه ده او بیا مې دې لوړه وي، چې کلکسترګی انسان هم راته ځان نه برېښي او شعوري کلکسترګی نه یم، خو زه چې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په .نواستادانو لیکنې ګورم، ډېر زورېږم‌لیکنې او په ځانګړې توګه د پوهنتون د در یواځنې توګه، لکه چې په ټوله پښتنې نړۍ کې ناروغه یم، چې ستاسو پوهنیزه لار سره زه بیا مې دې په لوې ځښتن لوړه وې، چې دا څه لیکم زه هم .په مخامخوالې کې پروت یم روغ برېښې او په هر صورت ما ته ځان .زورېږم او که ویې نه لیکم، نو هم زورېږم تاسو هم په دې اند یاست، چې زه به روحې ناروغ نه یم، نو مرسته راسره وکړئ او په

هرڅومره توند غبر چې وې او په هره سزا زما د کړنو له امله ماته کومه سزا ټاکئ، لوړه مرسته وکړئ درته کوم، چې زه به ورسره مخامخوالی ونه کړم، خو.

زا په دې د ښاغلي عبدلحق سلامزوي په لیکنه خپله لیکنه کوم، چې داسې لیکنه ځانله د سلامزي صیب اند نه دئ

هر څوک چې ټولنې ته یو څه وړاندې کوي، په تېره بیا د پوهنتون استادان، هغو غواړي راکړه او ورکړه ده دا .یو څه نورو ته وښایي، نو د دې لپاره دی هم باید یو څه زده کړي.

څوک چې په پوهنیزه څانګو کې کار کوي، نو هغوي دې ته هم چمتو وي، چې د نورو ګوتتونې ځانیزې ونه ګڼې.

زما ډېره بدمرغي په دې کې ده، چې زه یواځې یم او له دې امله نو باید په ناحق و اوسم، ته په ګوته کړئ، په دې خو د دې ناروغۍ ستاسو مرستې ته اړتیا لرم، چې زما ناروغي را کې به لوي ځښتن تاسو ټولو ته اجرونه درکړي.

خورې شوي –په دې هکله هم –زما ډېرې لیکنې د تاند په درنه پاڼه کې.

یوه هیله مې دا ده، چې لکه څنګه چې زه ستاسو لیکنې را اخلم او خبرې پرې کوم، دلایل و هیله ده، چې زما لیکنې هم په دلایلو راوړم او ستاسو د لیکنو خوندیونه په ګوته کوم، ن راته بېرته راوګرځوئ.

زه ډېر خوښ یم، د ښاغلي سلامزوي صیب لیکنه کې یې انګرېزي او فارسي هم راوړي، نو ښې خبرې پرې کېدی شي.

اجازه دې ویو چې زه دا لیکنې ټوټه کړم، د خوندیونې د سمو ساتلو سره او بیا خبرې پرې جازه دې دا هم وي، چې زه دا مور ستاینومونه بللي په خوي وی او یوه اخره ا .وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

.چې په پښتو  خویوی بلل کیږي، هم ما لیکنه کړې Adjektiv وبولمد
،، ما په پرتله کونه باندې یوه لیکنه کړې ، چې کتاب کې شته، دا به بیاپه یاد راوړم، چې د



تر،، سره په هیڅ ژبنی لار پرتله کونه ناشونې ده او وبه ګورو، چې دلته دا ،، تر،، د څه په ځای راوړل شوی

البته ښه، ډېر ښه؛ خورا یا 》 :مګر د استاد دوکتور اجمل ښکلي په وینا،، :لومړی الف کې پټه پرتله ده یا ضمناً پرتله ده خو اصل کار یې د زښت ښه په اصل کې صریحه نه بلې باندې جوړېدونکي عبارتونه (تر ټولو ښه) او (تر) خو .یوه شي مبالغي توصیف دی ،، 《.ځرګنده پرتله لري

:لومړي الف ته
ډېر منلی پوهاند ډاکتر ښکلی زموږ یو خورا وتلی پښتو پوه دی او زه یې لیکنې تل لولم، زه ډېر زوربېږم، چې څه د پوهاند صیب په لیکنه لیکم، خو نو څه .دې ډېرې په زړه پورې وکړم.
ستایننومونه سره پرتله کیږي نه، ستایننومونه یا خویویونه جګیږي، چې موږ په پښتو کې ورته د نورو ژبو غوندې لار نه لرو، نو دا به په ډېر یا خورا یا زښت او یا یو بل څه کوو.
ي، له دې امله بیا،، تر،، او ،،ترټولو،، ته هم اړتیا نه شته چې نو چې پرتله کونه نه کیږ سره پرتله یې کړو او د ،، تر،، او ،، ترټولو،، په هکله مې د تاند په درنه خپرونه کې په دې هکله هم لیکنې خورې شوي، خو دومره وایم، ،، ترټولو،، کومه ترې پوهېدنه نه لارې هم د پرتلې له پاره  هم نه دا ،، تر ،، او نه  لري، چې د څه شي ترټولو او د ژبلار له .ترټولو،، کارول کیږي ،،
که د لیکونکي موخه د خویونو یا  :په پیل کې په دې باندې باید ټینګار وکړم، چې ستایننومونوپرتله کول وي، خو دا لیکنه له یوه سره ناسمه ده، چې ستاییننومونه نه سره .ي، په هره ژبه کې د اړونده لارې سرهپرتله کیږي، ستایننومونه جګیږ
.لومړی

:ښاغلی سلاموزوی صیب لیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خبره په خپله د ستاينومونو ترمنځ پرتلنه ده، چې د انګرېزي يوڅېپزو ستاينومونو ب،،
په .په مټ کېږي 《ترين》 او 《تر》 او د فارسي د 《est》 او 《er》 ترمنځ د
دې ژبو کې که د



پرتلنې خبره نه وي، دا روستاړي او يا يې د دوه څېپزو او يا درې يا څلور څېپزو لپاره د
کړولونه ورسره د مجردو کلمو په ډول نه کارول کېږي، 《most》 او 《more》
،،،کوي بلکې د جملې د ننه مانا زېږوي او پرتلنه

:لومړي ته

: يو

باور وکړی، چې زه خو د پورته غونډالې په موخه ښه ونه پوهېدم، خو په هر :يو الف
.صورت دې پرتلې ته به راشو

.ستايننومونه جګيږي .ستايننومونه نه پرتله کيږي :يو ب

ه پرتله ستايننومونه سره نه پرتله کيږي دا په دې مانا چې ډېر يا لږ ې ښکلا سره ذ : يو پ
د دوه يا ډېرکسان ..نه شته (ناسم يې واحد )کيږي، ځکه د دې له پاره د کچولو يووالی
سره د خويونو له مخې يا د خويونو په بنسټ پرتله کېدی شي، چې کوم يو يې
يا دوه کسان سره .دی ( -خورا ،-ډېر)منلی ،( -خورا ،-ډېر)دروند ، ( -خورا ،-ډېر)ښکلی
ي کوم يو پلن دی، دا په دې مانا چې کسان سره پرتله کيږي، دروې او غواړې پوه شد
.هغوي د ګډو خويونو له مخې سره پرتله کېدی شي

که ووايو، چې جګ له جګ سره پرتله کړه، نو دا موخوره ويېنه نه ده، دا هيڅ نه وايي،
د خو که ووايو، چې د دې انسان جګوالی د دې ونې سره پرتله کړه يا ښه يې دا دوه شيان
جګوالي له مخې سره پرتله کړی، دا کېدی شي، ځکه چې ونه هم چګوالی لري او انسان
.هم

منځ کې،،کېدی ،، .ترمنځ،، ناسم دی، ځکه چې ،، منځ،، او ،،تر،، اړيکويونه دي ،، :دوه
.په دې هم يوه ليکنه لرم .شي

.دويم

:منلی سلامزوي صيب ليکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه:

۱-Studying book is a good entertainment.

۲-Studying book is better entertainment than playing ladoo.



۳-Studying book is the best entertainment.

په 《تر واړو》 او 《ترګردو》 یا 《ترټولو》 او 《تر 》 په پښتو کې همدا پرتلنه د دلته همدا (۱) {.معادل دی 《تر》 هم د پښتو د 《than》 د انګرېزي} .کېږي مټ پاسنۍ بېلګه رااخلو:

مطالعه ښه بوختیا ده ـ ۱.

ښه بوختیا ده (یو ډول لوبه) مطالعه تر لډو ـ ۲.

یا؛ تر ټولو ښه بوختیا مطالعه ده .مطالعه تر ټولو ښه بوختیا ده ـ۳.

یا دانګرېزی دا بېلګه:

۱- Ahmad is a senior teacher.

۲- Ahmad is senior to Ali.

۲- Ahmad is the senior most teacher in the Kabul.

استاد دی (ارشد) احمد لوی ـ ۱.

لوی دی (په درجه کې) احمد تر علي ـ۲.

احمد په کابل کې تر ټولو لوی استاد دی ـ۲.

دویم ته :

هغه عربي هم ورسره غواړی، نو،، نسبت ته،، یا که ...پښتو انډول ،، و to د :یوه یادونه ... به ... یعنې الف .ته،، یې انډول دی او نه بل څه او فارسي انډول یې هم ،، به،، دي ...و ...ب

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې چې څوک پوښتي پغمان لرې دی، که لوګر نو نیسو چې ځواب دې :بېلګه یې
پغمان به لوګر نزدیک است : يې

.ر ته نږدې دیپغمان و لوګ :او پښتو يې

.



دی او نه تر او په همدې د درې د ،، از،، (څخه)...د پښتو انډول له than د : ۱ الف
دا به په همدې غونډالو کې .،، دی او نه ،، تر (څخه )... انډول پهپښتو کې هم ،، له
.انه شيروښد

پورې کې یواځې یوه پرتله کونه ده، هغه هم پوره ۳ تر ۱ په پورته کې خو له غربي :الف
ناسمه او دا نور خو یواځې د یوه څهخوي ښوول شوي، چې زه به یې بیا وژباړم او

تر،، سره پرتله کونه نه شته او ،، دا ،، ترټولو،، خو هېڅ ترې پو هېدنه نه لري، ،، : ب
ر،، پرتله کونه هم وي، نو د څه شي تر ټولو؟ په دې هکله مې هم لیکنه شته، یعنې که ،، ت
.چې ګران لوستونکي يې د تاند درنه خپرونه کې کتلی شي

.پورې انګرېزي په پښتو سمه ژباړه ۳ تر ۱ د لومړیو عربي ګڼونو - پ

مخوالی او که تاسو ورته بل څهوایی، زه یې مخا –و ځورا –ډېر ) کتاب لوستل ښه – ۱ ۱
.بوښتیا ده ( نه لرو، خو نه په،، تر،، او ،، ترټولو،، سره

.یا به دا بوښتیا ښه، ډېره ښه،او یا خوراښه وي .ګوری دلته څه شی سره پرتله کیږي نه
.دلته د څه شیانو پرتله نه شته

.هبوختیا د ( - خورا ،- ښه) څخه ډېره ښه - (کولو) لډو لوبې (د ) کتاب لوستل له – ۲ ۱

دلته دوه څه د بوختیا له مخې سره پرتله کیږي او له دې امله دا د خویویونو پرتله کونه نه
.ده

.کتاب لوستل خورا ښه بوختیاده – ۳ ۱

.څخه،، له لارې کیږي ... له .. په پورته کې پرتله کونه د

:د انګرېزي بله بېلګه کې یې د انګرېزي په پښتو ژباړه –ت

پورې ۳ تر ۱ له عربي ګڼونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ښوونکی دئ ( - خورا ، - ډېر) احمد یو مشر – ۱ الف

.دئ ( - خورا ، - ډېر ) احمد و علي ته مشر – ۲ االف

.ښوونکی دئ ( - مشر، ډېر) احمد په کابل کې خورامشر – ۳ الف



.رتله کونه ده او بسېږ – ۲په پورته کې یواځې الف

ڎخه سره کیږي او په دویم کې پرتله کونه د ... کې پرتله کونه د له - ۱ ګورو چې په الف
.،،ته،، له لارې کیږي او نه د،، تر ... و ،،

.

.دریم

.ښاغلی سلامزوی صیب لیکي

:نو دلته موږ اړ نه یو چې بابېزه ځانونه ستړي کړو او ولیکو چې

.یاحمد لوی استاد د -۱

.احمد تر علي ډېر لوی دی -۲

.احمد په کابل کې خورا لوی استاد دی -۲

:د فارسي بېلګو ته هم تم کېږو

.احمد بزرګ است -۱

.بزرګتر است علي (نسبت به) احمد از -۲

.احمد بزرګترین خانه است -۳

:کې یې داسې وایو.چې په پښتو

.احمد مشر دی -۱

.احمد تر کریم مشر دی -۲

.کور تر ټولو مشر دی احمد د -۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پیل کې څه لیکي، چې په موخه یې زه هم ښه پوه نه شوم، خو کلیوالي خبرې :دریم ته دي او ترې تېرېږم او له ،، نو دلته مور اړ نه یو چې بابېزه ځانونه ستړي کړو او :څخه یې تر څېړنې لاندې نیسم ،، :ولیکو چې



.په پورته کې یې ،، از،، په تر ژباړلی او د ،، بزرګترین په ځای یې ،، تر ټولو،، لیکلی دې ته مې پورته ګوته نیولې، چ دواړه ناسم دي، خو داسې یوه یا څو د فارسي یا دری to د انګرېزي څخه،، انډول دی او دا... غونډالي راوړو او وبه ګور، چې ،،از،، د ،، له .انډول په فارسي کې ،، به ،، دی

.احمد در صنف خود از محمود گرفته تا بهرام از هر کدام شان بزرگ است

پښتو یې که پورته دري مې ناسمه لیکلې وي، نو بخښنه غواړم او تاسو یې راته سمه .کړی

.مشر یا لوي دی احمد په ټولګي کې له محمود نیولي تر بهرام پورې له دوي هر یوه څخه

که پهپرته کې د دري،، از ،، ځای ،، تر ،، ولیکو نو دا به څنګه وبرېښي او بیا به نو د ،، :تا ،، پهځای څه ولیکو یعنې که ولیکو، چې

.... احمد په خپل ټولګي کې تر محمود څخه نیولي تر بهرام پورې تر هر یوه څخه

.نه هم د د ،، از ،، په څېر ولیکودا به ښه ونه برېښي، چې د ،، تا،، ترې پو هېد

دلته د ،، از،، انډول څه شی دی او د ،،تا ،، آندول .څنګه په پښتو ژباړو؟ از کابل تا هرات څه شی دی؟

.کهداسې وی نو بخښنه به کړی .دا لاندې لیکلي وو، خو ګومان مې دی تکرار وي

:او دري سمې ژباړې دلته بیا د دویم انګریزي په پښتو :(؟)و دویم او دریم ته

۱- Ahmad is a senior teacher.

۲- Ahmad is senior to Ali.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢- Ahmad is the senior most teacher in the Kabul.

پښتو ژباړه.

احمد مشر ښوونکی دی -١.

ړړړړړړ..................... ٦۴ ............

و علي ته مشر دی (...نه دی، باید هم نه وي، خو اړیین )نسبت ) احمد – ٢.

احمد کابل کې خورا مشر ښوونکی دی – ٣.

(درې یا فارسي مې داسې غښتلې نه ده، خو دا راته ساده برېښي )د درې ژباړه

است (بزرک)احمد معلم ارشد – ١

است (یا بزرگ) احمد به علی ارشد – ٢.

احمد بزرگترین معلم در کابل است – ٣.

ورو، چې دلته د لیکونکي د خوښې څه نه دي راغلي.

د لیکنې په پای کې یو څو اړیین پېژندونه

پرتله کونه نو څه ته وایي؟

دوه کسان سره ودرې او :د دوه یا زیاتو شیانو د غوښتونو لوي یو د بل سره پرتله کونه وایی، خو سوچ ډېر، خورا او که بل څه ورته ) ) غواړي پ،ه شي، چې کوم له بل څخه یا (لوي پلن، نېک، خوارېکښ او یا ښکلی دی (بوچ نه ،، تر،، او همدا ډول،، ترټولو دوه یا څو کتابونه او یا یو بل څه سره پرتله کیږي داسې هم کېدی شي، چې د یوه لرګي دروندوالی خوي دی، چې .دروندالی د وسپنې یا د یوه انسان یا یو بل څه سره پرتله کړې یان یې لري، نو د دې خوي له مخې دوه شیان سره پرتله کېدی شيدوه شد.

positiv; komparativ; superlativ , خویویونه سره جګیري، چې په الماني ورته یوه پوره لیکنه لرمAdjektiv په .وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاتین وی دی، چې پښتو مانا یې،، ورزیاتونه،، ده او په ژبپوهنه کې هغه ویډول :ادجکتیو دی، کوم چې د یوه روښانه شي، یوه ذهني شي، یوه مخ ته تګ یا همداسي پرمختګ یا یې نور هم د مخ ته تلو یا یوه حالت جوړښت څېړي.



ه ښوونځي کې څنګه وی هم بلل کیږيدا ادجکتیو خوي وی، ملوی او همداسي پ

زه دا په خپلو لیکنو کې خوي وی بولم

خویوی وی، چې شتون یا شته یا شی، یوه پېښه یا یو حالت د یوې ټاکلي :بل پېژند د بېلګې په توګه، رنګه، ښکلی او )نخښې، د یوه ټاکلي خوي سره په نخښه شوی، خویوی (نور

.هیله ده، چې ډېر مې نه وی زورولي .زه نور د دې لیکنې سرهسترې شوم

دا یادونه د لیکنې خوندیونې سره سر او کار نه لري او که :په پای کې یوه اړیینه یادونه :لري یې؟ نه پوهیږم، خو ښه ده، چې پرې پوه شو

په دې لیکنه کې هم ګورو، چې دا ګڼل ټول په ګنونو شوي، دا په دې مانا، چې یو ډول ک څه په لیکي یا څه ترې زده کوي او رااخلي، نو سړی په کې د بربېښي، نو بیا چې څو د بېلګې او .ښه لار یې داده، چې ګڼل د بیلابېلو لارو وشي .ستونځو سره مخامخ کیږي وړاندیز په توګه کیدی شي لومړی دا ګڼل په ګڼونو وشي، د بل ځل او ځای له پاره دا ګڼل ، ۱ ب او بیا خو نو نورې لارې هم شته لکه الف ،په تورو ولیکو او د بیا له پاره په الف .او نوره مو چې څنګه خوښه وي ۳ الف ، ۲ الف

Smakhan1946@gmail.com

ډاکتر ماخان میرې شینواری

## سلمه اونه سلنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دا ليکني ځوکاله پخوانی دي، خوخوښ شوم، چې اوس يې تاسوسره د درنې خپروني تاند له لارې تاسوسره شريکوم، چې څه غزېدلي دي. دا په دې هيله، چې يا ماته دليل ووايی، چې دا لار پرېږدم اويا تاسو دا درانه ليکوالان د خپلو ناسم بللو ويونوڅخه تيرشی.

ډېر درانه اسوشيتد پروفيسور ليوال صاحب!

هيله ده، چې زما سلا مونه او نيکې هيلې به ومنې. باور وکړه، چې هيڅ مې زړه نه غوارې ستا له ارزښته ډک وخت ونيسم، خو زما زړه غواړي دا زما ليکني تاسو ته هم



وښايم، په دې هيله ، چې د وخت د پيداکيدو سره لږ پام ورته راواړوې، خو دومره بيړه مې هم نه ده.

ما د اوبلن په هکله هغه وخت د پښتو نصاب ليکونکو سره هم خبرې وکړې، خو هغوې ته دا اوبلن - بې له کوم ژبنيزيا سم انديزدليله - ښه برېښيده.

د سلني په هکله هم داسي لږ څه.

موږ له پيداښته سلمه لرو او په پيداښت کې ګوتې وهل کله هم سمه لاس ته راوړنه نه لري.

دا د سلمې په ځای سلنه راوړنه کوم ژبپوهنيزاوشميرپوهنيز بنسټ نه لري اونه يې هغه منځته راوړنکي کوم دليل ورکړی اونه يې وړکولی شو.

يو څه چې يو ځل ناسم ورځني شي، بيا يې سمول هم ډېر ستونځمن وي.

دا له لارې وتل زما – د يوه شميرپوهنې لوستونکي - د پاره زورونه ده.

داسي وی بدلون چې منځ ته راغلي له ۱۷ کاله زيات نه کيږي او کوم يو ليکونکي رامنځ ته کړې، بې له دې چې په مانا او په پسي ناسمو راتلنو يې وپوهيږي. تر اوسه موږ د داسي سلني سره مخامخ نه وو.

دا به نوڅنګه او چا يا دکومې رېښې خاوند منځ ته راوړې وي؟

دا چې داسي بلل زرخوريږي، هرومرويوژورنالست به دا کار کړی وي، چې داسې پښتو پوه اوپه ژبه کې ځانته نوښتګر به هم ځان ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي کس ممکن د ځان سره فکرکړی وي، چې يوڅه نوي را پيداکړي، نو دا سلم ورته ښه نه دیَ برېښيدی اوويلي به يې يي، چې دا سلم خود صدم سره لږ خپلوي لري، نوراځه دا سلن کړه. دا ناسمون يې په خلکو تپلی. خلک هم داسې يونوي څه زر رااخلي بې له دې، چې په سم او ناسم کې يې فکر وکړي. ټولنه خوپه دې باورلري، چې ژورنالستان خوربښتيا وايي او يوژورنالست چې څه وايي، نور باور پرې کوي.

دا کس هرومروپه شميرپوهنه داسې لږ هم نه پوهيده، که نه دا کاربه يې نه وی کړی.



خبره نه اوږدوم لنډ دا سلنه د شميرپوهنې په بنسټ څيړم.

د هر څه له مخه به دا ووايم او په دې لوربه کار وکړم،چې ۱۰۰ همداسې يو ګڼ دی، لکه۱ ،۲ ،.... ۱۰۵ اونور.

موږلرو: ۱ ، ۲ ،.... ۲۳ ،..... ۸۱، ۹۵ ،...،۱۰۰ ، ۱۰۱ ، ۱۱۵ ،. ....

که د يوڅه څومره والی غواړووښايو، نو ليکو:

دا په ګڼونو يا شميرپوهنيز داسې ليکو:

۱ –م،۲ – م،.. ۲۳ – م، ۱۰۰ – م ( دا ۱۰۰ – ن نه شو ليکلی)،۱۰۱ – م اونور

په ليکنيزډول يې داسې ليکو:

لومړی يا يوم، دوهم (که دوه وي، نو دوهم او که دوې وي، نو دويم)،... درويشتم،...، يو اتيايم، پنځه نويم،..سلم ( نه سلن)، يوسلو يوم، يوسلو پنځلسم اونور

له بلې لورې د ګټې، ګټې- ګټې او په ۱۰۰ يا ۱۰۰۰ کې شميرنه چې کوو، دا د ۶۸ يا د ۱۲۵ګڼونو سره هم کيږي، چې بيا يې په اته شپيتم او يا په يوسلو پينځه ويشتم کې شميرنه بولو، خو دا سل دوه او زردرې صفره لري، چې هره شميرنه ورسره ساده کيږي، نو له دې امله دا شميرنه د۱۰۰ او ۱۰۰۰ سره کوو، بل دليل نه لري.

داسې مخ ته ځو:

۱۰۰/۳۰ په دې مانا، چې دبرش په سلو، يانې ۳۰ په سلو وېشل شوي يا له سلودبرش اخستل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که بانک په سلو کې پنځه ګټه ورکوي، نود هغې له پاره هم لیکو: ۱۰۰/۵ وایو پنځه په سلو کې

که ګټه دېرش په سلو کې وي، نو بیا لیکو: ۱۰۰/۳۰ او وایو دېرش په سلو کې.

که ګټه په ۶۵ کې ۳ وي، نو لیکو: ۶۵/۳ اووایو ۳ په پنځه شپیته کې.

دا موږ داسې هم وایو: پنځه سلمه، دېرش سلمه او ۳ پنځّ شپیتمه.

.



که موږپه پورته کې پنځه سلنه، دېرش سلنه وایو، نو بیا دیرش شپیتنه هم باید ووایو، دا په دې مانا، چې داسې د پیداښنتې لیکنوهغه پیداښنتې بنه باید تولـه بدله کړو.

## دا چې دا مې پوره زوروي، نورې بیلګې:

که ولړو:

۱۰۰/۳۰ = ۱۰/۳ اونږدې =۳/۱

له بنی و کیڼ لور ته باید ولولو: ۳۰ سلنه برابر درې لسنه اونږدې برابر یو درینه.

او همداسې

۱۰۰۰/۲۳۰ =۱۰۰/۲۳ اونږدې = ۱۰/۲

نودلته هم باید دوه سوه دېرش زرنه برابر درویشت سلنه او نږدې برابردوه لسنه ولولو.
او

۱۲۱/۳۷ ، ۲۱/۵ ، ۸/۳

په پورته کې هم باید بیا له کیڼ و بنې لورته ولول: درې اتنه، پنځه یوویشتنه او اوه دېرش یو سل یووېشتنه .

دا په دې مانا، چې ـ لکه پورته مې چې ګوته ورته ونیوله ـ که داسې نه وي، نو ګرانو هیوادوالو باور وکړئ، چې دا دېرش سلنه نه ده، دا دېرش سلمه ده، لکه دا نور هم ـ نه نه ده او ـمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا: ګورو، چې یو ناسم څه ژبې ته ساده ننوځي او ترې را وتل یې بیا پوره ستونځمن کار دی.

که موږ هرڅه لیکو، باید په دلایلو او سم اند ودان وي، یعنې نوي څه. یو څه که زموږ لپاره نابلد وي او پرې پو هیدنه باندې یې شک ولرو، هغه دې بیا نه کاروو. داسې ویل کیږي، چې داسې کارونه باید دولتي څلوردیوالی کې وشي، خو ...

<u>پایونه: یا به ټول - مه په –نه اړوو او یا به د سلمې له پاره له سلنې څخه - چې ډېره ناسمه، د پیدابښت سره تیري، توکلي، بې سم انده اوله لارې وتلې ده او په شنه زور مو منځ ته راوړې – تیریږو.</u>

۶۹ ..................ږ ...............

<u>دېرش سلمه او نه دېرش سلنه!</u>

ستاسو له سرې سینې ډېره مننه او که هره او څومره نیغه ګوتڅنډنه وي، په دې لار کې په مازړه سوی مه کوئ. زه تراوسه یواځې یم. ملګري مې شئ او یا مې باوري کړئ.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

# ،،ترډېره برېده،، سوچ بوچ ناسم دئ

ګرانو لوستونکو!

که پوره زیر شو، نو دا ،،تر ډېره بریده،، زموږ لیکوالان ډېرکاروي چې ما هم له دې امله ډېرې لیکنې ته اړباسي..

موږ تل په ،،برید،، د ،،برید،، له امله په پوله برید کوو، پوله د برید برید ګرځوو اوبرید یې پرېږدو. خو دا مو د خبرو موضوع نه ده، که پوله وي یا برید.

موږ دې ،، تر ډېره بریده،، د ویونو یو په بل پسې لیکلو ته خپل پام را ګرځوو، چې ایا داسې یعنې ،، تر ډېره برید ه،، موخه په ګوته کوې او که نه؟ یا شته ا وکه نه؟

یو څوک چې د یو څه سرته رسولو لپاره هلې ځلې کوي، نو تر ممکنه یا شونې یا کیدونکي بریده یا تر پولې هڅیږي او نه تر ډېره بریده یا تر ډېرې پولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو څوک د یو څه سرته رسولو لپاره ډېر زیار باسي او ربړې وګالي، نو وايي، چې له بریده یا له پولې ډېر یا اخوا او نه  تر ډېره بریده. دا په ختړه کې دده د توان پوله ده یا پوله باید وي.

لنډ: ،،ترپولې پورې،، یا هم ،،له پولې ډېر،، یا ،،له پولې لړ،، لړو ( نه تر (په ،،تر،،به بیا غړیړو) پولې لړ). دلته موخه په تر کې نه ده، خو نه تر ډېرې پولې اونه له ډېرېپولې شته.

لاس ته راوړنه:  تر ډېره بریده یا تر ډېرې پولې  نه شته ځکه، چې پوله یوه ده، نو څنګه ډېرشي.

تر پولې پورې یا د پټي د پولې پورې او...: دا شته.

………………… 70 ……………ړ

ما  د یوه ن ج  په مضامینوکې دا لاندې ولوستل:

،، ...سیمه کې بدلونونه تر ډېره بریده د امریکا او  غیر اسلامي متحدینو د ...،،.

او  همداسې: ،، تر ډېره بریده داسې ډنډوره شوې...،،.

دلته خو ،، تر ډېره بریده،، ته اړتیا هم نه شته، خو که لیکونکی غواړي دا د ټینګار په توګه ولیکي، نو بې له تر،،او ،، بریده،، یواځې ډېر لګلی شي یا ډېر وخت یا ډېر ځله، ډېر واره، چې یو څه ترې پو هیدل کیږي او که بیا هم غواړي برید په کې ریشي، نو ،، له بریده ډېر،، یې بیا موخه ور دی.

او یا  ،، اویاهم تر ډیره بریده سیاسي اواقتصادی ... ،،

سم یې لړو:

له بریده یا پولې ډېر.

له برید څخه اخوا.

تر لرې پولې ( پورې).

له پولې اخوا ( دلته ګوره هم ،،تر پولې اخوا،، نه لیکم)

تردې نږدې پولې( پورې).

تر هغې لرې پولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسې نور.

زيات کسان په دې اند دي، چې ګوندې دا ،، ترډېره بريده،، خو په دري يا فارسي کې هم شته.

نه! داسې نه ده. په فارسي کې داسې نه وايي او زمور ليکوالان يا ژبپوهان چې وايي، دا ناسمه ده.

زه داسي ښه په فارسي نه پوهيږم، خودا له دري ښه په اندول پښتو کولی شم.

په دري کې که ووايي:

۱ - تا حد زيات



۲ - از حد زياد
راځئ د دې اندول په پښتووليکو:

و ۱ – ته – زه په دې اند يم، چې ګوندې دري ژبې به داسې نه وايی ،، تا حد زيات،، او که وواي هم،

نوموخه به يې دا وي چې : تا حد کوشيدم واين چند دفعه يا زياد.

که مورډا په پښتو اندول ليکو ،نو،، تر بريد ډېر يا تربريد پورې ډېر ياني ځوک تربريده پورې ډېر واره وهڅږي، مګر نه ترډېره بريده ( پورې).

شننه: يو کس بايد يو کار په ۲ ساعته کې پای ته ورسوي ( دا دوه ساعته بريد دئ)، خو هغه نه توانيږي اودی دا کار ډېر واره تر دوه ساعته کوي، دا په دې مانا چې دی تر بريد پورې – چې دوه ساعته دئ – دا کارد نورو دوه، دوه ساعته له پاره کوي، دا په دې مانا، چې تر بريده پورډېر هڅيږي..

و ۲ – ته- له بريد څخه ډېر.

شننه: يوکس د دوه ساعته د کارتوان لري اوهغه، چې درې ساعته کار وکړي، نوکار يې له بريد څخه ډېر وکړ،

دا ۱ – تر بريد پورې ډېر او

۲ – له بريد ( څخه) ډېر اودا سم هم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا : ترډېره بریده

په دري انډول: تا بسیارحد. دا ګوره تا حد بسیار باندې نه شي اړول کیدی.

یادونه: ترډېرو بریدونو ( پورې) شته. د هیواد تر ډېروبریدونوپورې تللی یم.

همداسې: له ډېروبریدونو( څخه) هم شته.لکه له ډېرو برېدونوتیرشوم.

هیله ده چې روښانه کړې مې وي، چې تر ډېره بریده نه شته او همداسې له ډېره بریده.

له برید څخه ډېر شته، خوتر برید ډېر هم ناسم دی، ځکه چې که ،، تر،، نو هغه د مهال او...پای په ګوته کوي.

................ ۷۲ ..............

.

۲۰ . ۵ . ۲۰۱۹ ډاکتر ماخان میړی شینو

# غبرګون

که موږ د یوې بلې ژبې وی له پاره، چې موږ فکر کوو، په پښتو کې انډول وی ورته نه لرو او یو کره ټاکلی او د پیژند سره ښه روښانه وی یې په ځای کاروو، دا کله هم سم نه راځي. زموږ ډېر ادیبان به وواېي، چې له دې څخه خودا یا هغه موخه ده ، بیا هم ناسم دی. که په ځای یې همداسې یوبل وی هم راوړلی شی، نو هغه غوښتونې موخه به ترې( ورڅخه) واخستلی شو.

غواړم، چې د دې لیکنې په دې برخه کې یو وی (لغت ) وڅیرم، چې د پښتو خپرونو کې د نورو ویونوپه ځای ناسم او زیات کارول کیږي٠ زه په پښتو کې نوښت ښه بولم، خو دا نوم په دې حالت کې باید هغه ترې جوته کیدونې یا ترې د جوته کیدو موخه جوته کړي٠

غبرګ په هندسه کې:

په هندسه کې دوه کرښې، چې څنګ په څنګ داسې وځغلي، چې سره غوځې نه کړي او که غواړی، چې ناپای کې سره غوڅوي دا کرښې ( خطونه) غبرګې بلل کیږي٠ موږ دا په نورو ژبو پارالل، یا موازي بللي٠

**غبرګوني:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دوه کوچنیان د یوه موره په همغه ( یو په بل پسې)  وخت کی پیدا شي غبرګونی وي، چې په پاړسي کی ورته دوګانه وایي ۰ دا کیدی شي په پښتو کې دوه ګوني ، درې ګوني او داسی نور وبولو۰

که چیرې ځوک یو بل چا ته څه ووایي، نو دا وینا لوریزه وي( طرف لري) یو څه یا یو چا ته مخامخ وي، که بل ځوک وغواړي، چی د دې خبرې په هکله څه وایې دا خبره به یا همغه لوریزه وي، چی وایو سپین د زیړ د خبرې په غبرګون کی وویل:

زیړ به یا د سپین خبرې سره غبرګ څه ویلي وي یانی همغه لوریزه به وي او یا به یی د دهٔ خبره ورغبرګه کړي وي، چې غبرګه به وي، خو مخامخ لوریزه ( په ضد یا که غواړئ برعکس)۰



که چیری په کوم کور کی پلار څه ووایې او د دهٔ ځوي په دی اند نه وي او په مخامخ ( ضد) یی څه ووایی نو دا مشر بیا دی کشر ته وایی، چی خبره مه راغبرګه وه۰

که ووایو، چی د سپین د خبرې سره زیړ خبره غبره کړه، یانی دا غبرګه همغه لوریزه ده۰

زه تراوسه په دې نه پوهیږم، غبرګون به هندارونه یا انعکاس وي او که د چا، څه  یا د چا د خبرې په هکله به وي او که څنګه؟

که موخه ترې انعکاس وي، نو انعکاس اړیین نه دی، چی غبرګ دې وي.

که د ،،غبرګون،،  په ځای په ډېره بخښنه ،،ګرنګون،، هم ووایو همدا به ترې و پوهیږو، چې څه له غبرګون پوهیږو.

موږ لرو چې سپین د برګ د خبرو په هکله وویل:....،نوبیا غبرګون ته څه اړتیا ده.

زما په اند ژبې سره غبرګې پیدا دي او هغه څه چې په نورو ژبو کې څنګه کارولکیږي، په پښتوکي هم همداسي ده، نوراځی، چې د ،،غبرګون،، په ځای په ،، هکله،، بسیا وکړو او یا اړوند حالت سره سم، چې په لاندې کې به یې لږ وغزوم بل وی وکاروو.

د لا نورې روښانه ونې له پاره لاندې پوښتنه ځوابوو:

ایا د غبرګون داسې کارونه، چې زموږ ژورنالستان یې کاروي اړینه ده او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښه لاس ته راوړني له پاره موږدا د غبرګون کارونه په څو غونډالوکي روښانه کوو.

تکرار به ولري، خو د ښه پوهیدلوله پاره ښه دی، چي وښایودا د لیکوالانو یو ذوق او د ژبې ناسمون دی او که د ژبې اړتیا.

لومړی بیلګه:

ترمپ وویل، چي افغانستان کي د سولي له پاره باید لاري چاري وکتل شي.

د ژورنالستان لیکنه به وي:

............... ۷۴ .......................ږږږ

غني د ترمپ د خبرو په غرګونکي وویل، چي په افغانستان کي سوله اړینه ده.

یا غني د ترمپ د خبرو په غبرګونکي وویل، چي په افغانستان کي د سولي کیلي د پاکستان سره ده.

سم یې:

غني د ترمپ د خبروپه هکله وویل،چي .........................

دویمه بیلګه:

ترمپ وویل، چي د افغانستان جګړه کي د پاکستان ښکیلتیا باید له پامه ونه غورزول شي.

غني د ترمپ د خبرو په غبرګون کي وویل، چي د جګړي بنسټیز مسؤلیت د پاکستان په غاړه دی.

سم یې:

یو: غني د ترمپ د خبروپه هکله وویل، چي ..............................

دوه: غني د ترمپ د خبرو په ملاتړ وویل، چي ...............................

دری: غني د ترمپ د خبروپه مخامخ یا مقابل وویل، چي..................

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيلګه: ،،وسلوالو طالبانو په دې اړه تر اوسه غبرګون نه دی ښوولی.،،

د غبرګون په ځای که داسې ولیکو: ،، دا چې په دې برید کې ولسې وګړو ته زیان رسیدلی او که نه چاروااکو په دې اړه ( په دې هکله، په دې باره (درې ده؟) لا تر اوسه څه نه دي ویلي.،،

دا پورته ویونه لرو، چې هغه بنسټیزه موخه روښانه کوي، نو دې غبرګون یا ګړنګون اویا بل څه باندې ولې خپله ژبه تخریب کړو. بیا: په هرصورت دا د غبرګون وي کارونه په داسې غونډالو کې یا په دې موخه ناسم او سم ناسم دی.



ډاکتر ماخان میرزی

شینواری

# ایا مورږ پیداښتي پوهنې پښتوکولی شو؟

مورږ لا تراوسه چې په پیداښتي پوهنوکې پوهنیز څه لولو،هغه عربي دي. پوښتنه دا ده، چې ایا مورږدا پوهنې په پښتو لیکلی شو، دا په دې مانا، چې ایا مورږ د دې پوهنو پوهنیزو ویونو ته هم پښتو انډول لرو او دا پیدا کولی شو. دا نومونه پیدا کوو نه، خو پوښتنه دا ده، چې ددې له پاره نومونه په پښتو شته اوکه څنګه؟

دا پوښتنه به په هوځواب کړو، ځکه چې هره ژبه د پوهنیزه کیدوتوان لري، خولومړی باید ځان په هغه پوهنه پوه کړو او بیا په هغه وي، چې د باندنی ژبه کې شته اوپښتو انډول یې پیدا کوو.

په همدې ځای کې دې اجازه وي، ووایم، چې ما په شمیرپوهنه کې نږدې څلوېښت کتابونه په پښتو کړي، دا په دې مانا چې هغه مسلکي نومونه مې په انډول پښتو کړي، بې له ستونځو او همداسې مې په فزیک کې درې کتابونه ژباړلي، چې یوله هغود ښوونځي د کتابونوسرلیکونه دي، هغه فزیکي ویونه مې نه د ډکشنري په بڼه، خو په پښتومې د الماني ویونو ته انډول پیدا کړی یا میندلی

دا په پښتو یا د پښتو نومونوسره مو پوهنه هم ساده کیږي، چې دلته د یوڅو بیلګو سره ستاسو لنډ پام را اړوم. دا په ورزیاته کړم، چې ما هیڅ وخت نوم له ځانه نه دی پیداکړی او انډول مې لټولی او پیدا کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله اوږدې خبرې نه کوم، لنډ يوڅوبيلګې له تاسوسره ګډوم.

## مشبوع به نوڅه وبولو؟

مشبوع داسې پيژند لري:

-- هغه محلول چې نور همغه څه په ځان کې نه شي حل کولی، مشبوع بلل کيږي.

موږ وايو: يو څوک چې ډېرخوراک وکړي هم ورته وايي، چې مشبوع شوی اوميږي، چې ډېر واښه وخوري. نو وايو چې ميړه ټنده شوې .



يو څوک چې نوره مړی نه شي خوړلی، خوموږوي او همداسې نور ژوي مړيږي.

کوچنيانو ته هم چې مورډېر خواړه ورکړي، راګرځوي يې.

ځنې خواړه دي، چې سړی يا څوک ښه په مړيږي، نو وايو، چې دا خواړه مړوونکي دي. ګومان مې دی، چې د کلي خلک وايي مړوخه دي، نه پوهيږم سم به وي او که څنګه، ځکه چې مړوخه ګومان مې دی هغې ښځې ته هم وايي، چې ميړه لري.

په همدې توګه مو محلول يا حل ،،اوبی،، بللی، نومشبوع ته به څه ووايو؟

لکه چې ژوي مړيږي، خو همداسې يو اوبی هم مړيږي.

موږ نو پورته پيژند اوس په پښتو دا سې ليکو:

هغه اوبی چې نورڅه ځان کې نه شي اوبی کولی ( دا ګوره اوبه کولی نه بولو) موړ وي.

مشبوع = موړ

بيا وايم، چې دا بل ډول نه شي بلل کيدی، دا په دې مانا، چې نومونه به نه جوړوو، هغه خپل نومونه به رابرسيره کوو يا له کټلاندې څخه راباسو.

## له شميرپوهنې څخه يوه بيلګه:

ما خو نږدې ټوله شميرپوهنه په پښتو ليکلې، خو بيا به هم يوه بيلګه له تاسو سره ګډه کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دایره، چې د دایرې د منحني یوه لړه برخه قوس بولو او وتر او قطر لرو او داسې نور.

په پښتو یې:

ګردۍ ( موږیې په هسکه مینه کې ګردۍ بولو)، هغه وړه د ګردۍ د کړې برخې ته ،، لینده،، وایو.

دایره = ګردۍ

قوس = لینده

وتر : هغه کرښه ده، چې له ګردۍ یوه ټوټه بیلوي، نو دا له دې امله ټوټه وونی ( ټوټوونی) بولو( بولویې نه،دا ټوټوونی دي).



وتر = ټوټوونی

ټوټه یا چې قطعه ورته وایو: د ګردۍ هغه هواره ده، چې د لیندې او ټوټوونې منځ کې پرته ده.

قطعه = (ګردۍ) ټوټه

نیمۍ: هغه کرښه چې ګردۍ نیمۍ نو دا به نیمی نه وي؟

قطر = نیمی ( اړیین نه ده چې کرښه ورسره یاده کړو، پوهیږو چې دا کرښه ده).

ګردۍ برخه یا قطاع ( دا د قطاع نوم هم ډارونکی دۍ): دا د ګردۍ برخه ده، چې د دوه وړانګو او ګردۍ لیندې منځ کې پرته ده.

قطاع = (ګردۍ) برخه

وړانګه =شعاع

## له فزیک څخه

سیم یا څه، چې برېښنا وړي، نو هغه هرومرو ،، (برېښنا) وړونې دي او له دې امله یې برېښنا وړوني یا لنډ وړوني بولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ښوونځي د فزيک نړدې ستره برخه مې پښتو ته را اړولې. په دې هکله مې ليکنې په کتابتون. کوم کې کتلی شئ.

دا د ګرانو لوستونکو له پاره يو څه وړاندې کيږي، چې کتل او اندونه سره يو کول نه، سره نږدې کول يې زما هيله ده او نه بل څه.

نومونه يا ويونه بايد پيدا نه شي. هر څه چې په پيداښتي توګه په بله ژبه کې شته، په پښتوکې هم شته.

دوه پوښتنې دي:

لومړی: يو څه ته په پښتو نوم ايښول ( دا به د خبرو وي)

دويم: د يوه څه په مانا ځان پوهول ( دا بايد وي)



نو که د دې ويونو مانا وليکويعنې مخکتاب، نړيوال جال، ملفون، شميرونی، دا به اړيين وي. دا چې څنګه يې وبولو، دا بايد په پام کې نيولشوي وي، چې تخريب په کې نه وي.

بيلګې:

۱ - موږ په کورونو اوکوټوکې يوجوړښت لرو، چې برېښنا پرې روښانه کوو اومړه کوو. دا جوړښت د يوه واړه اړمګوټې يا يوې تختې او يا د يوه څرخ په څير وي. دې ته انګرېزي سويچ، الماني شالتر وايي. ددې دنده داده، چې برېښنا وړونې يا سيمونه سره يوځای کوي اوبيلوي. د يوځای کيدوسره برېښنا په برېښنا وړونو يا سيمونوکې بهيږي اوڅراغ روښانه کيږي اود بيليدوسره برېښناګروپ مړکيږي. دا نو (برېښنا) تړونی بولو اودا نوم همداسې دئ.

۲ – پورته موبرېښنا وړونې نوم وليدل، دا هکپک کيدونکی نوم نه دئ، دا برېښنا له يوه ځايه بل ځای ته وړي، نووړونې دي.

ګورو،چې زموږ ژبه د پوهنيزه کيدو توان لري او هره ريښه په پښتو کيدی شي او هغه داسې، چې هرڅوک پرې ښه وپوهيږي.

زما اخرنې وړانديزداده، چې نومونه به له ځانه نه جوړوو اويو کره پيژندل شوی وی به د بل کره پيژند لرنکې وي په ځای نه ځای په ځای کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په نورو ژبو کې شته اوپښتو انډول يې

ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

په دې برخه کې ځنې ورځني ويونه، چې په نوروژبو کې شته او موږ يې لا تراوسه انډول نه دی پيدا کړي.

زه خو په دې اند نه يم، چې زه څه ليکم، هغه دې هرومرو سم وي، ځکه چې زه د همدومره ليکنې د فکرتوان لرم. زما په اند زه هڅيدلی يم، چې څه ليکم، په هغې يو بل سره پوهيږو. ژبې سوچه کيدی نه شي، خوزه هم هغه ويونه کاروم، چې تراوسه د پښتو د خوب تر کټ لاندې پراته وي، خو هغه ماته سم برېښي، ځکه داسې نه دي، لکه بهيدونکي، چې په پوره ناسمه توکه اوبلن وبولم اويا ستاندارد ته کچه وو ايم.

...............۷۹..............

زما د ليکنو په هکله ستاسود کړنو او مخامخکړنو ( دا بيا د دې وی يعنې ،،مخامخکړنو،، د لومړي ځل له پاره کارونه ده، خو موخه ترې پوهيدل کيږي) هيله هم لرم.

زه ستاسومخامخکړنو ته درناوی لرم اوخپلې کړنې به ورسره هرومروسموم.

لند:پيداپښتي نومونو ته بايد په پښتوکې انډول ولرو اودا لرو، د لږو ځانګړنو سره:

زه نومونه نه جوړوم. زه کوم د بلې ژبې وی، چې کاروم، هغې ته په پښتو کې انډول لټوم او دا تل د زياتو پيداپښتي ويونو له پاره لرو. زه نومونه نه پيدا کوم، زه هغه لرلي نومونه ګرانولوستونکو ته مخ ته ږدم.

ځنې ليکوالان وايي،چې دې د ...ژبې وی ... ته څه ووايو؟

دا بايد وڅيړو، چې هغه وی يې پيدا کړو، لکه، چې زموږ د ليک لوست ژبه کې زموږمشرانود مايع له پاره خپل انډول نوم نه وو کارولی، نودا يې ورته غوښتل پيدا کړي، خو انډول يې پيدانه کړی شو او ناسم انډول يې ورته وټاکه.

**دا ولې؟**

دا ځکه چې دوی دې ته فکر نه وو کړی اويا يې فکرنه شوکولی، چې مايع څه شی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي دې ته پام نه دی کړی، چې مايع يو خوي دی او دا خوي د تنونو يا شيانو يوټولگی جوړوي يعنې ټول هغه څه ته مايع وايي، چې بهيږي، دا دی، بې له دې چې نورمخ ته ولاړ شو، د مايع انډول پښتو مو وکاراوه يعنې بيهدونکې.

**پوهنيز نومونه:**

په پوهنه کې نومونه – په ځانگړې توگه شميرپوهنه او ځمککچپوهنه کې – يواځني دي يا يويواځني دي، دا په دې مانا چې هر نوم يوه او ټيک يوه څيره په گوته کوي او هره څيره يو او ټيک يو نوم لري. نومونه څوک په خوښه – چې څه يې زړه غواړي ـ نه شي ټالکل.

بيلگه: مستطيل ته به نو په پښتوڅه ووايو؟
په مستطيل نه پوهيدم، نودابه په بله ژبه کې گورم. انگريزي اوالماني کې
ورته rectangle and Rechteck وايي، نو له دې امله په پښتو کې – که دا سم وژباړو او دا

...........ړ ۸۰ ..............................

چې څيرې دي، نو له دې امله ښځينه نومونه دي – ،،ولاړگوډی،، او يا کټمټ ،،ولاړکونجی،، بلل کيږي، چې هرڅه ترې پوهيدل کيږي اوبل نوم ورته نه ټاکل کيږي يا نه شي ټاکل کيدی. دا چې سخت، نابلد او يا بل څه ډول دی، دا کوم بنديز نه دی، دا همداسې دی اوبس.

ايا هغه څه چې په نوروژبوکې شته زموږ په ژبه کې هم انډول لري؟

هو.

نو ولې موږ ځنو شيانو يا ويونو ته په پښتو کې نومونه نه لرو؟

دا ځکه چې موږ په نوروژبو نه پوهيږو او يا مو پام ورته نشته يا يې له پامه غورځوو.

هغه نومونه اوخويونه، چې په پښتوکې تراوسه ورته د چا نه وي پام شوی، نو زموږ پښتانه پيداښتي ده، چې هغو ته نومونه پيداکړي، خو ستونځه په دې کې ده، چې دوي ورته نوم پيداکوي اودا سمه نه ده، ځکه چې په کې تيروځي.

د هر څه له پاره، چې په بله ژبه کې نوم يا وی (په پيداښتي ډول) وي، نوپه پښتوکې هم ورته انډول شته، خودا چې موږ په نورو ژبونه پوهيږواويا زيات وخت دا نومونه له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپښولکيږي، چې په کومه دباندنۍ ژبه نه پوهيږي، چې له هغې څخه يې راواخلي اوکه غواړي، راوژباړي او يا لږتر لږه له هغه چا وپوښتي اوخبرې ته يې غوږکيږدي، چې په يوه دباندنۍ ژبه پوهيږي.

زه يې دلته يوه بله بيلګه راوړم. يوه ورځ يوه ملګري را څخه و پوښتل، چې انعکاس ته به نوڅه ووايو او په همدې خبرو کې بيا د انګازې څخه خبرې شوې چې ګوندې دا به بل څه وي او انګيزه بل څه او همداسې له همغه وختنه ازانګه هم منځ ته راغلې.

له دې امله زما دا لاندې ليکنه.

Reflexion انعکاس يا(بيرته) راګرځيدنه

انګيزه (ازانګه ، انګازه): زما په اند به دا ،، د ازانګې به موخه ترې همغه د عربي ژبې انعکاس وي، چې په خلکو کې يې انعکاس ښه وي، يعنې دلته به انګيزه د انعکاس لپاره کارول شوې وي. دا ځکه وايم، چې داسې يو څه مې زموږد خورا درانه ليکوال

...........۸۱ ................

ژورنالست، څيړونکي ښاغلي رفيع څخه اوريدلي( خداي(ج) دې وکړې چې دا مې ناسمي نه وي کړي او کومه ناسم پوهيدنه زما لخوا دلته نه وي رامنځ ته شوي، زه مخ له مخه د ښاغلي پوه څيړونکي رفيع صاحب څخه ډېره بخښنه غواړم ، په هر صورت زموږ د خبرو اترو موخه دا ،، ازانګه،، ده.

راځئ، چې له هر څه د مخه ( د هرڅه له مخه مې ليکلی وو، خو د دې ليکنې سره مې له هر څه د مخه کړ) په انعکاس ځانونه وپوهو، د زبپوهنې او فزيکي لار(قانون) له مخې.

که موږله کوټې په رڼا ورځ راووځو، نود لمر وړانګې چې په رانه برېښنده شيانو ولويږي، هغه بيرته راګرځي اوسترګې موبرېښوي. موږ هلته په کلي کې نه وايو، د لمرانعکاس يا رفلکشن مو سترګې راوبرېښولې، موږ وايو، چې د لمر رڼا بيرته راوګزيده او زموږ سترګې يې وبرېښولې. دا په دې مانا، چې دا رڼا په يو شي ، چې بيا روڼ برېښي لويږي اوبيا بيرته راګرځي. دا بيا په دې مانا چې موږ نو د انعکاس او يا رفلکشن له پاره بيرته راګرځيدنه لرو، همداسې که غونډوسکه په ديوال وولو،هغه هم راګرځي، يا غږپه کوم ځای کې وکړو، چې هغه بيرته راګرځي. موږ اوس دا تر څيړنې ( دا ،، تر،، مې دلته ناسم وليکه . سم يې د څيړنې اونه تر څيړنې) لاندې نيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو انعکاس د بیرته راګرځیدنې یا راګرځیدنې لپاره -چې انګریزي یا نوره هم ښه لاتین یې reflexion دی – کارول شوی.

ترهغې، چې زما فکر رسیږي د عربي وی یا لغات ،،انعکاس،، په پښتو کې د درې څه یا د درې ډولونو لپاره کارول شوی:

که یو څه په هنداره کې بیرته راګرځول کیږي یا راګرځول کیږي ( دلته بیرته راګرځول او راګرځولو لپاره زما موخه همغه راګرځول یا راګرځیدل دي، موږ ورسره بیرته وایو، خو زه یې اړین نه بولم. دا به راګرځول وبولو) داهم ا نعکاس بولو یا دی.

که په غره کې غږ وکړو او هغه بیرته واورو یعنې راوګرځي، دا هم انعکاس دی، همداسې که یو څه په ولس کې وشي، که ښه وي یا بد دا په خلکو کې خوریږي او له خلکو بیرته اورول یا اوریېل کیږي، چې دا هم انعکاس بلل شوی.

لنډ: انعکاس په هنداره کې، انعکاس په غره کې د یوه څه د غږ انعکاس په ولس کې د یوه څه یا یوې شوې وینا انعکاس.

. ................ ۸۲ ................

دا درې نومونې په ټولو ژبو کې په بیلو بیلو نومونو یادیږي. هغه څه چې هنداره کې بیرته راګرځي په الماني کې ورته ،،شپیګلونګDie Spiegelung ،، وایي او دې نورو دوه وو ته اېښو یا اېکو(اکو) Echoوایي، چې لاتین دی موږ په پښتو کې هم د اسې نومونې لرو.

د اخرو دوه وو لپاره انګازه یا انګیزه(؟) کاروو، چې له دې امله پخپله هغه دعربي انعکاس دی او ازانګې یا بل څه نومونې ته اړتیا نه شته او په غره کې د غږ خوریدا هم انګازه یا انګیزه ده، یعنې خورشوی، چې موږ ورته انګی ویله او غږ به مو وکړ، چې انګی انګی یو غږ بل هم راوکړه.

که په هنداره کې یو څه یا یوه څیره (بیرته) راګرځي، نو هغه څه باید ونومو، د عربي انعکاس په ځای. دا په هنداره کې یوه څیره چې (بیرته) راګرځي، وایو چې دا څیره هنداره کیږي. دا چې دا څیره هنداره کیږي، نو دا خو له هندارونې( هنداره کونې) بل څه نه دي، یعنې دا په هنداره یا اینه کې انعکاس هندارونه یا اینونه بولو( هغه ستاسو خوښه هنداره نوم مو ښه راځي یا پښتو دی او که اینه). یعنې دې انعکاس ته هندارونه یا اینونه وایو. دا د پښتو ګرامر په بنسټ سم دی

نو ګرانو لوستونکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو چې د ازانګه په پښتو کې کومه ترې بله پوهيدنه نه لري، يعنې ازانګه هم دا موږ دلته بللي ا نګازه يا انګيزه( ؟ ) ده، چې په خلکو کې خوريږي، خو که غواړی، دا ازانګه وبولی هم خوښه مو، کيدی شي.

،،اېکو يا اېښو يا انګازه يا انګيزه منځ ته راځي، که د غږڅپې داسي په زواک يا قوي وځنډيږي، چې سړی دا غږ بيل بيل د اوريدلاس ته راوړني يا ـنتيجې که غواړي د اوريدپايلې په توګه واخستلی يا احساس کړی شي. سره راټول يا سره يوځای شوې concentrate رفلکشنونه يا دا بيرته راګرځيدنې(چې عربي کې ورته انعکاس وايي( شايد، زه په عربي نه پوهيږم)) د اکو يا انګازې يا انګيزې په څير اوريدل کيږي. د اکو وی يا لغات د يوناني Ἠχώ څخه راغلی يا رانيول شوی دی.،،

که دا په هلمند کې شوې غونډې غږ خلکو ته ورسيږي، نو په خلکو کې خوريدا يې همداسې په پرلپسې ډول منځ ته راځي، چې دا هم همغه د غره په څير خپله انګيزه په خلکو کې خوروي. له دې امله دا هم انګيزه يا انګازه ده او که ازانګه يې بولی، هم خوښه مو.

**لنډ بيا:**

**................۸۳ ............**

لومړی: په په هنداره کې د يوه څه بيرته راګرځيدنه هندارونه بولو او

دويم: په غره کې د غږ بيرته راګرځيدنه انګيزه،انګازه يا ازانګه بولو اوبيا همداسې

دريم: د يوه سياسي کس وينا، چې اغيز يې د خلکو له خوا بيرته راګرځي،همغه هم انګازه، انګيزه يا انګازه ده،خوماته يې انګيزه ښه برېښي.

ډاکترماخان ميرزی شينواری

## ستونځوبی

يو د پوهنتون پوهان را څخه وپوښتل، چې د ستونځوحل ته څه وايې؟

ما ورته وويل، چې ستونځوبی.

دا نوولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دې نړۍ په هراړخيزه پوهنو کې دومره وده کړې، که څوک، چې څېړنې کوي اوپه داسې پرمختللې ژبه وپوهېږي، نو د هر څه له پاره په پښتو کې هم هغه اړوند ويونه پيداکولی شي.

لرو: ملګوبې، چې انګرېزي يې salt solutionدی.

لنډ: زه به د خوي له مخې لکه پورته د ،،اوروبې،، په ځای، چې له اورغورځونې منځ ته راځي يا پايله ده، اوربهيدنه، اوربهيدونکي... وبولم. په مننه

محلول ملحي saltzlösung

حل solution،lösung

مخامخکړنه (عکس العمل):

دا مې همدااوس فکر ته راغی، چې د يوچا د کړنې سره چې څوک غواړې مخامخوالی وښايې، نودا به هرومروزما په اند مخامخکړنه وي.



که غواړی، نو د همغه ،،عکس العمل،، سره پاتې کيږو.

جفت او طاق ته په پښتوڅه وايي؟

پوښتنه. ايا موږ پښتو کې د جفت له پاره په دې ورځنۍ ژبه کې انډول وی لرو او که نه؟

هو: هرهغه څه، چې دوه، دوه کيدی شي، هغې ته عربي جفت وايي، چې پښتو انډول يې جوړه دی.

لومړی:

ايوه يا ييوه چې څوک کوي او يو غويا (غوايي) ولري، نو جوړه ورته پيدا کوي. دا د غويانو جوړه ده، چې بيا سره دا جوړه ځغلي. څوک چې بوټان اخلي، نو د دباندنی اغيزو پرته به جوړه بوټان اخلي. او که په ټاکنو کې سره برابر ځغلي، نو همغه د ييوې او يا ايوې د غويانو په څير به دا يوه جوړه وي، چې دا جوړه بيا جوړه سره ځغلي. نه ليکو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې غبرګ سره څغلي، ځکه چې که جوړه نه وي هم غبرګ کيدی شي او يا غبرګ دي،، ځکه چې ګډ ووتونه يا رايې به نه لري، چې يو بل غوځ کړي.

که يوه نجلۍ او هلک داسې لړ په خوي کې سره نږدې وي، نوکيدی شي چې ووايو: دوي به يوه ښه جوړه وي.

دويم:

د جوړه مخامخ څه بولو؟

عربې يې طاق دی، هغه چې جوړه نه وي يعنې ناجوړه وي، نو ګوروچې پښتو بلل يې ،، ناجوړه،، دی.

راځوشميرپوهنې ته

ګڼونه : هغه پيداېښتي ګڼونه چې په دوه پوره وېشل کيږي، هغو ته جوړه ګڼونه وايو اوهغه پيداېښتي ګڼونه، چې په دوه پوره نه وېشل کيږي، هغوي ته ناجوړه ګڼونه وايو. ګوره زه ورسره دلته پوره نه ليکم، ځکه چې اړتيا ورته نه شته. پيداېښتي ګڼونه چې په پيداېښتي ګڼ



وېشل کيږي او لاس ته راوړنه يې پيداېښتي ګڼ وي، نو،، پوره،، ته يې هرومرو اړتيا نه پيښيږي.

جوړه ګڼونه: ۴ و۱۶، ۲۸ ...

ناجوړه ګڼونه: ۱۳،۱۵، ۲۷ ....

په ورځني ژوند کې ، چې ورسره مخامخ کيږو

ځنګه يې بولی؟

له الماني څخه ژباړه يې

۱ – پلنې د ربړ پټۍ، چې له ژورې سکاره راپورته کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – په مغازو کې چې تل ګرځي اوشيان له يوه ځای څخه بل ځای ته وړي.

۱ – وړونېټی: يعنې يوڅه له کښته پورته وړي.

۲ ـ بهيدنېټی: دا تل روانه ېټی ده، له دې امله بهيږي يعنې بهيدنېټی.

په پښتوکې د زياتو ويونو له پاره انډول نه شته يا موږ( زه) نه پرې پوهيږم لکه

معنې:

د عربي ،،معنی،، له پاره موږ پښتو نه لرو، نو که پښتو يې ،،مانا،، وليکو، دا به منو.

همداسې د قطب له پاره هم پښتو انډول نه شته.

داسې ويونه هم بايد چې څنګه وي خپلې ژبې ته راواخلو، لکه چې رانيولې مو دي، که ليکندودېي د ځنوله پاره بدل شي، دا په ټولو ژبوکې ورځنی دی.

د بلې ژبې هر څه يا هر وی له پاره، انډول لرو، خودا بايد پوهنيز ولټول شي.

................... ۸۶ ..............

داسې خو ما فکرنه کاوه،چې شميرپوهنه دې داسې سمه په پښتوشي، خودا چې دا نومونه او ويونه ټول پيداښتي دي، نوزموږژبه هم دا ويونه لري اودا به يوائځني وي، دا په دې مانا، چې هر شميرپوهنيز  يا هندسي څه پښتو انډول هم لري.

خوبايد په دې اند نه و اوسو، چې ژبه دې سوچه کړو.که زما ليکنې وګوری، سمې په پښتودي، خودا موږله پيداښته لرو، نوي مې منځ ته څه نه دي راوړي اوداسې بايد ونه شي، ومو کتل، چې څوک په خپله خوښه يوڅه يا يو وی په پښتو کوي، په هغې کې ناسمونونه راځي.

ګرانو هيوادوالو!

موږ پوهيږو، چې پښتو په دولتي څلورديوالي کې يوه ډيره پخوانی نوي، نږدې شپيته کلنه ژبه ده، نو له دې امله يې علمي کول او د ځنو ويو په پښتو کول يا ورته پښتو پيدا کول هم ستونځمن دي. له يوې خوا موږ چې څه زده کړي يعنې زموږ ټوله زده کړه هغه په پښتو نه ده او له بلې ژبې مو را اخستي او له بلې خوا په دا بله ژبه مو چې څه زده کړي، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ډېر ويونو(لغات له عربي رانيولی)، چې موږ يې له دې امله د ډېل ستونځو سره مخامخ کړي يو. زموږ دا نږدې شپيته کاله مخکنيو په پښتو ليکونکو، څه له فارسي رانيولي، هغه په فارسي کې د عربي ويونه يې هم ورسره شايد ( يامکن) کتمت رااخستلي وي. بله پوښتنه دا هم ده، چې هغه عربي نومونه – چې موږ يې د پښتو نومونو لپاره کاروو- ايا دا سم دي او که څنګه؟

دا هم بله پوښتنه ده، چې بايد پام ورته وشي.

## د يو پوهنيز  څه د ليکلو له پاره

له هرڅه لومړۍ مشوره:  که هرڅوک يا ښه يې هر پښتون غواړي څه زده کړي اوڅه ورزده کړي، که دا پښتو ژبه هم وي، بايد د يوې وتلې دباندنۍ ژبې څخه د همدې موخو له پاره ګټه واخلي، يعنې يوه د وتلو ژيوڅخه بايد ښه زده کړي.

په پوهنه اوپوهنيزوڅه ليکلو کې زما د مرستې ژبه الماني ده او داسې لږ انګرېزي، دا هم د الماني په مټه، دا په دې مانا چې د ليکلو له پاره مې وتونژبه ( ترې ژباړې ژبه)  الماني



اوموخه-ژبه(پرې ژباړې ژبه)  پښتوده. دا هم بايدووايم، چې د الماني ګرامرد پښتو د ګرامرسره لږ سرلګوي او په ډېرڅه کې سره ورته-والی لري.

ژبه مو له جنجاله ډکه ده، ځکه چې نوې د پوهنې سره بلديږي، نو هراړخيزې ستونځې د بيلا بيلو مسلکي کسانو (په) منځ کې را منځ ته کوي. زموږ ژبې يواځې په ادبياتو کې دا سې دليدلو وده کړې، هغه هم د يوڅه په لبکلو کې، خو د ژبې ليکندود اوليکندول سره هلته هم ستونځې شته. په نورو  بيلابيلو مسلکونوکي لا همداسې ده چې ده.

يوه د مخه يادونه: يو څه چې  له بلې ژبې پښتو ته را اوړې يا د پښتود سمون له پاره يې بيلګې راوړو، دا په دې مانا نه ده، چې دا د بلې ژبې اندول دې زموږد ژبې ياني پښتو له پاره باورونه لري.

دا به نوره هم ښه داسې ووايو، چې له نوروژبو څخه په ګټه اخستنه پښتو  غنې کوو( هراړخيزه) اود نوروژبو د ويونو(لغاتو) له پاره دپښتو  اندول ځان ته جوتوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره داسې نه وايم، چې وی ورته پيداکوو، چې دا کارناسم هم دئ، يعنې وی نه پيداکوو، د دوې انډول پيدا کوو.

دا چې زموږژبه دودې لرې پاتې شوې، نود ژبپوهنيزو ستونځو د هوارولو يا ستونځوبيو له پاره بيا د نورو پر مختللوژبوڅخه مرسته رانيولی شو يا اړين يو چې له نورو ژبو مرسته راونيسو.

ايا د پ له پاره د نوروژبو څخه ګټه اخستل کيدی شي؟

هرومرو. ګورو، چې په هره ژبه کې د بلې ژبې انډول پ شته کيدی شي، چې په يوه ژبه کې زيات وي، خوبيا د هغوزياتو څو له پاره په بله ژبه کې يوپ شتون ولري، لکه د الماني aus;ab ; von،... له پاره په پښتو کې يو پ شتون لرې اوهغه ،،له... څخه،، دئ، خو دا کومه ستونځه نه ده.

يادونه: باوروکړئ، چې دا ټول کارما د ،، تر ،، په خپلوپولوکې د رابندولو له امله وکه، چې يوائې او يوائې ډ مهال،ځای او ...پاي په ګوته کولوله پاره راځي اونوريې هر ځای کې راوړل ناسم دي اود ژبې د ټولولاروسره مخامخ.

.

................. ۸۸ .................

**تر :** تر بل‌ای کې هم راځي. دلته هم په ډېر غونډالو کې ناسم راغلی

دا ،، تر،، چې هرځای کې کارول شوی، هلته سم دئ، چې هلته بل اړيکوی نه شي راتلی اوکه له ،،تر،، څخه هلته بل اړيکوی ښه وو، نه، نه دا چې ښه وو، بلکه دا چې د

همغه اړيکوی ځای وو، راتلی شو، نوبيا هلته ،،تر،، بايد لرې شي او په همغه خپل ځای کې اتکړئ ورته واچول شي.

زه چې د ژباړو سره سر او کار لرم، اوهمداسې د پښتو ليکوالانو ليکنې لولم، د يو لړ ستونځو سره د پرېپوزيشن يا اړيکويونو له امله لاس او ګريوان يم. دا په الماني کې روښانه دي او پوهيږې چې څه په کوم ځای کې يا د څه سره راځي، چې موږ خارجيان هم داسې لږ څه پرې پوهيدی شو. په پښتو کې دا کار داسې ښه نه دئ سرته رسيدلی. که جملې لولو، نو ترمخه، ترورروسته، ... وروسته تر هغه په مصر کې له...، تر پورې ترمنځ او داسې نور لولو، نو نه پوهيږو، چې دا ،، تر ،، داسې نور څّه ټوليز(يونيورزل) شوي او که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي راته برېښي، چې د ،، تر،، وزر شوي او د ،،د،، ، ،،په،، ، ،، له... څخه،، او داسي نورو ځای نیوی شوی.

زه د دې لیکنې سره غواړم، چې دا ،،تر،، په خپلو پولو کې رابند کړم او دا وزر یې پرې کړم، زما په اند د پوره دلایلو سره.

دا هیله، چې ژبپوهان او نور مینه وال به نه ځانله زما د پوهاوي له کبله هم د ما سره په دې کې مرسته وکړي.

غواړم د ګرانو لوستونکو پام د لاندې ته راواړوم اوزما (زما په اند) سمون هم ورسره ولیکم:

۱ - کارګیل: ،،د جګړې تر ټولو هسک ډګر هیر شوي قربانیان ...،،

وړاندیز: تر نه شته اونور یې ستاسوخوښه.

د جګړې له ټولو څخه د هسک ډګر هیر شوي قربانیان یا

له ټولو څخه د **هسک ډګر (د) جګړې** هیر شوي قربانیان



له ټولو څخه هسک ډګر کې د جګړې هیر شوي قربانیان

۲ - لولو او ناسم دی:
،،کابل کې تر ځمکې لاندې د اوبو کچه تر ۱۲ مترو لوړه شوې،،.
سم یې:

کابل کې (د) ځمکې لاندې د اوبو سطحه یا هواره تر ۱۲ متره (پورې) لوړه شوې. ..
تر ۱۲ متره (پورې)،، سمه ده که ۱۲متره د جګیدو پوله وي، خوګورو چې داسې نه ده.
پرته له دې ناسم او داسې لیکل کیږي: ... له ۱۲ مترو ( څخه ) لوړه شوې.
تر نه شته یا یوځل شته او کچه نود سطحې په ځای نه شي راتللی. هر یویې د ځان له پاره خپل پیژند لري.

که غواړی، چې دا ،، کچه،، هرومروراوړی، نوبیا به ولیکی: د ځمکې لاندې د اوبوسطحه، چې په کچه شوې، نو ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - په لاندې ليکنو کې ،، تر ،، ته پام وکړئ، چې ناسمون به په کې وي، که نه؟
---،، تر څو چې دخپل لویدلي پټکي غور نه وي.،، دلته ،، تر،، په ځای دی.
--- وایم دپیسو تر څنګ یې تاریخي قیصې. وایم د پیسو څنګ کې یې ....
--- دی تر هر چا دروند، ویاړلي او . دی له هرچا (څخه)........

--- یې ترټولو لوی عامل وي. یې له ټولوڅخه ...
**--- تر سترګو کيږي. د سترګو کيږي.**
**--- به تر قانوني تعقيب لاندې راشي. به د قانون......**

..پښتنوتر بل هر دښمن.. پښتنو له بل ...

..........ځان ونه پيژني تر دې به مو حال بد شي. .. له دې (څخه) ...

## ۴ - یوه لنډه لیکنبرخه اوڅومره ،،ناسم تر ،، :

،،په قطر کې د طالب او امریکایي استازو تر منځ د تازه مذاکراتو تر څنګ په کابل کې يو شمېر پخواني طالب چارواکي وايي، له سولې وړاندې بايد د افغانستان ولسمشريزې ټاکنې ترسره نشي. خو افغان ولسمشر محمد اشرف غني پر وخت د ولسمشرۍ ټاکنو پر ترسره کېدو ټينګار کړی.،،

د ليکنې لومړۍ برخه:

..................... ۹۰ ...................زرن

،، په قطر کې د طالب او امریکایي استازو تر منځ د تازه مذاکراتو تر څنګ په کابل کې... ،،

دا منځ اوڅنګ اړيکويونه دي او له دې د مخه اړيکوی نه شي راتللی. نوليکو:

... استازو منخ کې د تازه مذاکراتو څنګ کې په..

.یادونه: ګورئ چې په منځ کې او همدا رنګه په څنګ کې هم نه لیکو،ځکه چې ،، په ،،اړيکوی دی اودلته منځ اوڅنګ هم ړيکويونه دي.

دويمه برخه يې:،،... بايد د افغانستان ولسمشريزې ټاکنې ترسره نشي.،،

ليکو:......... د سره نه شي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه برخه:،، ... د ولسمشرۍ ټاکنو پر ترسره کیدو ټینګار کړی،،

،، پر تر سره کیدو،، خونوره هم هکپکونکي برېښي.

لیکو:... د ولسمشرۍ ټاکنو د سره کیدو باندې ټینګار کړی

یادونه: دا ،، ترمنځ،، ډېر راځي او له دې امله باید لږ یې څېړنه وغزول شي

که د یوې منې پوټکی وګورو او خوسا شوی وي او په اند یو، چې منځ به یې هم خوسا وي ، نو وایو چې دا مڼه ( له پوټکي ) تر منځ (پورې) خوسا ده. او که منه مو غوڅه کړه او منځ یې خوسا وو، نو وایو چې دا مڼه په منځ کې ( دلته ځکه ،، په منځ کې لیکو،چې دلته منځ ځای دۍ اونه اړیکوی) خوسا ده او نه تر منځ او یا یې منځ خوسا دی..

همداسې که دوه کسان سره جوړ نه وي او جګړه سره لري، نو وایو، چې د ... او ... منځ کې جګړه ده او نه په = یا تر منځ جګړه ده.

همداسې د الف او ب منځ کې مینه ده اونه ،،ترمنځ،،.

۵ - ،، او څیړنې تر سره شوي او په تر سره شویو کارونو سترګې نه شو پټولی خو زه د دې ژبې د یو ویوونکي او زده ،،



لیکو: ....د سره شوي او د سره شویو کارونوباندې...، له بلې خوا خو پرته له دې ،،په تر،، هم ناسم دۍ، خکه ،،په ،، او،، تر ،،دوه اړیکویونه دي.
د دې لیکنې د پایونې سره زما د ،، تر ،، په وړاندې موخه پوره شوه.

د ،، تر ،، د تیرې په وړاندې مې همدومره څه کولی شو، نوره ستاسوخوښه ده، چې مخه یې نیسۍ او که همداسې په تیري کې یې پرېږدۍ.

تاسو چې د هرچا هره یوه لیکنه ولولۍ، نو دا د ،، تر،، د ناسمې کارونې سره به مخامخ وۍ، چې د نورو اړیکویونو ځای یې نیولی دی.

داسې لږ یادونه د ،،له ... څخه،،:

له پرون څخه ،له دې وخت څخه، له هر وخت څخه ، له بل هر وخت څخه ، له تا څخه،، له یوه څخه ، له ټولوڅخه ، له تیر وخت څخه، له اته بجو څخه، له جلال اباد څخه، له دې ځای څخه......

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړنور هم ورسره مل:

،،ساینسپوهان وایي چې د سږ کال د جولای په ۳۱ نېټه په ګرینلنډ کې تر بل هر وخت تر ټولو زیاته واوره ویلې شوې ده.

دوی دا خبره د ثبت شویو معلوماتو پر اساس کوي.

سمون یې: لومړی: ناسم: تر بل هر وخت. سم :له بل هر وخت څخه.

دویم: ناسم: ترټولو زیات واوره ویلې شوې.سم: دا ،، تر ،، خوله ورایه ناسم دی. تر ټولوزیاته واوره ویلې شوې. داسې سمه ترې پوهیدنه نه لري.،، ترټولوزیاته،،څه نه وایي.

،، تر بل هر وخت تر ټولو زیاته واروه ویلې شوې ده.،، په ځای: له بل هر وخت څخه زیاته... یا له ټولو تیرو وختونوڅخه زیاته...

،،په یاده ورځ تر ۱۰ ملیون ټنه زیاته واوره ویلې شوې ده. تر دې پخوا هیڅکله داسې نه دي شوي چې په ۲۴ ساعتونو کې دې ۱۰ ملیون ټنه واوره ویلې شي.،،

د ،،تر ۱۰ میلیونه ټنه زیاته...،، په ځای: له ۱۰میلیونه ټنه څخه زیاته...

................ ۹۲ ................

،،تردې پخوا،،، په ځای: له دې څخه پخوا یا دمخه...

دا دې لا بله: ،،تر سراوي،،: ،،او ټاکنیز بنسټونه د رنیو ټاکنو ترسراوي ته لاره خلاصه

کړي،،.او ټاکنیز بنسټونه د رنیو ټاکنو د سرته رسولو ته لاره خلاصه کړ

دې ته هم پام وکړی:

،،د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هر راز موافقه باید تر لاسلیکېدو مخکې...،،.
،،خو ګراهام د ولسمشر ټرمپ او د ده د حکومت د جګپوړو چارواکو تر غونډې مخکې
پر خپله ټویټرپانه لیکلي....،،
،، ............و د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د «بین الافغاني» مذاکراتو..............

او د شلمې پېړۍ تر دویمې نیمایي وروسته په اوومه یا د څوارلسمې لمریزې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې پیلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پړاوونو ووېشو؛ خو تر جګړو وروسته ،،

بیا تکرار اخرنی یادونه:
،،تر،، پرته له دې، چې د مهال، ځای،نوم او یا بل څه پای نه ښايي، یعنې پورې ورسره نه شي راتللی، ناسم کارول شوی.
بله ناسمه کارونه راته روښانه کیږي، چې په ځای یې بل اړیکوی راتللی شي. دا ناسمه کارونه ان، چې زموږ نالوستي پښتانه هم کوي. فکر ورته وکړئ او دا ناسمون تراوسه (پورې) بس دی.
لوي څښتن مو دې په ټولو پوهنوکې بریالي لري.
پام: هره لیکنه که لولی، پام وکړئ چې څومره واره دا ،، تر ،،د نورو اړیکویونو ځای بیځایه نیسي.
Smakhan1946@gmail.com

.
.
.
.
.



# د ،، تر،، وزر شوي.

،،تر،، ته دسر خبرې

که په یوه هیواد کې یوزورواکی هرڅه له نورونیسي، نوهغه ټولنه ورسره هرومروستونځې لري. په ژبه کې هم هم دا حال دی. د ،، تر،، اړیکوی، د نورو زیاتو اړیکویونو ځای نیولی، نو له دې امله یې ژبه داسې لږ څه بدرنګه کړې، چې غواړم دا اندېښنه د نورو ګرانو هیوادوالوسره ګډه کړم.
زه د تاسوسره څوغونډالې ګډوم اووبه ګورو، چې دې ،، تر،، څنګه د نورو اړیکویونوځاینیولی او نورواړیکویونو ته ځای نه پرېږدي.
بیا یې لنډ پیژند ته: ترد مهال،ځای اویا یوبل څه پای په ګوته کوي.
بیلګې: اړیکوي ته
۱ ـ له تورخم څخه تر جلالاباد پورې. یا تر جلال اباد پورې،
۲ ـ تر لسو بجوپورې.یا له اته بجو تر لسو بجو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - ....ټول دې راشي تر سپين پوري.
ترنوی ته:
۴ – سپين کوټه کې یا میلمستون کې ناست وو، ترڅو میلمانه کورونو ته ولاړل.

یادونه: له هر څه د مخه يوه يادونه اړينه بولم اوهغه دا چې که په يوه ځای کې يو اړيکوی راځي، نو همغه يو اړيکوی دی، دا سې نه شو ويلی یا دا نه شي کيدی، چې دلته دا راځي او دا هم راځي. دوه بيلابيل اړيکويونه د يوې موخې یا يوې اړيکې له پاره نه شي راتللی. هر اړيکوی ټاکلی دکارولوډول او دود لري، يواړيکوی د بل اړيکوي ځای باید ونه نيسي او همداسې يو اړيکوی د بل اړيکوي د مخه يا وروسته نه شي راتللی.

دا ،، تر،، چې هرځای کې کارول شوی، هلته سم دی، چې هلته بل اړيکوی نه شي راتلی اوکه له ،،تر،، څخه هلته بل اړيکوی ښه وو، نه، نه دا چې ښه وو، بلکه دا چې د همغه اړيکوی ځای وو، راتلی شو، نوبيا هلته ،،تر،، بايد لرې شي او په همغه خپل ځای کې اتکړئ ورته واچول شي.

زه چې د ژباړو سره سر او کار لرم، اوهمداسې د پښتو ليکوالانو ليکنې لولم، د يو لړ ستونځو سره د پرېپوزيشن يا اړيکويونو له امله لاس او ګريوان يم. دا په الماني کې روښانه دي او پوهيږې چې څه په کوم ځای کې یا د څه سره راځي، چې موږ خارجيان هم داسې لږ څه پرې پوهيدی شو. په پښتو کې دا کار داسې ښه نه دئ سرته رسيدلی. که جملې لولو، نو ترمخه، تروروسته، ... وروسته تر هغه په



مصر کې له....، تر پورې ترمنځ او داسې نور لولو، نو نه پوهيږو، چې دا ،، تر ،، داسې نور څه ټوليز(يونيورزل) شوي او که څنګه؟

داسې راته برېښي، چې د ،، تر،، وزر شوي او د ،،د،، ، ،،په،، ، ،، له... څخه،، او داسې نورو ځای نيوی شوی.

زه د دې ليکنې سره غواړم، چې دا ،،تر،، په خپلو پولو کې رابند کړم او دا وزر يې پرې کړم، زما په اند د پوره دلايلو سره.

دا هيله، چې ژبپوهان او نور مينه وال به نه ځانله زما د پوهاوي له کبله هم د ما سره په دې کې مرسته وکړي.

غواړم د ګرانو لوستونکو پام د لاندې ته راواړوم اوزما (زما په اند) سمون هم ورسره وليکم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - کارګیل: ،،د جګړې تر ټولو هسک ډګر هیر شوي قربانیان ...،،

وړاندیز: تر نه شته اونور یې ستاسوخوښه.

د جګړې له ټولو څخه د هسک ډګر هیر شوي قربانیان یا

له ټولو څخه د **هسک ډګر (د) جګړې** هیر شوي قربانیان

له ټولو څخه هسک ډګر کې د جګړې هیر شوي قربانیان

۲ - لولو او ناسم دی:
،،کابل کې تر ځمکې لاندې د اوبو کچه تر ۱۲ مترو لوړه شوې،،.
سم یې:
کابل کې (د) ځمکې لاندې د اوبو سطحه یا هواره تر ۱۲ متره (پورې) لوړه شوې. .. تر ۱۲ متره (پورې)،، سمه ده که ۱۲متره د جګیدو پوله وي، خوګورو چې داسې نه ده. پرته له دې ناسم او داسې لیکل کیږي: ... له ۱۲ مترو ( څخه ) لوړه شوې.
تر نه شته یا یوځل شته او کچه نود سطحې په ځای نه شي راتللی. هر یویې د ځان له پاره خپل پیژند لري.

.



که غواړی، چې دا ،، کچه،، هرومروراوړی، نوبیا به ولیکی: د ځمکې لاندې د اوبوسطحه، چې په کچه شوې، نو ....

۳ - په لاندې لیکنو کې ،، تر ،، ته پام وکړی، چې ناسمون به په کې وي، که نه؟
---،، تر څو چې دخپل لویدلي پټکي غور نه وي.،، دلته ،، تر،، په ځای دی.
--- وایم دپیسو تر څنګ یې تاریخي قیصي. وایم د پیسو څنګ کې یې ....
--- دی تر هر چا دروند، ویاړلي او . دی له هرچا (څخه)........

--- یې ترټولو لوی عامل وي. یې له ټولوڅخه ...
**--- تر سترګو کیږي. د سترګو کیږي.**
**--- به تر قانوني تعقیب لاندې راشي. به د قانون......**

..پښتنوتر بل هر دښمن.. پښتنو له بل ...

.........ځان ونه پیژني تر دې به مو حال بد شي. .. له دې (څخه) ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴ - یوه لنډه لیکنبرخه اوڅومره ،،ناسم تر ،، :

،،په قطر کې د طالب او امریکایي استازو تر منځ د تازه مذاکراتو تر څنګ په کابل کې یو شمېر پخواني طالب چارواکي وايي، له سولې وړاندې باید د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې ترسره نشي. خو افغان ولسمشر محمد اشرف غني پر وخت د ولسمشرۍ ټاکنو پر ترسره کېدو ټینګار کړی.،،

د لیکنې لومړۍ برخه:

،، په قطر کې د طالب او امریکایي استازو تر منځ د تازه مذاکراتو تر څنګ په کابل کې... ،،

دا منځ اوڅنګ اړیکویونه دي او له دې د مخه اړیکوی نه شي راتللی. نولیکو:

... استازو منځ کې د تازه مذاکراتو څنګ کې په...

یادونه: ګورۍ چې په منځ کې او همدا رنګه په څنګ کې هم نه لیکو،ځکه چې ،، په ،،اړیکوی دی اودلته منځ اوڅنګ هم ړیکویونه دي.

دویمه برخه یې:،،... باید د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې ترسره نشي.،،



لیکو:......... د سره نه شي ...

دریمه برخه:،، ... د ولسمشرۍ ټاکنو پر ترسره کیدو ټینګار کړی،،

،، پر تر سره کیدو،، خونوره هم هکپکونکي بربښي.

لیکو:... د ولسمشرۍ ټاکنو د سره کیدو باندې ټینګار کړی

یادونه: دا ،، ترمنځ،، ډېر راځي او له دې امله باید لږ یې څېړنه وغزول شي

که د یوې منې پوټکی وګورو او خوسا شوی وي او په اند یو، چې منځ به یې هم خوسا وي ، نو وایو چې دا مڼه ( له پوټکي ) تر منځ (پورې) خوسا ده. او که منه مو غوڅه کړه او منځ یې خوسا وو، نو وایو چې دا مڼه په منځ کې ( دلته ځکه ،، په منځ کې لیکو،چې دلته منځ ځای دی اونه اړیکوی) خوسا ده او نه تر منځ او یا یې منځ خوسا دی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسي که دوه کسان سره جوړ نه وي او جګړه سره لري، نو وايو، چې د ... او ... منځ کې جګړه ده او نه په = يا تر منځ جګړه ده.

همداسي د الف او ب منځ کې مينه ده اونه ،،ترمنځ،،.

۵ - ،، او ځيرني تر سره شوي او په تر سره شويو کارونو سترګي نه شو پټولی خو زه د دې ژبې د يو ويوونکي او زده ،،

ليکو: ....د سره شوي او د سره شويو کارونوباندې...، له بلې خوا خو پرته له دې ،،په تر،، هم ناسم دی، خکه ،،په ،، او،، تر ،،دوه اړيکويونه دي.
د دې ليکنې د پايوني سره زما د ،، تر ،، په وړاندې موخه پوره شوه.

د ،، تر ،، د تيرې په وړاندې مې همدومره څه کولی شو، نوره ستاسوخوښه ده، چې مخه يې نيسی او که همداسي په تيري کې يې پريږدی.

تاسو چې د هرچا هره يوه ليکنه ولولی، نو دا د ،، تر،، د ناسمې کارونې سره به مخامخ وی، چې د نورو اړيکويونو ځای يې نيولی دی.

داسې لږ يادونه د ،،له ... څخه،،:

.

.



له پرون څخه ،له دې وخت څخه، له هر وخت څخه ، له بل هر وخت څخه ، له تا څخه،،
له يوه څخه ، له ټولوڅخه ، له تير وخت څخه، له اته بجو څخه، له جلال اباد څخه، له دې ځای څخه......

## لږنور هم ورسره مل:

،،ساينسپوهان وايي چې د سږ کال د جولای په ۳۱ نېټه په ګرينلنډ کې تر بل هر وخت تر ټولو زياته واوره ويلې شوې ده.

دوی دا خبره د ثبت شويو معلوماتو پر اساس کوي.

سمون يې: لومړی: ناسم: تر بل هر وخت. سم :له بل هر وخت څخه.

دويم: ناسم: ترټولو زيات واوره ويلې شوې.سم: دا ،، تر ،، خوله ورايه ناسم دی. تر ټولوزياته واوره ويلې شوې. داسې سمه ترې پوهيدنه نه لري.،، ترټولوزياته،،څه نه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

،، تر بل هر وخت تر ټولو زیاته واروه ویلي شوې ده.،، په ځای: له بل هر وخت څخه زیاته... یا له ټولو تیرو وختونوڅخه زیاته...

،،په یاده ورځ تر ۱۰ ملیون ټنه زیاته واوره ویلي شوې ده. تر دې پخوا هیڅکله داسي نه دي شوي چې په ۲۴ ساعتونو کې دې ۱۰ ملیون ټنه واوره ویلي شي.،،

د ،،تر۱۰ میلیونه ټنه زیاته...،، په ځای: له ۱۰میلیونه ټنه څخه زیاته...

،،تردې پخوا،،، په ځای: له دې څخه پخوا یا دمخه...

دا دې لا بله: ،،تر سراوي،،: ،،او ټاکنیز بنسټونه د رنو ټاکنو ترسراوي ته لاره

خلاصه کړي،،.

او ټاکنیز بنسټونه د رنو ټاکنو د سرته رسولو ته لاره خلاصه کړي

دې ته هم پام وکړی:

.................. ۹۸ ................

،،د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هر راز موافقه باید تر لاسلیکېدو مخکې...،،.
،،خو ګراهام د ولسمشر ټرمپ او د ده د حکومت د جګپوړو چارواکو تر غونډې مخکې پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي....،،
،، ............و د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د «بین الافغاني» مذاکراتو...............

او د شلمې پېړۍ تر دویمې نیمایي وروسته په اوومه یا د څوارلسمې لمریزې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې پیلېږي.

پړاوونو ووېشو؛ خو تر جګړو وروسته ،،

بیا تکرار اخرنی یادونه:
،،تر،، پرته له دې، چې د مهال، ځای،نوم او یا بل څه پای نه ښایي، یعنې پورې ورسره نه شي راتللی، ناسم کارول شوی.
بله ناسمه کارونه راته روښانه کیږي، چې په ځای یې بل اړیکوی راتللی شي. دا ناسمه کارونه ان، چې زموږ نالوستي پښتانه هم کوي. فکر ورته وکړئ او دا ناسمون تراوسه (پورې) بس دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوي ښښتن مو دې په ټولو پوهنوکې بریالي لري.
پام: هره لیکنه که لولی، پام وکړئ چې څومره واره دا ،، تر ،،د نورو اړیکویونو ځای بیځایه نیسي.
Smakhan1946@gmail.com

ډاکتر ماخان میرې شینواری

# منځ(کې)، دمخه، څنګ کې او شاته

.

................... ۸۷ ................

یادونه دې د مخه وي: دا پورته ویونه په دوه ګونو ترې پوهېدنو سره لرو، چې په ځنو ژبو کې داسې نه ده.
مورږ په دې برخه کې یو په بل پسې درې اړیکویونه څیړو:
لومړی: منځ اومنځ. دویم: مخ یا د مخه اومخته دریم: څنګ ته

## لومړی: منځ او منځ

.............. ۹۹ ..................

مورږ په پښتو کې دوه منځ لرو، چې دا یویې منځتکي نوم دی، چې اندول لنډیز یې منځ دی او تل منځ لیکل کیږي او دا بل منځ یې اړیکوی دی.

منځ (کې) Zwíschen, between :

یوه ورځ په م ک کې د منځ او مینځ په سر څه خبرې وې. زه هم په کې هکپک شوم، چې دا اوس مینځ دی،اوکه منځ؟
مورږ ورته په شینواروکې مینځ وایو، خوما زیات منځ لیکلی، چې کومان مې دي، له پخوا څخه ورسره ډېر بلدیم.

منځ (کې) Zwíschen, between :

دا پوستپوزېشن، اوستربل یا پسې ځاینیوی دی، چې زه یې اړیکویونه بولم . په نورو ژبوکې (انګرېزي.الماني) مخ ځای نیوی( پرې پوزېشن) دی.
۱ - د یو چا، یوه شي شتون، چې د یوې د دوه پولو رابندې په نخښه شوې فضا په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

،، هغه هلته د خپل پلار اوخپل ورور منځ کې ولاړ دی،،. دا یوه بنده فضا ده ددوه کسانو منځ کې
۲ – له دوه رابندوتېکو دننه له یوڅه ( څخه) ،، د کورونومنځ کې واټن، د ټکو ،،ا او ب،، یوه غزونه په ګوته کوي.
دا منځ هغه هندسي یا جغرافیوي منځ یا منځتکی نه دی

بیا یې مانا:

۱ – دواړو یا ډېرو خواو ته داسې په نامه شیانو یا کسانو لرل.

۱ الف – د داتیوسره، ځای اړوند:د یوه ځای تشریح، یوې پوښتنې ،، چیرته،، د یوې پوښتنې جوړښتبرخه.

۱ ب : د اکوزاتیو سره، ځای اړوند: د یوه لور شننه، د ،، کومې لورته،، پوښتنې د یوه ځوابېرخه.

۲ – د داتیوسره: د یوې په ګوته شوې ډلې یا ډېری برخه.

بیلګه:

............... ۱۰۰ ..............

۱ – د یوه پښوتوبلوبې (فوټبال) د نیم وخت منځ کې پنځه دقیقې تفریح ده.

۱ الف: د منځنی امریکا او افریقا منځ کې لویې اوبه اتلانتیک دی.

۱ ب : ځانمینځی د پخلنځي او اوسیدکوټې منځ کې ځای لري.

۱پ: د یوې ۴۰۰۰۰ کیلومتره ساعت کې چټکتیا، چې زموږ،،هوابیړی یې دا اوس د ځمکې او سپوږمۍ منځ کې، کیدی شي نږدې ۴ پرېښنا کلونه زموږ د لمر ګاونډ ځای په ځای ستورې ته ۱۰۰۰۰۰ کاله ونیسي.

۱ ب : هغې دا لیک د خپل مینې کتاب منځ کې کیښود.

۱ ب :تفریح یې د اول او دویم اکت ( تیاتر کې) منځ کې راوسته.

۲ – د دومره ډېرو خلکو منځ کې موږ د چا پام ته نه راځو.

همداسې خبروکې راوستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرښو منځ کې لوستل
د لیکو منځ کې درېدل
د کلونومنځ کې

یادونه: سربل او اوستربل یا د نومن او یا  پرونومن څخه د مخه اویا پسې راځي او نه د سربل اواوستربل سره څنګ کې، نو له دې امله د اوستربل منځ (کې) سره څنګ کې نه راځي. له دې اوستربل ،، منځ کې  او نه ،،ترمنځ،، چې بیخي ناسم دی.

موږ ورسره ډېر بلد یو، چې د منځ یا منځ کې  دمخه ،،په،،  لیکو یعنې ،،د  دوه کسانو په منځ کې مینه ده،، او کله ،،ترمنځ،، هم. دا ناسم دي.

لومړی خو تر د پیژند له مخې هم ناسم دی او له بلې خوا ګورو، چې ،،تر،، او،،په،، هم سربلونه دي، چې بل اړیکوي سره مل نه راځي یا نه شي راتللی.

منځ یا منځټکی Die Mitte  oder Mittelpunkt or center

.

............ ۱۰۱ ......................

منځ یا د منځټکي لنډونه: موږدلته بل بدیل نه لرو، چې بل څه یې ونوموو. دلته موخه هغه هندسي منځ یا منځ ټکی دی. دا اړیکوی نه دی، دا ځای دی. دې ته دې تل پام وي، چې موږ په خبروکې له کوم منځ څخه غږیږو.

سربل او اوستربل مانا:

سربل او اوستربل یو ټاکلي نسبت یا ټاکلي اړیکې د دوه شي اړیکو منځ کې په نخښنه کوي. د نسبت د ډول یا رقم سره سم کیدی شي سربل او اوستربل  په څلور بیلابیلو ټولګیو وویشل شی:

یادونه:

ډېر سربلو نه ځانله یا ټیک  یوه ټولګې پورې اړه لري. دا کړی  شي د اړیکو توپیرکیدونکي ډولونه افاده کړی شي یا وویلی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ يا منځټکی د لاندې له پاره ځای په ځای دی:

- منځټکی، په ځمککچپوهنه کې

- سياسي منځ، يو سياسي اند يا نظر چې د ټولوسياسي اندونو په هندسي منځ کې ځای لري يعنې د ښي اوکيڼ لورو.

مانا:

١ – د منځټکي له پاره لنډه بڼه

٢ – د يو شي لنډ چاپيريال

٣ – د يوې کرښې نيمايي، د وخت نيمايي اونور

نور ترې را جوړ ويونه:

- د تن منځ، د ښار منځ، د سين منځ، د يوه کلي منځ

- د کال منځ، د اونۍ منځ، د مياشتې منځ، د ژوند منځ

بيلګې:

١ – په يوه ګردۍ کې د غاړې ټول ټکي له منځ څخه همغه يا برابر واټن لري.



٢ – د دې کوټې په منځ کې يوميز او څلورچوکۍ شتون لري يا شته

٣ – دا په اخر کې له تا بلل شوی نرخ ( بيعه؟) زما له پاره تر اوسه جګ دی، زه به وړانديز وکړم، چې ته اوزه به دې منځ ته سره راشو.

## دويم: مخ،د مخه يا مخ ته

دلته هم لکه منځ دا مخ دوه ترې پوهېدنې لري، چې يو يې بزيکي مخ دی او بل يې اړيکوی دی، دا په دې مانا چې هغه زموږ مخ ته يازموږ مخه په کوته کوي. دا اړيکوی لوريزوالی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا:

۱ – د وخت د نظم سره:

۲ – په فضايي نظم کې

۳ - داکوزاتيوسره. په فضايي لوريزوالي کې د يوه ځای پسې

۴ – د يوه شي حالت د بنسټ يا دليل په نخښه کونه.

مخامخ وی:

پسې، وروسته

ما د مخه دا پسې وروسته ليکلي وو، خو دلته يې هم همداسې شا چې فزيکي شا ده او شا ته، چې اړيکوی دئ.

بيلګې:

۱ – زاړه وختونه د منځنيو پيړيو د مخه راغلي

۱ – يو ساعت د مخه ورينګي وربدله

۱ – اته دقيقې د اتو دمخه

۲ – بوټان د ننوتون ( دروازې) مخ ته پراته دي يا --- د مخه پراته دي.



۲ – تا سپين د لمنځتون د مخه يا مخ ته وليد

۳ – بوټان د ننوتون مخ ته کيږده.

۳ – تا موټر د لمنځتون د مخه يا مخ ته درولی.

۴ – له ډارڅخه د مخه هغه نوکان خوري.

۱ – ۶۵ ميليونه کاله د مخه

يادونه: دلته هم ګران ليکونکي تر ليکي، خودا هم سوچبوچ ناسم دی، ځکه چې د يوه اړيکوي د مخه يا وروسته بل اړيکوی ځای نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر د مخه او مخکې ناسم دي.

لولو:
**سل کاله مخکې د افغانستان د**

سل کاله د مخه ...

درېم: ،،ځنګ کې،،
.ځنګ هم دوه ترې پوهېدنې لري، چې يو يې فزيکي دئ او بل يې اړيکوی
بيا .کتاب مې په ځنګ کې نيولی او سپين مې ځنګ ته يا ځنګ کې ولاړ دئ
مانا:
١ – فضايي پوله شريک
٢ – له دې سره ورزيات يا پرته له دې ورسره نور
٣ – د يوځه سره په پرتله
بيلګې:
١ - دواړه کوټې يود بل ځنګ کې پرتې دي، سړی په دې يوه کوټه کې اوري، څه
چې په دې بله کوټه کې ويل کيږي.
٢ - د دې په ګوته شوو دلايلو ځنګ کې بايد سړی دا هم په پام کې ونيسي، چې ....
٣ - ،، د جين تخنيکي تغير يا بدل شوو بوټو د ډولونو ډېرډولوالي ريزيکو ځنګ
کې ځنګيزې اغيزې لکه په نباتاتو کې د نويو ناغوښتلو خويونو منځ ته راتلل،
مګر دا ترې کاراخستونکو يا استعمالکونکو کې حساسيت پيداکيدونکې پيښې هم.
٣ – د سپين ځنګ کې ته هم يو ښه اغيز اچوې.
............ ١٠۴ ...........

بيا:
اړيکوی ،، ځنګ،، لاندې ماناوې لري:
ځای اړوند:
١ - يو ځايځرنګوالی په ګوته کوي: د ... په خوا، د ... تولې ګاونډتوب کې.
بيلګه: هغه په ځيره (عکس) کې زما ځنګ کې ولاړدی.
٢ – پرته له: په همغه وخت د پرته له سره.
بيلګه: د خپلې بدايی ځنګ کې هغه تقاوت هم لاره.

يادونه: لکه همداسې ده چې د دې اړيکويونوسره هم بل اړيکوی نه راځي، که دا ،، تر
،، هم وي.
ستاسو د مرستې په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نورې بېلګې د شا او شاته له پارهبیا تاسو راوړی.

یاونه:
دا برخه بهپه ژبلار کې بښهروښانه شي

ډاکتر ماخان میړی شینواری.

## د ،،واحد،، لاندې موږ څه پو هیږو؟

موږ په دا دومره مهال کې واحد د کچونو لویو یعنې متر، کیلوګرام او نورو ته وایو، چې دا ناسم دی او تل ناسم وو، خو یا مو ورته فکر نه دی شوی او یا مو د سمون په زما هم له هغه وخته ورته پام شوی، چې په لیکنواو .و پوهولیباوریوالي باندې ځانونه نشد دا .ژباړو مې پیل وکړ، چې له دې امله مې په خپلو لیکنو دې لویو ته واحد نه دی ویلی پیداښتي ده، چې په نورو وتلو ژبو کې دا هر څه سم او روښانه بلل شوي، چې په پښتو له ژبه د باور کمی او هم په ځانونو دباور کمیانډول یې باید ولیکل شي، خو دا هم په خپ

دی، چې د سمون زړورتیا مو تر اوسه نه ده کړې.

له مخه یو څو یادونې:

که څوک غواړي یو پو هنیز څه ولیکي، چې تولنې ته یې وړاندې :زما وړاندیز :لومړی پوره خواشنی باید ووایم، په .کړي، باید په اول کې دا د یوې وتلې دباندنی ژبې راونیسي چې موږ لا تراوسه پوهنیز څه په خپله ژبه کې نه لرو یا پوره نه لرو او دا مو له دې امله



بزې ژبې څخه که دا کومه لیکنه له دباندنی وتلې لکه انګر .ناسمونونو سره مخامخ کوي که غواړی –راوژباړو، نو د انګریزي یونیټ په ځای به واحد ونه لیکو، نو له دې امله ښه او سم څه ولیکی، نو یوه وتلې ژبه ښه د پوره توان سره زده کړی او پوهنیزې لیکنې موږ د تولو پیداښتي ویونو له پاره په خپلو ژبو دپیداښت سره سم په .ترې راوژباړی نډول لروپښتو ا

موږ که یو څه خبرو ته راوچوو، نو پیژند یې باید راوړل شي، ښه روښانه، :دویم تولپوهوړ او تولپوهیز.

زیاته شننه د سرې څخه لار ورکوي، لنډ او بې له کومو زیاتونو باید هغه موخه ورکړل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې په خپل  که د بل چا لیکنو په ناسمون خبري کوو، نو هغه لیکنه باید راوړو :دریم
اند هغه سمون ورته وړاندې کړو.

د هغه څه مې ولوستل ښه نه وو، یا ترې سمه ګټه نه اخستل کېده  :داسې باید نه وي چې.
د  .دا باید و ښوول شي، چې د هغه لیکنه کې کوم ناسمونونه وو او دا څنګه سمېدلی شي
ل راوړل شي‌دي له پاره باید ښه روښانه، سم اندیز او پوهوړ  دلایل.

په لیکنه کې بې له اړیینو څه باید سملاسي خپلې لیکنې باندې پیل وکړو :څلورم

.

## اوس راځم خپلې موخې یعنې ،، واحد،، ته.

ز ه چې زموږ د لیکوالانو اندونه او د واحد پیژند د دوي په اند د دوي په لیکنو کې ګورم،
هڅول شوم، که څه هم دا زما په ورته خواشینې شم، چې له دې امله دې لیکنې ته راو
. .پخوانیو لیکنو او همدا ډول د شمېرپوهنې ویونو کتاب کې هم شته

موږ چې لا تراوسه واحد کاروو، نو موخه ترې تل د یوه څه د کچولو لویې لکه متر،
وایو، یعنې که اوږدوال یا یو بل څه کچوو، نو هغې د   (؟)،،کیلوګرام او ساعت ته ،،واحد
لو یا کچون الو له لارې، چې هغه روښانه پیژند او نوم لري، دا په دې مانا چې که کچونو ا
اوږدوالی کچوو، نو دا په متر کوو، چې دا د اوږدوالي کچونې واحد بولو، چې دا پوره
په پوره خواشینې باید ووایم، چې موږ اوس هم  دا  پخوانی ناسمونونه  .ناسم  بلل دي
کار هغه ستر لامل دادی، چې موږ هغه د دباندنیو ژبو  د دي .همهغسې ناسم کاروو
رانیولو

څه ته هم فکر نه کوو، چې په هغو کې دا څنګه دی، خو موږ په همدې ،، واحد،، پاتې
شوي یوچې ز ه غواړم دا لږ روښانه کړم.

د ،،  .دا  په پښتو کې ورځنی شوی وی ،،و احد،، موږ له عربي ناسم رااخستی دی.
،، د واحد پښتو انډول .ترې پوهېدنه بل څه دي و هغه ته چې موږ ترې پوهېږو ،،واحد



دا چې موږ ورته واحد وایو موخه   ..یو ،، دی چې پسې دوه، درې او نور راځي او بس
یو  .یې او همداسې لکه دوه، درې او نور همیو یو دی او نور څه نه وا .ترې ،، یو،، نه دی
- ،که د یوه څه سره یوځای شي، نو بیا هغه شی یو  هغه څه دی، لکه یوکتاب یا یو متر
..بجه  او نه دوه یا درې او نور - ،کیلو

موږ په فزیک کې ویلي، چې د فزیکي لویو د کچولول له پاره  زموږ په بللو،، واحدونه،،
یې ناسمه نومونه یا بلل دي ،،کاروو، چې ،، واحد.

دا نو څنګه سموو؟ موږ وتلو ژبو ته ځو او د هغو څخه دا سم رانیسو:

د کچونلویو د څومره والي له پاره، چې کاروو، دا په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو کې لکه انګرېزي کې

Die Einheit دی او الماني کې The unit

له دې .يې پوره ناسم ،،واحد،، بولو او همداسې يې عربي مانا،، وحدة،، دی، چې موږ دريواړو ژبو څخه د دې پښتو اندول ،، يووالی،، دی، چې ما په خپلو ليکنو کې يوون بللی، چې ګوندي دا به همدا يووالی وي او که څنګه؟

موږ ته دا يووالی، چې ما ،،يوون،، بللی، لږ نابلدول برېښي، نابلد دی او ګومان مو راځي، دا همداسې دی او نه يې بل څوک پيداکوي، که .يووالی، خو يو بل څه دي چې ګوندي دا دا ويډول دی، دا په ټولو ژبو کې همداسې .نه هغه به همداسې لکه دا ،، واحد،، ناسم وي د دې لا .دی. ،د پښتو اندول يې هم همدا دی، ما نه دی پيداکړی او نه دومره توان لرم ې مخ ته ځونورو روښانه ولو له پاره داسد:

## فزيکي لويې څه شی دی؟.

فزيکي لويې اوږدوالی، دروندوالی او مهال دي او د فزيکي لويو د څو والي او څومره والي د روښانولو له پاره يووالي متر، کيلوګرام، ساعت دی، چې لوي او واړه يووالي بيا کوو او دا متر له دي که موږ او تاسو د هر څه اوږدوالی کچوو، نو په متر به دا کار .لري املح يو يووالیز يووالی دی، چې هر ډول اوږدوالی پرې کچيږي او بس.

د تبې يووالي Grad Celsius, Kelvin und Fahrenheit:

................. ۹۵ .....................

ي، چې يو بل اړول کيږي يا اړولکېدی شي‌دا پورته د تبې يووالي يا يوونونه د.

د هرې بلې لوي له پاره د کچولو يووالی شته لکه د موټر زور، چې په اسزور کچيږي او داسې نور

................... ۱۰۷ ..................

ي يووالو ته، چې دلته به څنګه وي؟اوس به نو راشو، دې د ژبپوهن

اوس به د يو څو ژبنيزو څه يا توکو يا اتمونو پېژند ورکړو، چې ما تر اوسه ددې توکو دا به هم داسې لږ سرسري وي، خو هغه .سم پېژند نه دی لوستلی، موخه مې پښتو کې ماني څه چې راوړم، هڅېږم، چې هغه به روښنه او ټولپوهوړ ليکلې وي، زه يې له الا رانيسم، په اندول پښتو

دا له ځمکې لرې ستوري، چې وميندل شي، نو د هغوی :کال هم يو يووالی کېدی شي وايي، چې دا ستورلار يا دستورو لا يا ټولګه له ځمکې .لرېوالي کچولو يووالی کال دی يا نوري کلونه لرې ده -څخه دوه سوه يا زيات رڼا.

ریډاکتر ماخان میرې شینوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیکمرغه .

نیکمرغه نو څه ته وايي؟

دا اند راته د ځار صيب له نقد، چې د ډاکتر بهاند صيب د ،، اناکارینینا،، په رومان يې ،، کړی

دا سمه خبره ده، خو که څوک د چا په ليکنه څه ليکي، .وايي، چې له خبرو خبري زیږي ما دا څو ورځې د مخه .و بل ته په کي پوره درناوی شته وي‌چې مورږ یې نقد بولو، باید يږ د ښاغلي ځار ليکنه ولوسته، چې د ډاکتر صيب بهاند په ژباړه يې کړې وه.

په هغې څه نه ليکم، ځکه چې رومان مې لوستی نه دی او په دې نقد باندې بيا منلي پسرلي ته په خوشحال او نيکمرغه کې زما موخه دا .صيب زما په اند يوه ښه غوره ليکنه کړې وه ځار په دې ډېر ټينګار کړی وو، چې ګوندې بهاند .دی، چې دې کې نو څه توپير دی زه همدې اړ کړم، چې دا په .صيب ولې د نيکمرغه په ځای خوشحاله نه دی کارولی په الماني کې مې هم همغه غونډاله .الماني ادبياتو کې وګورم، چې هلته څه ليکل شوي ه، چې له روسي ژباړل شوې وه‌پيداکړ.

چې دا له روسي په پښتو ژباړه يې، چې ډاکتر صيب بهاند کړې او په انګرېزي او الماني کې شوې راوړم.

له روسي څخه د ډاکتر صيب بهاند ژباړه او د انګرېزي ژباړه يې د ځار صيب د ليکنې دا د ډاکتر صيب بهاند د پښتو ژباړه .څخه رااخستل شوي

: ................. ۱۰۸ ..................

“ټولې نېکمرغه کورنۍ يو بل ته ورته دي؛ هره بد مرغه کورنۍ په خپل ډول بدمرغه ده.”

او انګرېزي

‹‹All happy families are alike; each unhappy family is unhappy in its own way‹‹

دا لاندې يې الماني انډول:

‹‹Alle glücklichen Familien sind einander ähnlich; aber jede unglückliche Familie ist auf ihre besondere Artunglücklich‹‹

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ده، چې سره انډول دي او که glücklich او الماني په happy خبره د انګرېزي په سره ګډوم هم تاسو ،نه.

که زه دا له انګرېزي او الماني په پښتو وژباړم، نو دا به هرو مرو داسې وي، چې له انګرېزۍ څخه به خوشحاله او له الماني څخه به نیکمرغه آنډول ولیکم.

دلته فکر راغی، چې راځه اوس دا د الماني او انګرېزي ویونه سره پرتله کړه یا ښه یې یو په بل د ګوګل

ې وژباړه یا یو د بل انډول وګوره چې څنګه دی؟له لار

الماني انګرېزي او انګرېزي الماني :له ګوګل څخه ژباړې:

**happy انګرېزي انډول یې glücklich الماني**

ښاغلی ځار په اند دی، چې خوشحال د نیکمرغه سیونونوم دی، خو د ګلوکلیښ سونونوم هېپیلي دی، دا لاندې:

happily په انګرېزي Synonyme **glücklich**د

**د الماني او انګرېزې یوه بله یو په بل اړول شوې غونډاله هم درسره ګډوم:**

**Macht derjenige dich glücklich?**
**Do they make you happy?**

**همداسې له انګرېزي په الماني:**

**زي، او همدا دوه یو د په ګوګل کې یې یو په بل ټیک همداسې دي لکه له الماني په انګرې بل**
**انډول غونډالې هم راغلي، چې زه یې د بیا راوړلو ته اړړېږم**



**د دې الماني وی انډول په فارسي کې خوشحال دی له ګوګل څخه او انګرېزي هم خوشحال دی.**

**zufrieden،glücklich ، fröhlich، roh**: له فارسي الماني خوشحال

د الماني GLÜCK ، انګرېزي ته بیا په LUCK وایي

چې په پښتو به ورته بخت ووایو او سر له اوسه ماته د دې له پاره، یعني د بخت له پاره هم مرغ ښه او مناسب برېښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انګرېزۍ هېپي او د فارسي خوشحال انډول د الماني ګلیوکلېش، د :لاس ته راوړنه یا سینونوم او که بل څه؟ .ویونه دي، نو دا نیکمرغه یې د پښتو انډول دی او باید وي خبره اوس په نیکمرغه او خوښحال کې ده.**
**خوشحال د نیکمرغه سیونونوم، ځکه نه دی، چې خوشحال فارسي او نیکمرغه پښتو دی.**
**فکر وکړ، خو دا نه شم ویلی بخت فارسي او پښتو دی، که ما د الماني ګلوک ته د بختور څنګه؟ .**

**په لیدلو دې خوښ شوم با :یو څوک چې خپل نږدې ملګری وګوري، نو ورته وایي نیکمرغه یم، چې ومې لیدلې.**

**دالته زما په اند دا خوښ د نیکمرغه سونونوم دی.**

**دلی، زما په اند انډول یې موږ د خوشحال له پاره، چې خوشال یې بولو انډول نه دی مینځ همدا نیکمرغه باید وي، خو دلته د اندونو ګډول هرومرو اړیین دي.**

**بله خبره د یوه نوم یا خوې په مخامخوالي کې ده، لکه چې موږ د نیک له پاره مخامخ داسې کیدی شي، چې یو څوک نیک نه وي، خو داسړی کېدی شي بد هم .یې بد کاروو سره ښه نه نه وي یعنې یو څوک د چا**

**زما په اند د نیک مخامخ که نه نیک او د بد مخامخ نه بد وي، .کوي، خو بد هم نه کوي څنګه به وي؟**

**دا سړی بد نه دی او همداسې دا سړی ښه نه دی :وایو.**

**یو څوک چې نیکمرغه نه وي، نو کېدی شي دا بدمرغه هم نه وي، نو له دې امله ووایو څنګه به وي؟ نیکرغه نه نیکمرغه یا نیکمرغه نه که**

**........ږږږږ ۱۱۰ ................**

**د یو څه نه والی که په ،، نه ،، وکړو، نو څه فکر کوی.**

**که ستړي کړي مې وی، بخښنه دې وي، خکه چې لیکنې مې د نورو لیکنو سره مخامخ دي او کورونا او زړښت دی.**

میړی شینواری ډاکتر ماخان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سړ. کال تر ټولو

پوهیږم، چې یوه نامننوړ دنده مې په برخه شوې، خو بله لار هم نه لرم، چې ځان ترې وژغورم.

کله کله د داسې لیکنو سره مخامخ کیږو، چې پوهیږو د دې سره لیکونکی څه لیکي، څه اخلي، خو بیا هم غواړي ولیکي او موخه ترې څه ده، لوستونکي به همدا موخه ورڅخه و دا لیکنه په ختېه کې څه نه وایي او که پام ورته وشي، وبه بوهیږو، چې نه پرې پوهیږو

سړکال تر ټولو ډېر ژورنالستان وژل شوي،، یا ،،سړ. کال تر ،، :زه چې په لیکنو کې لولم زموږ په دې لیکنو کې دا ،، تر .ټولو ډېر انګور شوي او همداسې نورې پرتلییزې ویناوې بې موخې دی، چې زه به دا په لاندې توګه وڅیړم ،،...ټولو ډېر.

په دې غونډالو کې وینو، چې دا ،،تر،، د پرتله کونې له پاره راغلی او دا سوچ :لومړی په دې هکله مې یوه لیکنه هم د تاند په درنه خپرونه کې خوره شوې .ناسم دئ.

سره ناسمه ده ،،دا به همدلته هم وګورو، چې برتله کونه د ،، تر

دوه څه ته ګوته نیسو:

یا د نسبت .دئ (... لرې، لوي )جلال اباد له کابل څخه بنکلی :وایو، چې :پرتله کونه :یو (نسبت ) جلال اباد :وایو .دئ (... ته بنکلی، چاغ، جګ او ... و ... ،، ورته. سره، چې زه ...و کابل ته بنکلی دئ

...و .. (نسبت) څخه او ...په اند په ناسم ډول خو د له موږ دا پورته غونډالي همهغسې زما ته سره پرتله کوو یا لیکو:

.................. ۱۱۱ ............................

شوي .. ته ډېر ..سړ. کال له ټولو کلونو ډېر غنم شوي یا سړ. کال و ټولو

دي.

دا خپله غونډاله هم سم څه نه وایي :دویم.

،،ډېر غنم شوي (؟) سړ. کال تر ټولو ،، :که ولیکو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سږ کال تر ټولو، نورو :که نوکانو ته وګورو دلته هم هرو مرو څه باید راشي، یاني ګورو، چې دلته د پرتله .ډېرغنم شوي دي (میاشتو ، وربشو، انګورو او داسې نور )ورځو . ..اره ډېر څه منځ ته راوځي یا راتللی شيکوني له پ

ګورو، چې دا پر تله کونه سمه نه ده.

که څه هم د وینا له مخې –دا هم .سږ کال له ټولو کلونو څخه ډېر غنم شوي :که ولیکو خو د موخې له مخې سمه نه ده، ځکه، چې دلته به بیا د ټولو کلونو غنم سره -سمه ده هم دا سږ کال غنم نه شي ډېرېدلی یوځای کیږي، چې له هغې.

راځی، چې اوس یې سم ولیکو:

که ولیکو، چې ،، سږکال ډېر غنم شوي، بسیا به وکړي، خو راځئ دا ،،ټول کلونه،، ورسره ولیکو

ګوری دا د هر تیر کال .سږ کال د ټولو تیرو کلونو له هر یوه کال څخه ډېر انګور شوي څخه ډېر دي او یا

.و هر کال ته ډېر غنم شوي (نسبت) لو تیرو کلونوسږ کال د ټو..

په دې لاندې خو زه پوه نه شوم او تاسو؟

د هیواد د تولیدې برېښنا کچه تر تولو لوړ حد ته ورسېده

تازه په غزني د غره خوېدو په خبر کې لیکي:

.... افغانستان کې تر ډېره داسې پېښې د ژمي په موسم کې رامنځته کېږي، چې

.ه کې د ،، تر،، راوړنه هم ناسمه ده او ترډېره خو هېڅ ترې پو هېدنه نه لريپه پورتـ

سم یې



.................... ډېرې داسې ........................

یا

.................... ډېر وخت داسې پېښې ...................

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ لیکوالان کله کله چې غواړي یو څه ډېر ادبي او په خوند ولیکي، نو بیا د هغې بلدې لارې اوړي او له

دې امله د ناسمون سره مخامخ کیږي.

د نړۍ تر ټولو هسکه څوکه څومره لوړه ده؟

او یا د بل دڅه شي هسکه څوکه؟ د نړۍ د غرونو، د نړۍ له کورونو یا د نړۍ د غونډیو څه.

ښه فکر وکړئ، چې دا ناسمونونه به موږ ولې لیکو؟

هیله ده چې راته برګ به نه شۍ، خو په دې لاندې کې په ،،باب،، او همداسې په ،، محموله،، نه پوهېږم، چې دا به نو څه شی وي. .

،،دوه بابه ښونځي ،،

،،.... مرستو یوه بله محموله،،.

**وایي، نه پوهېږم، خو دا غونډاله بې له ،، بابه،، هم پوهوږ ده او دا چې ،،باب،، څه ته محموله به له غونډالې داسې وپوهېږو، چې یو شی باید بار وي چې یوړل شي، خو د دې له پاره د عربي ژبې زده کړه هم بده نه، چې دا حمل که وي، دا څنګه محموله کیږي او که**

**څنګه؟**

میرزی شینواری ډاکتر ماخان

## د پښتو او سنسکریټ د شخصي نومځرو پرتله ،، ته ،،

:(له هر څه د مخه :سم یې .دا مې له مخه لیکلی وو، خو ناسم دئ ) د هر څه له مخه



پرته له ـ لیکي، نو په هغې به ته چې څه :له ټولو څوانو لیکوالانو او ژبپوهانو څخه دا هیله په دې لیکنو نور لوستونکي هم وپوهولی او باوري کړی شي ـ تا.

ناسم ویونه څنګه پیژنو؟

:زما د پخوانیو لیکنو څخه لنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – هغه ویېنې یا وینا وې ، چې ټولیزې نه وي، ناسمې دي.

۲ – هغه کره پېژندلرونکي څه، چې په نورو ژبو کې سم یا ناسم وي ، په پښتو کې هم همهغسې باور لري.

۳ – هغه څه چې د پیدابښت سره په مخامخوالي کې وي ناسم دي.

اوس راځم د لیکنې موخې ته.

زموږ د ځوان لیکوال او ژبپوه ښاغلي اربازخان ساپی لیکنه مې ، چې د تاند په منلي شخصي نومځرو کې د ،، د پښتو او سنسکرېټ د ۲۰۲۰ م-۱۵ خپرونه کې د ،، مارچ په پرتله ،، سرلیک لاندې خوره شوې وه، ولوستله او پوره خوښ شوم، چې زموږ ځوان له هر څه د مخه ورته د ډېرو برياو هیله لرم .ادیبان او ژبپوهان دومره هڅاند دي.

زما هیله چې منلی اربازخان ساپی څخه یې لرم دا ده، چې زما لیکنه ځانیزه ونه نیسي، دا ي لیکنه ده، چې یواځې او یواځې موخه ترې زموږ د ژبې سمون او یو له د یوه سپینګیر بل سره مرسته کول دي او بس.

زه هم چې له ډېره وخته مې د ژبې سره داسې لږ څه ځان بوخت کړی، غواړم، چې دا خپل اند له تاسو سره د دې لیکنې په هکله ګډ کړم، خو له دې د مخه یو څو یادونې:

لومړی: یوې په هکله زما یوه لیکنه د تاند په درنه خپرونه کې خوره شوې او د نومځاېڼ هلته یې ډولونه هم روښانه شوي، چې په هغې هم مشوره سره کیدی شي.

دویم: د لته د نومځاينيوو او د هرې پوهنې او پوهنیز څه په هکله ټولیز یو څه چې ټولیز باوري نه وي، هغه سم نه دي.

هم داسې نه کیږي، چې یو څه دې د دریم کس له پاره باوري، د د نومځای نیوې په هکله لومړي او دویم له پاره دې بیا باوري نه وي.

دریم: د دې لیکنې په هکله مې پرته له پروفیسور رشید صیب څخه د بل چا څه ونه لوستل، چې د هغې په هکله څه د ویلو نه لرم، ځکه چې نه پرې پوهیږم.

چې په دې لیکنه کې ډېر نوښتونه شته، چې باید ژبپوهانو ورته پام ،له بلې لور به وګورو کړی وی او دا نوښتونه یې سم بللي وی په دلایلو او یا یې باید رد کړي وی، په پوهنیزو دلایلو. دا چې دا کار نه دی شوی، خواشینوونکی دی.



ژبه د ټولو هیله ده، چې لږ ترلږه زما لیکنه ولولي او دا هم راته سمه کړی او یا یې ومني ده او مسئولیت هم د ټولو دی.

له دې څخه به دا لاندې وپوهیږو:

الف: دا چې یا هر څه سم دي او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې په مخامخ د ليکلو څه نه لرو او يا -ب

.ي يې باوري نه يو يا راته غوره نه برېښي‌په غوره والـ -پ

.زمونږ دژبې وده هم په ګډ اند او ګډ کار کې ده

.په هر ډول چې وي، زه مو ګډ کار ته رابولم

د منلي ساپي صيب په ليکنه کې نومځاينيوی پوښتنه کې راغلی، چې ګونډې يواځې د دريم .کس له پاره باوري دئ

:د منلي ساپي صيب په ليکنه کې لولو د نومځانيوي له پيژند وروسته مونږ

چې يوازې په درېيم .د پورتنيو پېژندو پر اساس، نومځری تل د نوم پرځای راځي ،، ،،.کې دا خبره تطبيق ونږ دی او بس (غايب)شخص

.دا پورته نو زما د دوېمې يادونې له مخې ناسمه ده، ځکه چې ټوليزه نه ده

:منلی ساپي صيب بيا ليکي

:دينيو بېلګو کې يې ګوروپه لاذ ،،

وی دلته د کوم نوم "زه"نو دلته پوښتنه پيدا شي چې دا د ."زه احمد يم" :که ووايو پرځای راغلی او د کوم نوم له بياځلي راتګ څخه يې مخنيوی کړی؟ نو دلته د نومځرو په ،،.اړه د دوی تعريف يوڅه د تعامل وړ ښکاري

له بلې خوا د ،، دا دتعامل وړ ښکاري،، د سمون يا دا چې دا د تعامل وړ ښکاري، ولې او نه سمون له پاره د باور وړ يا پوهنيزه ويېنه ده، په پوهنه کې د ،، تعامل وړ يا نه وړ،، په دې هکله زما د سم اند کتاب کتلی ).داسې دئ او يا نه (يو څه) يا دا .څه ځای نه لري .(شئ

يو .ا نارښتيا لري يانې وينا يا رښتيا ده او يا نا رښتيايوه وينا يو رښتيا ارزښت رښتيا ي :لنډ .(زما د سم اند کتاب ).دريم حالت نه شته

:او همداسې دا لاندې ليکي

؛ دلته بيا پوښتنه پيدا کېږي چې دلته ".زه زمری يم"يا بله بېلګه، که ووايو چې ،، چې د لومړي شخص د وي او واياست به "زه"نومځری څه دی؟ نو طبعاً ستاسو ځواب به پرځای نوم راوړو؛ نو ايا دا غونډله به معنا ولري؟ "زه"که مونږ د .نوم پرځای راغلی دی



،،.ځواب منفي دی

.نه .دا هم په دې مانا چې د نومځاينيوي پېژند بيا ټوليز نه شو او له دې امله ناسم بايد وي .ناسم دی

:ګران ليکونکی بيا ليکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته چې نوم د نومځري پرځای کارېدلی، ''.احمد زمری یم'' :د دې بېلګې پر اساس ،،
،،.جملې خپله معنا او مفهوم له لاسه ورکړی او هېڅ معنا نه ورکوي

یو څه باندې چې پوهنیز قضاوت کوو، باید و .دلته خو دا نه دی ښوول شوی، چې ولې ښوول شي.

:ا لولوبېږ

پرځای نوم وکاروو، نو دا بڼه ''زه''او دلته د ''.زه کور ته ځم''یا که ووایو ,,
,,.''احمد کور ته ځم'' خپلوي

دا یوه وینا ده او یو ربښتیا ارزښت ربښیا یا ناربښتیا .نه پوهیږم، چې دا دې ولې ناسمه وي
.دلته هم پوهنیز دلیل نه شته .لري

:لولو

که په دې غونډله کې موږ بیا هم د پورتني جملې په څېر د ''.ته زمری یې'' :بله بېلګه ،،
''.ته زمری یې''له .نومځري پرځای نوم وکاروو نو بیا هم هماغه نتیجه په لاس راځي
،،.جوړېږي چې هېڅ معنا او مفهوم نه لري ''.محمود زمری یی ''څخه

.ىدلته هم د پورته په څېر څه روښانه شوي نه دي او ناسموالی یې ناسم د

:بیا لږلږ

موږ په ګرامرونو کې ویلي چې نومځری د نوم پرځای راځي او د نوم له بیا راتګ څخه ،،
لکه په .کې د تطبیق وړ ده (غایب)مخنیوی کوي، چې دغه قاعده یوازې په درېیم شخص
نومځری د درېیم یوګړي پرځای ''دی/هغه''دلته ''.دی زمری دی/هغه''دې جمله کې،
احمد زمری '' :پرځای نوم وکاروو؛ نو جمله داسې بڼه خپلوي ''هغه'' دلته که د .راغلی
،،.چې دا جمله معنا هم لري او مفهوم هم ''دی

.دا بیا له ټولیزوالي لرې کیږي، چې باید وینا ناسمه وي

:لولو

زموږ په ګرامرونو کې د نومځري په اړه راغلی تعریفونه یوازې په درېیم ګړي کې د ،،
لومړي او دویم شخص په مورد کې دا تعریفونه هېڅ د تطبیق وړ د .تطبیق وړ دی او بس
.،،نه دي

.



دا ،، زه،، ، .دا نومځاینیوی، نو نومځاینیوی یا نومځری نه شو :پورته ټولو ته لنډه یادونه
په نو څه وي؟ ... ،، ته ،،

:لولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومځری هغه کلمه ده چې د نوم پرځای راتلای او "که نومځری داسې تعریف کړو چې ،،
".د نوم له بیا ځلي تکراره مخنیوی کولی شي

بیا نو نومځاینیوی نه شو، نو څه یې باید وبولو؟

:بیا هم لولو

دی ،چې د نوم پرځای د نومځري د (فعل)هغه کړ "کولی شي"پورتني تعریف کې ،،
مطلب دا چې نومځری کېدای شي هم د نوم پر .اتک احتمال ښکاره کوي‌راتک یا نه ر
،،.ځای راشي ،هم رانه شي

..راشي، هم رانه شي ،، .داپوهنیزه لیکنه نه ده

اوس نو راځی، چې دا پورته رد شوې ویېنې وڅیرو، سمون او ناسمون یې په دلایلو
:روښانه کړو

:دا به داسې لنډ وڅیړم .م، چې سمې دي او ولې‌اوس د دې پورته ناسم بللو غونډالو ته راځ

."زه احمد یم"که ووایو، چې

دی کړی شي ووای، چې زه؟ احمد، .دلته خو په روښانه توګه ،، زه ،، احمد له پاره راځي
او یا که .یا وایي احمد، احمد یم .داسې خو موږ په ورځنیو خبرو که هم وایو .احمد یم
ته څوک یې؟ :ه دا پوښتنه کوي وایي، چې‌څوک یې وانه وري یا له پیلړ

،،زه احمد یم ،:نو هغه بیا ورته وایي، چې

،،زه احمد یم ،، :ته څوک یې،، هغه ورته وای ،،:یا له پیل ښخه یو له احمد پوښتي، چې

.په پورته کې د ،، ته ،، په ځواب کې ،، زه،، او ،، څوک،، په ځواب کې ،، احد،، دی
.اینیوي له پاره ،، زه ،، نومځاینیوی راغلی‌یاني د ،، ته ،، نومځ

دا چې .احمد، احمد یم،، هم سمه ده ،، :که دی په پوښتنه کې، چې ،، ته څوک یې،، ووایي
،، :داسې هم ویلی شي .احمد همغه وی دی، نو د بې‌لې‌دوني یا کامه له لارې سره بیلیږي
.زه، احمد یم،،د زه پسې داسې لړ دمه هم ناشونې نه ده

ته څوک یې ؟ :ابېړ

.احمد یم، احمد :داسې هم ویلی شي .یا احمد، احمد یم .زه احمد یم

زه څوک یم؟

.یا احمد یې، احمد یا احمد، احمد یې .ته احمد یې



هغه څوک دی؟

.هغه احمد دی

.احمد، احمد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

.احمد دی .هغه؟ احمد

څوک یې؟

:،،زه یم،، او هم ،،احمد یم،،یا هم ،، زه احمد یم،،

:یا داسې پوښتنې او ځوابونه

.،،څوک یې؟ ،،، زه یم،، یا ،، احمد یم – ۱

.او داسې نور هم .....،،ـ ،، ته څوک یې ؟ ،، زه احمد یم،، یا ،، ته څوک یې؟، ،، احمد ۲

.مې دې خبرو ته هم را پاروليې وي دې باندې نور نه غږېږم، هیله ده، چې ستاسو مینه

:بله یادونه مې چې لروده، هغه د درانه ساپي صیب دا لا ندې لیکنه ده

پښتو ژبه کې نومځری یا ضمیر د عدد، جنس او حالت له مخې ګردانېږي، چې په ،،
.سنسکرېټ کې هم همدا شان دی

له عدد څخه مراد دا دی، چې یو نوم په ژبه کې مفرد دی که **:عدد**
،،.معج
عدد، ګڼ یعنې هغه څه، چې د یوه څه :په پښتو ژبه کې موږ د عربي اندول داسې لرو
.څووالی او څومره والی ورسره ګڼل کیږي یا که غواړی څرګندیږي
دلته دا کسان ګڼ .د ډېروالي یا متعدد له پاره هم ګڼ په پښتو کې کارول کیږي .متعدد یا ګڼ
.ولاړ دي یا دا ونې ګڼې کښېنول شوي
.تعداد ګڼون، چې موږ یې دا اوس څومره والی هم بولو
دلته په دې لیکنه کې د لیکونکي موخه عدد څخه تعداد یا ګڼون یا څومره والی دی، چې د
.یوه یا ډېرو له پاره کارولکیږي
په دې هکله مې ګومان دی، چې د تاند په درنه خپرونه کې یوه لیکنه خوره شوې او که
لیکنه به هم وکړم، چې د ګڼونو سره څنګه سر او کار لرو او څنګه یې وشو، نو یوه بله
.لولو
:په لیکنه کې راغلي
،،پارهساه ځیزونو او حیواناتو لهبیا د بې «مخنث»نومځري هم لري، او منځګړی...،،

.موږ دې منځګړي یا مخنث ته نربنځی وایو او داسې انسانان هم شته

**او لیکوالان دا هم ولې په پښتو نه لیکي؟ زه نه پوهېږم، چې زموږ لیکونکي**

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبه کې د تعجب یا حیرانتیا نومځري،، ته،،

د ښاغلي تمهید سیلاني لیکنې ته

:نو لیکوالانو څخه‌زما هیله د ځوا

ځیرنیز څه یواځې هلته سم راتلی شي، چې د نورو ژبوپه بنسټ وي، انګرېزي، روسي، که هر پيژند او هره پرېکړه په یو څه کوي، نو هغه باید ښه روښانه .فرانسوي او یا الماني وي، چې یواځې او یواځې د یوې پورته یادو ژبه په بنسټ یې کولی شو.

پوهنې او په ځانګړې توګه د پښتو پوهنې په هکله لیکنې کوي او ګرانو زمونږ ځوانان د لوستونکو ته یې وړاندې کړي، چې دا یې کله کله له ستونځو سره مخامخ کیږي، چې لامل یې د دوي هڅاندوالی نه دی، لامل یې هغه څه دي، چې زه یې په هکله دا لیکنه کوم.

په لیکنه څه ولیکل او ژبپوه ښاغلي اربازخان ساپي لما څو ورځې د مخه د ځوان ادیب او لیکوال ښاغلي تمهید سیلانی لیکوال او اوس په دې همغه یا ور نږدې موضوع چې دی هم ځوان، دی، څه لیکلي، چې بل چا یې په هکله څه نه دي لیکلي، چې له دې امله زه دې اوږدې لیکنې ته اړ شوم.

زما موخه یواځې او یواځې .لې تجربې غږېږمزه چې یو زوړ سړی یم، تاسو سره له خپ ستاسو د ښه پوهنې او زده کړې له پاره دي، دا داسې مه ګڼۍ، چې زه ګوندې پوهیږم، تل په زده کړې یم او په یو څه چې غواړم پوه شم، نو د الماني پاڼو ته ځم، چې پوره زیاتې ه وپوهیږی، همغې تاسو هم دا کار وکړی، چې څه غواړی زده کړی او یا په څ .دې ستاسو زده دباندنی ژبې ته لاړ شی ، بله لار نه شته.

ما په خپلو لیکنو کې کوم نومونه له ځانه نه دي ټاکلي، زه هڅیدلی یم، چې له الماني په راپیدا کړم –چې لري یې - هر نوم یا وي ته چې پیداېښتي وي، په پښتو اندول.

څیړني مواد، چې له دې امله هم دا لیکنه چې موږ یې نه لرو او هغه د پوهنې د.

له ځانه هیڅکله قضاوت یا پرېکړه مه کوی، چې ښه ترې ډاډه نه اوسی او یا مو د یوه په پوهنه کې ګومان مې دی یا زما په فکر، پوهنیز دلیل .باوري څه څخه نه وي رانیولي دا نه شته، چې هغه یا په پوهنه کې .نه دی، یا هغه ویلي نو سم دی او یا شاید داسې وي دغه ویلي یا دا سې دی او داسې هم دی، نو باید سم وي.



په دې وخت کې د هرې پوهنې په هر اړخ کې زمونږ د اړتیاو له پاره هرڅه شته، کړی شو چې راویې باسو یا یې را وژباړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ن یو، چې له ډېرې مودې، یعني له څلوېښتو کالو ډېر وخت مو په جنګ کې موږ هغه کسا
تیر کړی او د نورو څنګ کې دپوهنیزو ودو هم بې برخې پاتې یو او دا راته تل
زموږ هغه ځوان هیوادول چې څه لیکي او هغه بیا خوروي هم یو ستر کار .څرګندیږي
.دی

ژبې د سمون او ودې له پاره دي، خدای دې که زه په دې هکله څه لیکم، نو دا هم زموږ د
ماته دا ټول هڅاند .نه کړي، چې زه به خپلو ځوانانو ته په درنه سترګه ونه ګورم
کسان ډېر ګران دي او دا هڅه د ودې یواځنۍ لار ده، خو سره له دې هم زه دا زوږ
یخ سرې دې ځوانان ته یو څو د زړه له کومې د تجربې له مخې مشورې ورکوم او ه
.ځانیز څه په کې نه لرم

دا څه غواړم چې د ځان په هکله هم په ګوته کړم، چې له ډلې یې له پنځه دېرش زیات په
:کې خواره شوي کتابونه دي ketabton.com

ما دشمیرپوهنې په څلوېښت لیکلو او ژباړلوکتابونو کې شمیرپوهنه په پښتو لیکلې، خو - ۱
.نه دی کارولی کوم وی مې له ځپله ځانه په کې

په پښتو لیکلې، په دې مانا، چې هغه عربي نومونه مې په پښتو انډول لیکلي لکه د :یادونه
.بیا ما له خپله ځانه څه نه دي پیداکړي او نه یې کړی شم .کړې انډول چې غونډوسکه ده
.هیڅ څوک یې نه شي کولی، دا پیداښت دی

.ژباړلي له فزیک مې هم درې وړې لیکنې په پښتو – ۲

هغه څه چې پښتو ته ناسم راننباسل شوي، د هغې نړدې د ټولوپه هکله مې پوره ډېرې – ۳
.لیکنې کړي، چې د تاند له منلې خپرونې خپرې شوي او همداسې هم فلسفه او ګرامر کې

سره خپلې ناخوالې یا مشورې ګډې -د پښتو هڅاندو لیکوالانو -اوس راځم، چې له تاسو
:کړم

کړې ترې یو، نو دا تنده څنګه ماته کړو؟-زده موږ د - ۱

ایا داسې څه شته، چې نورې ژبې یې لري او موږ یې نه لرو؟ – ۲

ایا دا سې څه شته چې زموږ په ژبه کې شته او بله کې نه شته؟ – ۳

ایا د په پښتو راته نه شته بربښېدونکي ویونه په نورو ژبو کې شته، چې پښتو یې باید -۴
کړو؟

ه ویونه، چې ګوندې زموږ پښتوپوهانو پښتو کړي، څنګه دي او موږ دا لار مخ ته هغ – ۵
بوزو او که نه؟



څنګه پوهیږو، چې یو څه سم یا ناسم دي؟ - ۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راځو د پوښتنو ځوابونو ته؛

۱ـ ته : دا خپل مور مو په دا مانا، چې په دې مانا، دا لرو، ته ځه پاره له ودې د ژبې د کې ژبه
متآسفانه هغه لومړی زده کړې مو هم پوره نیمګړې دي، دا که په هره ریښه کې وي.

که غواړو نور څه زیات زده کړو او یا څه څیړني هم ولرو، نو موږ د هغه اړیېنې زده دا بله .ه پوهه پرې غني او سمه کړوکړې برسیره باید یوه دباندنی ژبه زده کړو او خپلې ژبه که انګرېزي، روسي، فراسوي او یا الماني وي.

دا یادونه دې همدلته وي، چې زما وتونژبه الماني ده او هرڅه چې لیکم هغه د الماني په بنسټ دي.

پوښتنه که موږ دا رانیوني له نورو ژبو کوو، نو ایا دا مو د خپلې ژبې سره سر لګوي؟

ژبې تولې غبرګې پیدا دي او کړی شو خپله موخه له نورو ژبو لاس ته راولو، که د نړی داسې ونه کړو، نو څه به وکړو، بله لار نه لرو، ځکه چې خپل څه نه لرو او نړی زموږ د اړتیاو له پاره هم دا ستونځې را هوارې کړې دي.

اړیین یو خپل اند هم چې څه لیکو نو څه وکړو، چې د سمون په هکله یې پوښتنې لرو، خو څرګند کړو؟

موږ د پوهنو په هکله خپل اند نه شو څرګندولی، ځکه چې خپل اند خو باید په یوه څه اباد کړی شو او موږ مو ژبه لا دې ځای ته نه ده رارسولې

۲ – او ۳ – ته: په زموږ شته، کې ژبو نورو په توګه پیداېښتي په ی نومونه او ویونه هغه چې داسې ډېرې لږ بېلګې به یې ځانګړنې ولري ،ژبه کې هم شته.

زموږ ژبپوهانو فکر کاوه او لا به یې کوي، چې د،، مایع،، له :زه به یوه بېلګه راوړم دا کار یې وکړ او بې له دې، چې د اوبلن په پېژند پوه شوي .،پاره باید پښتو نوم پیدا کي اوبه نه لیکم، -یو خوي دی $2H_2O$ د .وي، نو ، مایع،، یې اوبلن وباله، چې سم ناسم دی ځکه چې اوبه اوبلنې نه دي اوبه مایع دي او واووره، چې لږ اوبه په کې زیاتې وي، لا دکلکو

ماوادو له تولګې دي، دا به دې مانا چې مایع د موادو یو تولګی جوړوي، لکه اوبه، شړومبې او نور.

اوبلنیږي یواځې واورې اوبه هم د ،موږ پوهیږو، چې شیدې او یا شړومبې نه اوبلنیږي د .پیژند له مخې اوبلنې نه دي، اوبل لا اوبه نه دي، خو واورې، چې ډېرې اوبه ولري تنونو دا تولې ګډې نخښې لري، چې بهیږي.

دا د چا د خوښې کار نه دی، دا پیداېښت دی او څوک یې داسې او .داسې نومونه داسې دي و وی پیداشو، چې پښتو کیدی نه شو، نو بیا ښه دی یا هغسې نه شي بللی، خو که کوم یو اړیین دی، چې همهغسې پرېښوول شي، په همهغه پردی ژبه او یا عربي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوښتنه مو د مخه ځواب کړه، چې که پښتو انډول يې نه پيداکيده، په همغې :ته – ۴
.يعنې عربي يې پرېږدو ژبې

ټول هغه نومونه چې زموږ پوهانو په پښتو کړې، ناسم دي، چې په دې هکله مې :ته – ۵
پوره ليکنې کړي او له هغې ډلې همدا اوبلن دی، چې ټول يې د تاند په درنه خپرونه کې
.کتلی شی

حې په نورې بيلګې يي هم شته، چې زيات د معيار په ځای کچه کاروي او همداسې د سط
موږ د معيار له پاره پښتو نوم نه لرو .ځای هم کچه کاروي او داسې نور، چې دا ناسم دي
.او بايد همداسې يې وليکو، خو که دسطحې له پاره هواره ليکو، دا يې انډول دی

په ناسم ويونو پوهيدل :ته – ۶

:په دې هکله مې هم ليکنې کړي، خو لنډ او ناسم

.په مخامخوالي کې وي چې د پيداښت سره :الف

.چې ټوليز باور ونه لري –ب

.چې دژبلارې وتلی وي –پ

:اوس يې راځو ځوابونو ته

ټوليز باور :الف ته

دلته به يوه بېلګه راوړم، چې ډېروخت د مخه مې يوه ليکنه پرې کړې وه او هغه ، دا چې
.ئ،، په پښتو تپل شوې ،،

:د دې په هکله د استادانو ځوابونه

له هغوي څخه خو به يو .دا چې زموږ پخوانيو استادانو داسې ليکلې، نو بايد سم وي – يو
.په دې فکر راغلی وی

.دا ځواب پوهنيز نه دی

دا چې په ،، د غلامۍ کړۍ ماتې کړی،، په کړ کې توپير راشي، نو دا د يوې ،، يې :دوه
.ل يې ليکلېو ډول غږ يو ډو .دا هم ژبلار نه ده .دوه ډوله ليکل دي ،،

دا خو نو د سره سم ځکه نه دی، چې دا په هيڅ يوه .او دا يوه کړيا له او دا بله يې نوميا له ده
دا ورزياتوم، چې د توري له مخې نه شو کولی، چې .ژبه کې نه شته، موخه مې دا لار ده
ده دا لار په نورو ژبو کې نه .له بلې خوا دا ټوليزه هم نه ده .وټاکو (کړنه)نوم او کړ
ولې ولې ولې، دلته خو بيخي يوډولوال شته خو يېګانې يې يې نه :رامنځ ته شوې، لکه
.دي بدلې شوي

دلته بله بېلګه راوړم، چې زموږ ليکونکي بې له کومې پوهنيزې .له ژبلارې وتلی :ب ته
.لکه دېرش سلنه، چې سم يې دېرش سلمه ده .لارې ډېر ناسم سلمې ته سلنه وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

.تردې ځایه مې ستړي کړی، خو اوس به خپلې د لیکنې موخې ته راشم

هغه وی دی، :نیوی، چې زموږ لیکوالان او ژبپوهان يې نومځری بولې- نومځای ناستی یا دا همداسې دی او .نه شته په دې کې نور څه د ورزیاتولو او کمولو .چې د نوم ځاینیوی وي .بس

دا ډېر ډولونه لري، د هغو څخه یې یو پوښتنومځاینیوی دي لکه څوک، څه، یا څه شی، .چیرته، څنګه او داسې نور

:را لنډوم یې او لیکونکی لیکي

د پېژندنې بله برخه یې داده، چې د نوم ځای ناستی وي او لهٔ تکرار څخه یې مخنیوی ،، ې پهٔ ځواب کې باید ووایم چې نومځری تل د نوم ځای ناستي نه کوي، د لومړی برخ .کوي هغه لا تنکی .شفیق کرونا ناروغی نیولی : لکه .بلکې ځینې وخت د نوم ځای ناستي کوي خو دا چاره پهٔ ټولو نومځرو کې نه پلې کیږي او تل د ځایناستي کار نه ترسره .ځوان دی کې بیا د پوښتنې لهٔ پاره کارول کیږي او پهٔ پهٔ دغه جمله ...احمد څنګه دی؟ :لکه.کوي کله نا کله خبر د تکرار شوه، دا کار هم .پورتني تعریف د بطلان کرښه را اوباسي پېښیږي، ډېری داسې پېښیږي چې نومځری نه د نوم ځای ناستی وي، نه هم د تکرار دې ته کوي؟ هغه احمد دی؟ څه : لکه .مخنیوونکی وي او نه هم استازیتوب یې کوي ،،...ورته ډېرې بېلګې شته

زه به نور نه ورزیاتوم او لیکم، چې یو نومځاینیوی یو نومځاینیوی دی یانومځاینیوي نه زماپه تاند کې .دی، دا چې داسې دي او داسې هم نه دي، داسې څه په پوهنه کې نه وي .خپره تیره لیکنه دې ولوستل شي او همداسې د نومځاینیوي په هکله مې لیکنه

:لیکونکی لیکي

پهٔ ټولیزه توګه د نړۍ پهٔ ټولو ژبو کې د بنې لهٔ مخې نومځري دوه ډولونه لري، ،، پهٔ لومړیو کې ژبپوهانو دا انګېرلهٔ چې یوازې .خپلواک یا منفصل او ناخپلواک یا متصل خپلواک نومځري پهٔ ژبه کې رغنده او کارېدونکي نومځري دي او بنسټیز رول لوبوي، خو د ژبپوهانو وروستۍ .ومځري فرعي او رغنده رول نه شي لوبولیبرعکس متصل ن څېړونو دا پهٔ ډاګه کړه چې پهٔ ټولو ژبو کې دا قاعده د پلې کېدو وړ نه ده، بلکې پهٔ ځینو ژبو کې منفصل یا خپلواک نومځري یوازې د تاکید او تقابل لهٔپاره کارول کیږي، خو .لري برعکس متصل نومځري رغنده او جوړښتیزې بنې

یادې موضو ته مې ځکهٔ نغوته وکړه چې د نومځرو پهٔ پېژندنه کې د ابهام ټکی د ،،.لوستونکو لهٔذهنه لرې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور وکړئ، چې زه په دې متصل او منفصل او همداسې په ، تقابل او ابهام، خو ښه پوره د .شوم، خو په هر صورت بیا دا نومځای نیوي دي، که فرعي او یا بل ډول وي پوه نه دې له پاره بیلګې هم نه دي راوړل شوي.

دا دې ورزیاته وي، چې نومځاینیوي په څو ډوله دي، چې زما لیکنه کې پوره څیړلې وبه شوي او دا دئ تاسو ته یې یوه برخه مخ ته ږدم، چې له الماني ژبې څخه مې رانیولي او ګورو، چې د پښتو له پاره هم باوري دي، داسې لړ څه توپیر سره.

د الماني لاندې پرونومونه یا نومځاینیوي د بیلګې په توګه څیړو:

Personalpronomen,Possessivpronomen,Reflexivpronomen,Relativpronomen او Interrogativpronomen.

ځانیز یا شخصي نومځاینیوي **Personalpronomen**

ځانیز یا شخصي نومځاینیوي دي: هغه، ته، زه(ن او ښ)، تاسو، موږ(ن،ښ)، او د هغوي هغوي بدلیدونکې بڼې دي.

ي وي، چې دا به ګومان مې دئ، چې پښتو کې پرته له پورته دا لاندې هم ځانیز نومځاینیو ما، موږ، تا، تاسو، هغه، هغې، :یې لړترلږه د الماني او فارسي سره توپیروي دا پورته په یاد راوړو، چې نومځاینیوي ځایونه سره بدلوي یا سره بدلیږي .(ن،ښ)هغوي

دلته هرومروزموږ د ژبپوهانو لیکنو ته پوره اړتیا ده، زه خو به داسې لړ سرسري :یادونه مخ ته ځم، ژوره لیکنه بیا په ډېره بخښنه زه هم ژبپوهانو ته پریږدم.

موږ ځانیز نومځاینیوي کړی شو دا د بلل شوي نومونو په ځای ولیکو، په خپل ځان خبرې وکړو همداسې له نورو کسانوسر څه ووایو یا خبرې وکړو.

چې په ،دا یادونه هم نه ده،دا دموضوع اړونده برخه جوړوي :خودلته داړیینه یادونه درې، الماني او پښتوکې یې غونډلې څنګه جوړیږي او کوم نومځانیوي ورته راوړل کیږي:

په الماني کې وایو :بیلګې

Ich habe*eine Katze*.*Sie*ist schwarz.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یوه پیشو لرم، هغه توره ده

من یک پشک دارم،او سیاه است

او،، من،، راځي او یواځې Ich الماني او درې ژبو کې د هر وخت له پاره همدا په کړونی بدلیږي یا بڼه بدلیږي، خو په پښتوکې داسې نه ده، چې لاندې یې راوړو:

بدلیږي او نومځاینیوي هم بدلیږي-په پښتو کې کړوني هم بڼه.

من یک پشک دارم = زه یوه پیشولرم

من یک پیشک خواهیم داشت، خو = زه به یوه پیشو ولرم

من یک پیشک داشتم = ما یوه پیشو لرله

بله بیلګه :

(ورسره یا مل ) دا زما بکس دئ
(په بدل کې ) دا زما دئ
او که

## ا څښتنوالي نومځاینیويډ - خاوندوالي **Possessivpronomen**

اړوندوالی یا خاوندوالی یعني ملکیت (خوندیوالي نومځاینیوي )دا پوسسیسیو نومځاینیوي په ګوته کوي، موږدا دوه سره توپیروو د مل په څیر او د نومځاینیوي په څیر د په ځای په بڼه یا په ځی

یلګهب

دا زما بکس دئ

دا زما دئ.

موږ ځایونه لرو یا قومونه، چې هغوي د ،، زما .بې په هکلهد پښتو ژ :یوه غوره یادونه او ستا،، په ځای ،، دما او دتا،، وایي، نو که ،، د ،، د ملکیت مورفېم وي، باید د ،، زما دا یوه یوه اړیینه د خبرو دنده ده، چې زموږ ادیبان .او ستا،، په ځای ،، دما او د تا،، راشي .ا په اند به دا ،، د ،، سره سمه وي‌پرې سر وخوږوي، خو بیا هم زمـ

## راګرځیدونې نومځاینیوي **Reflexivpronomen**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ) راګرځيدني يا بيرته راګرځيدني سره يا راګرځيدوني نومځاينيوي موږ د -رفلکسيو
ځان ) او رامات کړنو ((غلطيدل؟)غلتيدل )تيرباسل يا ځان تيروتل، ځان ناسميدل
سره کاروو (پيژندل

بېلګه:

(خبره په ما اوزه کې ده ) ما ځان تيرباسه يا زه تيروتلم
موږسره پيژنو

اسې فارسي بل ډول دي‌که پام وکړو، نودلته هم هرومروپښتو او الماني،همد.

نسبتي نومځاى نيوي **Relativpronomen**

.ه کووسره موږ نسبتي غونډالې په ګوته (...،هغه، دا، کوم ) د نسبتي نومځاينيوو

ببيلګه:

.وهلى چې بانک (هغه)پوليس سرې لټوى، کوم

يا پوښتنيز نومځاينيوي -پوښتنويينيز **Interrogativpronomen**

په پوښتنغونډاله کې د نوم په خاي (څوک، څه شى، چاته، د چا ) پوښتنيزنومځاينيوي
.موږ پوښتنه کوو راځي، د هغه پسې يا د کوم چې

ببيلګه:

.د درې سره به لږ ستونځې ولرم، خوزه پوهيږم، چې تاسوله ما ښه پوهيږئ

دا به څوک ووايي؟

دا څوک وايي

دا چا وويل؟

دا چا ويلي وو؟

.درې سره يې پوره توپير شته .دلته ګوره له،، څوک،، څخه ،،چا ته،،لاړه :يادونه

. دا،هغه ، کوم چې :پام راګرځوني نومځاينيوي دي **Demonstrativpronomen**.
راوباسو يا (د نورو له ډلې ) موږ پام راګرځووني نومځاى نيوي هلته کاروو، چې يو څه
.غوره کوو يا د پاموړ ګرځوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګې:

تاسو دا کمیس غواړئ یا هغه؟

ناټاکلي نومځاینیوي **Indefinitpronomen**.

مورږ. دې ناټاکلو نومځاینیوو پورې د بېلګې په توګه اړه لرئ یوڅه، نه،سړی، یوڅوک، هر دا کاروو، کله چې مورږ یوشی ټولیزکوو

لیکونکی لیکي:

زۀ نومځری مطلق نوم یا اسم نه ګنم او نه ورته کلمه وایم همدارنګه نه یې خپواک ،، نحوي واحد ګنم.

،،.یوازې خپلواک نومځري خپلواک ژبني توګې ګنم بلکې

چې نومځانیوی وي، خو .زه خو باور وکړئ، چې په دې پورته غونډالو سم پوه نه شوم بیا هرومرو نوم نه دئ او خپلواک نحوي واحد یعنې څه؟ خپلواک یو څه ګڼي او بلواک نه هغه چې نومځای نیوی وي، خو بیا نومځاینیوی دئ.

خبروه نه اوږدوم، ګومان مې دئ، چې نور به داستونځې اوبې شوې وي زه نوره دا.

هرڅه چې غواړئ روښانه او ښه وښایئ، نو د دباندنیو یادو ژبو څخه ګټه :بیا زما وړاندیز پورته کړئ.

زموږ د ژبې پوهنیز توان غورازورېدلی، هیله ده، چې تاسو ځوانان دا د نورو ژبو پهمټو اځنئ لار دهتوانمند کړئ، چې دا یو.

دا وړاندیز زما د پښتو ډاکترئ او ماسترئ زده کړو او استادانو ته هم دئ، چې د یو څه لیکلو په ځای دې دوي یو څه وژباړي، چې کلهیې خپل ادونه د همغه لیکنو په بنسټ په کې ځای کړي وي.

لیکونکی لیکي:

،،.نشو ګڼلی نو اوس ویلی شو چې نومځری دنوم یوه برخه ده، بلکې نوم یې،،

چې د نوم برخه شوه، خو نوم شو، خو هغه ټولوالی یې له نوم څخه باید کم وي، نو بیا یې ولې نوم نه شي ګڼلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تیرې د کابل د تیرو برخه ده، خو د کابل تیرې :د برخې په هکله په ډېره، ډېره بخښنه نه دي.

نومځاینیوي د نوم یوه برخه ده، دا روښانه کوي، چې د اصلي برخې په څیر د نوم برخه، د برخې په ).نور نومونه هم شته، چې هغه نومځري نه دي، خو نومځري نومونه دي (پېژند باید وپوهیږو، چې څه مانا او بیا یې وکاروو.

:لیکونکی لیکي

نومځری د نوم یوه :داسې تعریفولی شو د بحث په پای کې په ټولیزه توګه نومځری،، نه شتون کې د هغهٔ ځینې چارې پر مخ وړي او ځانته جلا دندې برخه ده، چې د نوم پهٔ ،،.لري

:لیکونکی لیکي د سرلیک په توګه

**،،تعجبي یا د حیرانتیا نومځري،،**

.مه شول‌داسې نومځاینیوي خو ماپیدا نه کړل، موخه مې په الماني ده، او په پښتو کې د کو

:لیکونکی لیکي

د حیرانیتا پیغام وړاندې کوي او د پوښتنیز (( څومره )) دلته هم !څومره ښکلی بڼ دی،، نومځري پرځای ورته د حیرانتیا نوم ورکو.

.څومره خوارہ دي ! به به

. څومره ښکلې منظره ده !اووو

کې هم تر سترګو (واو نور ...انګلیسي، الماني، فرانسوي، ترکي)دا نومځري پهٔ نورو ژبو ،،( ...wow،hey، what) :کیږي، لکه

خلک په ځنو پېښو یا خبرو خپل هکپکوالی څرګندوي، خو هغه غږونه بیا د کومو ویونو په ډله کې نه شو راوستلی او نه کوم ویونه دي.

که داسې شي، نو بیا به به به، په په ، پوهو، هاها، يېيېي او همداسې به یې پسې .ه دې کې د فکر کولو څه او ځنې نور نومونه ورته ټاکل کومه ژبلار نه دهزیاتوو، نو پ

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړو، چې پوه شو، چې چیرته، څوک، څه شی، نو بیا د ګرامر په کومه ډله کې راځي؟

.ېدا نومځاینیوي دي او پوښتننومځاینیوي بلل کیږ

زما وړاندیز بیا تکراروم او په دې هیله، چې موږ دې خپلې ژبې ته پخپله څه نه راوړو، دا د دې له پاره موږ باید دېرمختللو ژبو څخه ګټه .کار مو د ناسمونونو سره مخامخ کوي واخلو او د ناپیژندو او یا په پښتو کې پرې نه پوهیدلو ویونو له پاره په پښتو کې اندول پیدا .او یا همغه دباندني وی وکاروو کړو

که زموږ ګرانویونکي غواړې راته ښه برګ شي او یا سره خبرې وکړو، چې یوه ګډه .راته له کرونا څخه هم په امن راووځی.لاس ته راوړنه ولرو، نو برېښنا پته مې دا ده

smakhan1946@gmail.com

.

ډاکتر ماخان میږی شینواری

## د تل له پاره، تل، ترتله او تل ترتله

ما څوکاله د مخه د تاند درنې خپرونې کې د یوه ډېردرانه او راته ګران استاد یوه لیکنه ولوستله، چې له تاسو سره یې د شریکولو له پاره له هغې دا لاندې را اخلم او په دوه برخو یې وېشم:
یادونه: پخوا مې په دې یوه اوږده لیکنه کړې وه،خواوس مې دا نوې ولیکله، چې د لیکنې ډول یې هم بدل غوندې دی.

لومړی: د تل له پاره:
،، ( د تل لپاره) په ګرامري لحاظ قیدي عبارت دی. دغه قید د پښتو په پخوانو کتابونو کې نه مومو، په غالب ګومان په شلمه پیړۍ کې پښتو ته راغلی دی او د انګلیسي ژبې د FOR EVER ترجمه ښکاري.،،
---- ،،که څوک د متوفي په اړه ولیکي چې : هغه له موږ د تل لپاره لاړ ؛ دلته یې نه ( تل ) او نه هغه د کلاسیکو اثارو عبارتونه معادل دي. ځینې خلک ( د تل په مخه ) عبارت استعمالوي چې شاید ( د تل لپاره) تر ګردو نږدې معادل وي. موږ ویلای شو چې : هغه له موږ د تل په مخه لاړ.،،

دویم: تل، ترتله اوتل ترتله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

،،( تل ) ډېره لنډه، یوه سیلابي کلمه ده خو د ابدیت لویه معنا پکې نغښتې ده. په همدې وجه ډېر ځله لیکونکي د هغې ترمعنوي اثر لاندې راشي او یو څه نور توري ورسره زیات کړي چې په صورت کې یې هم د محتوا قوت پیدا شي. پخوانو چې ( تر تله ) جمع کړی او ( تر تلو) یې بللی دی، یا یې د ( تر تله ) په ځای ( تل تر تله ) راوړی دی، وجه یې همدا د ټینګار غوښتنه ده.،،

ګرانو لوستونکو!

زه په دې لیکنې نور څه نه لیکم، خو دې د ،، تل له پاره، تر، ترتله ،، له پاره غواړم یواځې یوڅو غونډالې له تاسوسره شریکې کړم او په تل ترتله لړ تم شم :

له دې د مخه، چې په دې موخه څه لیکو اړیین بولم، چې د سم اند(منطق) څخه روښانه ونه وکړم.

یو: منطق

راځی، چې له هرڅه د مخه لومړی د سم اند یا منطق په بنسټ ،،وینا،، تعریف کړو:

پیژند ( دا پیژند د شمیر پوهنې سم اند څخه دی): وینا د ویونو یا کلمو موخه وره څنګ په څنګ اینوونه ده، چې یو ،،ریښتیا ارزښت،، رښتیا یا نا رښتیا ولري.

که ووایو، چې:

نن د کابل دښار د هوا حالات.

دا وینا نه ده، ځکه موخه وره نه ده، ځکه چې ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نارښتیا نه لري.

که ووایو، چې:

نن کابل کې ورینګي (ورښت.) وریږي.

دا وینا ده، ځکه موخه وره ده او یو رښتیا ارزښت لري، یعنې یا به ورینګي وریږي( باران نه وریږي، باران میبارد)، چې رښتیا ارزښت یې رښتیا دی او یا به ورینګي نه وریږي، چې رښتیا ارزښت یې نارښتیا دی.

پورته جمله ویلای شو:



نن په کابل کې ورینګي ریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې نن ورینګي وریږي.

ورینګي وریږي نن په کابل کې.

د سم اند له مخې دا وېناوې دي . ویونه موخه ور سره ځاي په ځای شوي، خو دا چې ژبه یې څه ډول لیکنه غواړي، دا بیا بله خبره ده.

جمله یا بهتره وینا لرو: ،، استبدادي نظام د تل لپاره نسکور شو،،. دا وېناده، ځکه چې ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نا رښتیا لري.

دا چې دا ،، استبدادي حکومت،، به بیا راځي او که نه ، د دې سره یې موږ سر او کار نه لرو. دا د یوه کس اند دی او ځرګند یې کړ.

دوه: له پخوانیو کتابونو څخه ګټه اخستنه اړیینه ده، خو دې ته باید ګوته ونیسو، چې موږ له پخوا څخه ډېر څه نه لرو، موږ همدا اوس خپلې ژبې ته وده ورکوو او دا – د لوي څښتن په برکت- په وده کې پوره چټکه ده. زموږ هر شاعر او هر ادیب د هغه وخت له اد بیه او شاعره ښه پوهیږي او دا باید همداسې وي، ځکه چې دا یوه طبیعي پروسه ده.

اوس راځوخپلې اري لیکنې ته:

لومړي ته:

دوه برخې دي.

١ – د دباندنۍ ژبې اغیز:

دا سمه خبره ده، کیدی شي دا وي، ځکه موږاړیوچې هر څه یا ټولې پوهنې – ژبه هم – د د باندنیو ژبو په مرسته مخ ته بوځو، نو اغیزبه یې هرومرو وي، خو ایا دا اغیزیې د ژبلارو او د موخه ورتیا سره سم دی؟

دې ته باید تل پوره پام وي.

اوس راځو د ،، تل له پاره،، ته

دې ته باید پام وکړو، چې دا د FOR EVER انډول دی اوکه نه؟ یعني موخه وردی، که نه؟



یا زموږژبلار به دا وي، که نه؟
پوښتنه: ټاکسي دې (د) څه وخت ( له پاره) راغوښتی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هرڅه دمخه باید دې پوښتنې ته پام وکړو یا پام راوګرځوو، چې زمونږ پېښتو همداسي ده او که نه؟
که پوښتنه سمه وي، نولاندې ځوابونه یې هم هرومروسم دي.
-- د سبا له پاره مې په یوولسوبجو تاکسي راغوښتی دی.
-- د ... له پاره مې په یوولسو بجو تاکسي راغوښتی دی.
-- ... ته مې....
-- ... په یوولسو بجو مې تاکسي راغوښتی دی.

د سبا په ځای چې درې ټکي ځای په ځای شوې، هر مهال ( د ژبدود اوسم اند سره سم) لیکل کیدی شي.
داسې هم ویلی شي، چې:
-- د تل( د درې ورځو، د یوې اونی، د راتلونکوځوورځو، د هرې ورځې) له پاره مې په یوولسو بجو تاکسي راغوښتی دی.
دا غونډالې ،،ربنتیا ارزښت،، ربنتیا یا ناربنتیا لرودی شي، خو موږ یې دلته د ربنتیا ارزښت سره سر اوکار نه لرو
دویم ته: ، تل، ترتله، تل تر تله

پوښتنه ۱: ته څومره (وخت) دلته پاتیږې؟

زه څلور ورځې(یو کال، تل)دلته پاتی کیږم.

پوښتنه ۲: ته د څه وخته پورې دلته یې؟

زه دلته د څلور ورځو( یوکال، تل) پورې دلته یم.

دلته هم ګوره همغه د ،،تل له پاره،، په څېر څه شته، چې ربنتیا ارزښت لري. دا به یا ربنتیا وي یا ناربنتیا

پوښتنه۳ : ته له څه وخت تر څه وخت دلته یې؟

زه د ۵- م تر ۱۰ – م د حمل دلته یم.

بنسټیزه پوښتنه ۴ :

ایا تل ترتله د ترتله لپاره ټینګار دی؟

بیا لنډ:



څومره وخت ؟ تل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څه وخت له پاره؟ د تل له پاره.

تر څه وخته؟ تر تله.

مور. به دې تل تر تله ته لر. تم شو.

ایا هر څه چې شته وي، هغه پیل اوپای لري؟

و به وایو،چې هو.

هر څه چې پیدا کیږي،هغه پیل اوپای لري.

یو څو بیلګې:

په مړستون کې د مړي په ښنځای داسې لیکي: ۶. ۵ .۱۹۷۸ – ۳ . ۸ . ۲۰۱۸

په تورویې لیکو: شیږم د پنځې ۱۹۷۸ تر ۳ د اتمې ۲۰۱۸

دا په دې مانا چې: له .... تر ....

اوس نوپوښتنه دا ده، چې شته وي، خوپیدا نه وي؟

ایا داسې څه شته؟ هو اوهغه زمور. رب دی.

رب تر تله برقرار دی اوپیل یې هم له تله برقرار دی، نو

دلته به هغه د رحمان بابا د شعر د یوه نیمبیتي راوړو،چې دا درانه استاد هم په خپله لیکنه کې راوړی:

،،تل تر تله برقواردی رب زما،،

دا د رب له پاره داسې لیکو: تل تر تله

دا په دې مانا چې له تل څخه تر تله پورې. یعنې دا لومړی ،، تل،، د ،، ترتله،، له پاره ټینګار نه دی.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکړو؟

له څه وخت را په دې خوا زما څه ليکنې د تاند په درنه خپرونه کې ګرانو لوستونکوته وړاندې شوې، چې په کې زموږ ناسمونونو ته ګوته نيولشوې وه.

کومان مې دی، چې زما يا زموږ ستونځې لا اوږدې دي، چې زما ناسمونونه(؟) هم په کې د څېړنې دي اوله دې امله مرسته.

زما ګوناه: ژبپوه نه يم، په ګرامري لار د پښتو څه نه لرم، زه هم د پښتو کتابونه نه رانيسم، نو که دا زما د ليکنې په هکله څېړنې شوې وي او زه ترې نه يم خبر ملامته يم، بخښنه دې وي، خو بيا هم په يو څه ډېرې ليکنې کيږي اودا هم د ژبې د ودې سره مرسته ده.

راځم خپلې موخې ته:

لومړی:

ما په خپله تيره ليکنه کې، چې د تاند د درنې خپرونې څخه خپرې شوې، دا سې د انګرېزي انډول په پښتو ليکلي وو.

له (د) ... څخه from

د ( له)... سره with

يعنې د انګرېزي اوستربلونه د پښتو سرکومپوزېشنونه ( غيرکې نيوونې) دي، خودا لکه تيروتنه وي.

ولې؟

خبره به نه اوږدوم،خپلې موخې ته به راشم:

١ ـ د هغه کتاب

٢ ـ د هغه سره کتاب



٣ ـ د هغه څخه کتاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: دا ،،د،، د هغه اړوند یا د ،، هغه،، سره تړلی دی او که څنګه؟

په ۱ – کې خودا مورفیم د خاوندتوب دی، خودا نوبیا په ۲ – او۳ – کې څنګه دی؟

که هلته ،، د ،، د ،،هغه،، پورې اړوند وي، خوبیا نو،،له...څخه،، او ،، له ...سره،، نه شته دا به بیا یو اځي ،،څخه،، او،،سره،، اوستربلونه وي او که ،،د،، د ،،هغه،، اړوند نه وي، نو بیا دا ،، له(د)...څخه(سره)،، غیر کې نیوني یا یا سنترپوزېشنونه دي.

زما په اند د یوې څېړنې ارزښت به ولري.

دویم:

بله پوښتنه د ،،پر،، ، ،، باندې،، او ،، پر...باندې،، کې ده:

مور لر:

۱ - پر میز

۲ - میز باندې

۳ – پرمیزباندې

په دې پورته کې نوکوم یو سم دی؟

او ولې؟

بله پوښتنه په ،، پر،، او،،په ،، کې هم شته، خودا چې د خای اړوند ویونوپوښتنه ده، کاربه پرې نه لرو.

همدا رنګه:

-- ورباندې کیږده ( ترې لاندې، ورڅخه لاندې)

-- ورلاندې کیږده( ترې لاندې، ورڅخه لاندې )

داسې نور هم زیات شته، که نوره څېړنه پرې وشي،هم بده به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځوک، چې د يو څه سره سر او کار ولري، د هغه څه سره يې مينه هم پيدا کيږي. زه ګوره اوس د زړه له کومې د پښتو زده کوونکی شوم، که ژوند وو، داسې نورڅه به، چې زه يې زده کوم، له تاسو سره ګډوم.

که دا ليکنې بيا د تاد درنې خپرونې خورې کړې، نوزه به يې بيا هم لا ډېر منندوی يم.

که مرسته کوی، نو smakhan1946@gmail.con

## د ،،په،، او ،،پر،، کارونه

دا دواړه ويونه ځای اړوندوالي له امله په ځنو ځايونو کې دا ،،په،، د دواړو له پارهکارول کيږي او په ځنو ځايونو ی بيا د په ا پر منځ ( دلته د منځ سره په يا پر  او همداسې تر نه ليکم، چې تر خو بيخي ناسم راځي) کې توپير راولي.

اوس هر يو ځانله څېړو:

دا نو که يو څه په يو څه کې دننه وي، نو دلته ،، په ،، کاروو، لکه د سرک په منځکرښه کې بوټې درول شوی.

د مېز په کوټه کی (کوټکی) کې مې کتابچه ايښوولې.

او ،، پر ،، په هغه ځايونو کې کارول کيږي، چې يو څه د يو بل څه د پاسه ايښول شوي وي.

ډاکتر ماخان  ميرزی شينواری

### ليونی يم  !نه .ناروغ يم

دا په  .ليونی يم، چې ټول په پښتو ژبه ليکنه کې په يوه لار ځي او زه يې ورسره نه منم خپله خټه کې ليونتوب دی، خو تاسو راسره مرسته وکړی

رځي او لومړنی ليونی يم، چې داسې ليونی يم، چې دا لاندې ناسمونونو ته مې هم پام را ګ .ناسمونونه سملاسي وينم، دا چې لومړنی او اخرنی  به وم، دا نو د راتلونکي خبره ده .خبره په همدې لومړني کې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک عمومي قوماندان امریکا کې لومړنی تورپوستی د هوایي ،، ،، په خبرونو کې لولم شو،،.

په دې غونډالې کې دوه ستونځې دي:

دا لومړنی تورپوستی نه دی، چې په دې کار ګومارل کیږي، خو وګورو، چې دا :لومړی لومړی به ورسره جوړ شي که نه؟

روښانونه یې لاندې راځي.

بیا :لول چې :دویم

،، ومي قوماندان شوامریکا کې لومړنی تورپوستی د هوایي ځواک عم ،،

دا چې دی په امریکا کې لومړنی تورپوستی نه دی.

که په پورته غونډاله کې د لومړني په ځای لومړی ځای په ځای کړو، نو بیابه څنګه وي؟

پوښتنه

دا به نو په څه شي کې لومړی تورپوستی وي، چې دا دنده ورته سپارل کیږي؟

،ګورو چې غونډاله موخه وره نه ده

ستر جنرال چارلس برون لمړنی تورپوستی ،،، ،، :خو بیا پسې بله غونډاله کې لولو ر.....جنرال دی، چې د امریکا په تاریخ کې

.پوهیږو، چې دی لومړنی تورپوستی جنرال نه دی، دده له مخه به هم ډېر وي

په پورته غونډاله کې که د لومړني په ځای لومړی ولیکو، نو دابه سمه شي یعنې

ستر جنرال چارلس برون لمړی تورپوستی جنرال دی، چې د امریکا په تاریخ ،،، ر.....کې

خبره دلته دا ،،چې،، سموي ..... لومړی تورپوستی جنرال دی، چې ...

.اوس نو چارلس برون د امریکا هوایي قواو قوماند دی

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارلس برون لومړنی تورپوستی قوماندان دئ، چې دا دنده ..... :کړی شو ولیکو
.. ورسپارل شوې

دی په دې دنده کې اوس لومړنی تورپوستی قوماندان هم دئ، ځکه چې له ده څخه د مخه
. دا دنداه بل تورپوستي نه لرله

په دې مانا چې لومړنی او لومړی کټمټ نه خبره په لومړي او لومړني کې ده، دا :یادونه
د بېلګې په توګه په ځغاستسیالس کې یو ځوک لومړی کیږي، خو لومړني ته یې باید .دي
که د افغنستان کوم یو ځغاستي دا .پام وي، چې لومړنی دئ او له ده د مخه بل څوم وو
زما ناسمون چې ) ځغاستسیالي وګټله، نو دابه بیا لومړنی افغان وي، ځکه د ده له مخه
دا لوبه (د مخه دئ (څخه) له ده :: داناسم دئ او سم یې .همدلته یې سموم ځکه دده له مخه
کچه نه لیکم ناسمه ده او ) بل افغان نه ده ګټلي، خو د نړئ په سویه یا سطحه یا هواره
هوارې ته مه هکپک کېږئ، ځکه سطحه او هواره همغه څه دي، خو دا یو یې زموږ د
.به دئ لومړی وي او نه لومړنی (بې نابلد او دا بل عربي بلد دئژ

## پټ سړی کور ته نه ځي

ګومان مې دئ، چې لږ نابلده به وي، خو په .دسم اند له مخې د وی او ویونو ځای بدلون
:هرډول په یوه لیکنه کې مې ولوستل چې

،، .پټ سړی کور ته نه ځي،،

،،او سړی کور ته پټ نه ځي .سړی پټ کور ته نه ځي

درانه لیکونکي په دې هکله پوره او په زړه پورې لیکنه کړې وه، خو زه هغې لیکنې
باندې خبرې نه کوم، یواځې دې ټکي ته غواړم د ګرانو لوستونکو پام راړوم، چې، دا
ا غونډالي دي یا همغه ویناوې غونډالي یا ویناوې په لومړي لید یو ډول یاني د همغې ماڼ
لیکوال .،،دي، خو که ورته په ځیر شو دا دریواړه غونډالي سره بیلې بیلې ښکاري
.موضوع ښه څیړلې

ما هم وغوښتل چې په دې هکله دا یوه لیکنه د ګرانو لوستونکو سره د سماند په
لونه بنسټ ګډه لوست ته وړاندې کړم، چې داسې لیکنې نو نور څه د لیکنې ډو
لري ، ولې دا سره ورته یا همغه غونډالي دي او یا هم سره ورته نه یا د همغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ځرنګوالی به لږ پوره وڅیړو او وبه ګورو، .ترې پوهیدنې غونډالي نه دي چې ستونځې نو په څه کې دي.

مخه چې په دې هکله خبرې کوم، لنډ د سم اند له مخې له دې د

د وینا پېژند راوړو او :لومړی

د یوې وینا د لیکنې ډولونه د ویونو د ځای بدلیدنې له مخې غواړو وپیژنو، چې -دویم ځومره دا ویونه په غونډاله کې سره ځای بیلیدلی شي، د همغې ترې پوهېدنې سره.

وخه وره ځنګ په ځنګ ایښوونه ده، چې یو رښتیاارزښت رښتیاوینا د ویونو م -لومړي ته

.یا نارښتیا ولري، دا په دې مانا چې دا وینا به رښتیا یا نارښتیا وي

یوه غونډاله یا ښه یې یوه وینا د څو ویونو څخه جوړه وي، نو د دې غونډالي -دویم ته برابر دئ د فاکولتیت سره (تعداد) ډولونه د ویونو ځاییبدلیدنې له مخې د ویونو د ګڼون.

له دې د مخه د ا یادونه اړیینه بولم، چې دا وینا د سم اند له مخې ده، دا چې زموږ د ادیبانو د اند سره به وي او که نه یا به دا ویناوې ښکلې او که ځنګه وي، ایا دا د پښتو ژبلار سره ه مې یوائې او یوائې د سرلګوي او که نه، زه یې له دې سره سراو کار نه لرم، موخ ویونو موخه ور یوځای ایښوونه ده او بس..

دا نو څه مانا؟

که پنځه ګڼونه ولرو، نو د دې فاکولتېت برابره ده له

Fakultät

$5!=1.2.3.4.5= 120$

دا په دې مانا چې د پنځه ویونو څخه یوه وینا په یوسل او شل ډوله د ویونو ځاي .سره دا را سره ومنی یا یې و ازمایې او زموږ بیلګه کې به یې د .یريېبدلون له مخې لیکل ک وینا څخه، چې له درې او څلورو ویونو څخه جوړه ده روښانه کړو.

:راځی، چې پیل وکړو او دا وینا وې داسې ولیکو

.سړی کورته لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له درې ویونو جوړه  .پورته وینا کې ویونه ،،سړی،، ، ،،کورته،، او ،،لاړ،، دي په ګران  لوستونکي دا پخپله لیکلی شي، چې ځان باوري کړي .وینا په شپږ ډوله لیکلی شو

اوس راځو خپلې لیکنې ته او همدا ویونه  کاروو:

سړی کورته لاړ.

لاړ سړی کورته.

کورته سړی لاړ.

د له مخې همغه موخه لرونکې وینا ده، چې یواځې د ویونو ځای په کې بدل دی، دا د سم اند چې د نورو درېواره لیکلو څخه یې تیرېږم، ګران لوستونکي دې ځان پرې باوري کړي.

که ولیکو چې:

لاړ  سړی پټ کور ته لاړ، سړی کورته پټ لاړ او سړی کورته .پټ سړی کور ته لاړ پټ، نو دا به سره همغه موخه ورې غونډالې یا وینا وې وي او که نه؟

خبره را لنډوم:

پټسړی همداسې پټکور ، دا په دې ترې پوهېدنه چې  :په پورته هره وینا کې که ولیکو سړی پټ دی او کور  هم پټ دی، یواځې پټ لاړ، چې موخه ترې داسړی په پټه لاړ.

اوس نو وینا لرو:

(دا خوي دی او ګومان مې دی، ګډ به لیکل کیږي، لکه سپینغر، او نور )پټسړی -یو دا وینا له درې ویونو، پټسړی، کور ته او لاړ جوړه ده نو له دې امله په شپږ  .کورته لاړ ډوله لیکل کیږي:

کور ته لاړ، کورته پټسړی لاړ او لاړ کورته پټسړی سړیپټ.

سړی  .بدلون له مخې په شپږ ډوله لیکل کیږي دا هم د ویځای .سړی پټکور ته لاړ –دوه پټکورته سړی لار او پټکور ته لاړ سړی .پټکور ته لاړ.

په دې وینا کې ګورو، چې سړی ګوندې کورته په  .سړی کورته پټ لاړ :که ولرو -دریمه دا وینا بیا له څلورو ویونو پټ، سړی، کورته او لاړ جوړه ده، چې له دې امله یې .پټه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنه هم د ځای بدلون له مخې په دولس ډوله ده، دلته دې پام وي، چې دا پېټ دې د په پټه لاړ (یعنې په پټه)په ځای وي لکه چې لیکلې مو وو، پېټ لاړ.

دلته لیکلی شو:

سړی کور ته پېټ لاړ.

. ه لاړسړی پېټ کور ت

پېټ سړی کورته لاړ.

سړی کورته لاړ پېټ.

د دې نور اته ډولونه د ویونو ځای بدلون سره نه لیکم، خو دا دې په ګوته وي، چې په پورته کې دا ،، پېټ،، د

سړي او همداسې د کور سره نه دی تړلی یانې داسړی پېټ نه دی دا په دې مانا، چې دا پټسړی نه دی.

پرونې منلو خپروونکو او ډېرو ګرانو لوستونکو څخه زیاته بخښنه زه د تاند د درنې ځ غواړم، چې یوه تیروتنه راڅخه شوې، چې باید نه وی شوې، چې شپې خوب کې ورته هغه وینا چې له څلورو ویونو جوړه وي، لیکنډولونه یې :هغه دا چې .یامو، خو ناوخته وو ځکه چې .سد ویونو د بدلون له امله څلرویشت دي، نه دولړ

4! = 1.2.3.4 = 24

بیا هم بخښنه راته وکړئ.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

## د پښتو سره دنوروژبو زده-کوونکوستونځې:

ګرانو لوستونکو!

که ما دا لیکنه یو ساعت د مخه سرته رسولې وی، بل ډول به وی، خوداسې بیا د خوب ته تګ وروسته یا بیا خوب ته د تګ وخت کې ورته هکپک هم شوم او د لیکنې بنې یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونديونې هم بنه بدله کړه. زه دې کار ته لږ هکپک هم شوم، چې پښتوربښتيا په څنو برخو کې د نوروژبو سره پوره توپيرلري او غزېدلې ده، چې له دې امله د نوروژبو ويونکو له پاره يې زده-کړه لږستونځمنه ده.

زما دې خوب ته تګ کې فکر شو، چې زموږد پښتو غونډالو د کړنو د ډول سره څنګه نومځاينيوي بدليږي؟

دا اوس لږروښانه کوو:

دلته به له سره داسې يوڅه هم راوړو، چې زموږد نورو ژبو ياپه ځانګړې توګه درې ژبې افغانان ولې اوڅنګه له پښتو سره ستونځې لري اودا څنګه روښانه کولی شو، چې دا ستونځې اوبی کړو؟

زما دې ته پخوا فکرنه وو، ما غوښتل، چې په نومځاينيوو څه وليکم، نو دې ته مې راپام شو.

په نورو ژبو يا لږترلږه په درې اوالماني کې د کړوني له پاره په رول کې د راتلونکي-، تلوني- لنډ – او اوږد تير وخت له پاره بدلونه راځي، خوپه پښتوکې دابل ډول دی، چې دلته لږرڼا په اچوو.

درې بيلګې به راوړو، بيا به خبرې پرې وکړ.

لومړۍ بيلګه: تلل

زه ځم.

زه به لاړ شم

زه لاړم.

زه تللم

زه تللی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې بیلګه کړنه  وخت-اړوند بدلیږي او کړونی نه بدلیږي.

د دا ډول کړنو ډولونه او کوموالی باید وڅیړل شي اوروښانه شي، چې کوم او څنګه بدلیږي (ګردانیږي).

پوښتنه: په تلنه اوتک کې به څه توپیروي؟

دویمه بیلګه: لیدل، کتل، که دا سره په ګډه بڼه بدل کړو.

زه ګورم.......... زه وینم

زه به وګورم.... زه به ووینم

ما کتل ........... ما لیدل

ما وکتل........ما ولیدل

ما کتلي وو.... ما لیدلي وو

دا ښی او کین د دویمي لیکي وروسته سره بدلیدلی هم شي.

په پورته کړنو ،، لیدل،، او هم ،،کتل،، کې ګورو، چې دا  د نورو کړنو غوندې بلدې ګرامري لارې نه لري، چې له لیدل څخه ګورم او کتل راځي. موږباید نورداسې بیلارې کړنو ویونه هم پیدا کړو او  هغه ځانګړې وڅیړو.

پوښتنه: داسې ویونه په نوروژبوکې هم شته، خوهلته یې موخه سره بیلیدلی شي. پوښتنه دا ده، چې ایا ،، لیدل،، او ،،کتل،،  همغه څه یا کټمټ دي اوکه څه توپیر سره لري؟

د دې روښانه-ونه راته لږ اړیینه بریښې او بیا دا لټول یا پلټل سره څومره نږدېدي؟

دریمه بیلګه:  غونډالې د کړنې، کړونې او (پړې) په کړونې سره.

 بخښنه دې وي، چې د وهلوبیلګه راوړم، دا وهل مویه ذهن کې داسې کلک ناست دی، دا وهل او ...، خو اوس مې لیکلې اوبیایې سمون راته لږ ستونځمن بریښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم الف- د لومړي کس له پاره:

۱ - زه تا وهم Ich schlage dich

۲ - زه به تا ووهم،خو , Ich werde dich schlagen

۳ - ما ته ووهلې Ich habe dich geschlagen

۴ – ما ته وهلې Ich schlagte dich

۴ – ما ته وهلی وې Ich hatte dich geschlagen

د پورته او لاندې دري تاسوولیکي، د وړاندیزونو سره

دریم ب – ددویم کس له پاره
ته ما وهې.

ته به ما ووهې.

تا زه وهلم.

تا زه ووهلم.

تا زه وهلی وم.

دلته نو کومه ژبلارده، چې لومړي کې یواځې کړنه بدلیږي او نومځاینیوی نه بدلیږي اوپه دې نوروکې بیا وخت-اړوند نومځاینیوي او کړنه دواړه بدلیږي؟ خبره څه کې یا چیرته ده؟

دا د نومځاینیووبدلیدنې له پاره هم کړنه ونده لري یا د کړنې په غاړه دی.

موږ دا بدلون د دې ډول کړنو په بنسټ کوو:

لومړی: کړنې، چې هغه یوڅه ته اړنه وي، دا په دې مانا، چې دا کړنې پرې کیږي، که ووایو، چې خپلواکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: هغه کړني دي، چې هغه یوبل څه ته یا د یوبل څه له امله دي.

لومړي ته: د دې کړنوبیلګې دي. تلل، بیدېدل، پاڅیدل. دلته یواځې کړونی دئ اود هغه کړنه.

دویم ته: د دې کړنو بیلګې دي: لیدل،وهل، اورېدل. دلته کړنی دي او د کړنو سره مل یو بل څه ونډه لري، که یاد یې شوی وي یا نه، په دې مانا، چې یوڅه به ګورې، یوڅه به اورې، یوڅه به وهې، که یو په -کړونی وي اوکه نه.

د هرې بلې ژبې کسان، چې پښتوزده-کوي،ستونځې یې په څه کې دي؟

دا خبره مو پورته ځواب کړه، چې په پښتو کې ګړن-اړوند نومځاینیوي هم بدلیږي.

په پورته کې ګورو، چې د پښتو د نومځای نیوي کاروني سره پوره توپیر لري.

## داسې لږ څه ګډې وډې به راشي:

ګورو چې د الماني نومځاینیوو کې بدلون نه دئ راغلی یا نه رځي، خو په پښتو کې

ګورو، چې په راتلونکي او تلن وخت کې د کړوني اوپرېکړوني رول د لنډ - - اواوږد تیر وخت سره توپیر لري اوپه نوروژبو یا لرتر لږه الماني اودري کې داسې نه ده.

دا هم باید په ګوته شي، چې د کومو کړنوله پاره.

د هرڅه د مخه باید په یاد ولرو، چې هرد بلې ژبې زده-کوونکی(ردکوونی) خپله لومړۍ ژبه په دویمه ژبه ژباړي. هغه غونډالي، چې دوی په دویمه ژبه وایي، د هغې له پاره دا غونډاله په خپله ژبه لږترلږه په فکر کې وایي اوبیا یې په دویمه ژبه اړوي. دا کار تر هغه وخته کیږي، چې دویمه ژبه هم ښه زده شي اوپه ژبلار یې هم ښه وپوهیږي یا د غونډالو جوړولو په لار.

تل په فکرپسې فکر راځي: کړل کیدل دي او که کیدل؟؟؟ یوه کړنه ده، چې کړونی یې نا څرګند دئ او په یو چا څه کیږي. ایا دا په-کړونی دئ اوکه څنګه؟ ووهلم؟ دلته زه وهلکیږم دلته وهل کیدل اووهل، دا هم بیا بله لار ده، چې یوه څه کیږي او یو څه کیدل کیږي، دې ته هم باید په کړنو کې پام وشي........

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه لیدل کیږم. ته لیدل کیږي. زه لیدل شوی یم. دلته بیا ټاکلی کړونی نه شته.

یادونه: دا ما ته نه دهروښانه چې زه دلته په کړونی دئ اوکنه.

نوایا دې ته اړیو،چې په پښتوکې د لیدلو او کړلوتوپیر هموکړو،که څنګه؟

ایا دا کړنه او کیدنه په نوروژبو او پښتو کې څنګه دي؟

په المانی او همداسې په فارسي کې دوي باید داسې ووایي. دوي فکرکوي، چې ګوندې په ټولوغونډالډولونو کې د کړوني له پاره د درې ،، ما،، له پاره زه راځي، خو داسې،

۳ –م یو : زه تاته وهم

۴ – م یو : زه تاته وهلی یم

دا ځکه چې دوي دا څه له خپلې ژبې پښتوته را اړوي.

د پښتو پوهانودنده: دوي باید دا روښانه کړی شي او لارې چارې یې سمې روښانه کړی شي. دې تغیرته باید دوي له پیله پام وکړي او دا د پښتو زده کوونکو ته له ښوونځي روښانه کړي.

ګران لوستونکي به راته دا بخښنه کوي، چې زه ددې لیکلو څه یادونه کوم. دا به یا د مخه روښانه او لیکل شویوي او که نه، نو ما لږ ترلږه دا لارورته پرنیسته.

دا هره موضوع د یوه پوهنیز کار لیکنه ده، چې پوره روښانتیا ته اړتیا لري او دا هم ښه روښانه شي، چې دا د بلې ژبې کسان دا څنګه اسانه او ښه زده-کولی شي.

یادونه: دا بدلونونه باید دښوونځي نصاب کې راشي او د نورو ژبورده-کوونکوله پاره باید له پیله دا بدلونونه په ګوته شي، چې هغو همغه له پیلهورته پام اوبلد شي، خو:

دا باید له پیله ټول وخیړل شي او ژبلارې ته د ژبلارې له یوې لارې برابرشي، چې د خپلې پوهې برسیره، نورهم ښه پرې وپوهول شي.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه شی دئ؟ (  ،،جوړښت، بڼه ،،) یو مورفیم

څه شی دئ؟ سیلاب یا سیلبې چې ،د دې له پاره باید وپوهیږو

سیلبې :پيژندSil•be
د ویونو د غږ دې په دننه کې د یوه یا ډېرو  غږونوجوړشوی کوچنی یوون دئ یا يې د یوه و
.یوون ته سیلبې وایي کوچني
دا له دې امله، چې موږ دا له درې را اخستی  .زموږپه ادبیاتوکې ورته سیلاب وایي :یادونه
.اوپه درې ژبه کې سیلبې نه شي ویل کیدی

؟مورفیم څه شی دئ :پيژند
ټولګې دي، چې دوي یو  یعنې یو سیلبې تورو کوچني یا (غږونو)اوازونو مورفیمونه د
.خپله مانا یا غوره والی ولري
دا د بیلګې په توګه په ،، لویوالي ،، ، ،،لویان،، کې  .لوي ،،  وی یو مورفیم دئ ،، :بیلګه
.کارولکیږي
داسې دئ، لکه دا وی، په کوم  دا په دې مانا، چې یو شی .والی،، هم یومورفیم دئ - ،،
دا د بیلګې په توګه په ،، لویوالي،، ، ،،ښکلیوالي،، ، ،، لټوالي،،  .پورې چې دی ترلکیږي
.کې کارولکیږي
څنګ کې کارول کیږي، چې وښايي، چې  (؟په) دا د نورو.ان،، یو مورفیم دئ–همداسې ،،
.،،چرګان،، ، ،،یو څه زیات په بر کې نیسي، د بیلګې په توګه ،،لویان
زیات ویونه له ډېرو مورفیمونو جوړ دي، که سړی مورفیمونه وپيژني، نو سړی کړی
.شي د وی په مانا ساده وپوهیږي
ژوند،، له  ،، .مورفیمونه اوژبسیلبې زیات وخت همغه یا یو شی دي، مګرتل نه
-م،، کول،، او-مګر سړی وايي،، ژوند .ژوندکولو،، ، او ،، مګر،، هم مورفیمونه دي،،
.،،ګر
یا
مورفیم
دئ، کوم چې په بیلابیلو ژبنیز  یا غږیووالی یا غږیوون -مورفیم خورا کوچنی اواز
.اړوندوالي سره همغه مانا لري
د  (فقط )سړی د خپلواک او تړلي یا بلواک مورفیمونوپه منځ کې توپیروي، چې دا یواځې
.ویونوپه دننه کې رامنځ ته کیږي
بیلابیل  ۱۶ ،وکړو، نو په هغې کې دربزره لیکسیکي مورفیمونه که الماني ژبې ته پام
.ویجوړونکي مورفیمونه شته۱۰۰ګرامري مورفیمونه او
: نااړوند یا خپلواک مورفیمونه
میز، ټوکه، سر :لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه : تړلي یا بلواک مورفیمونه

کوچنیونه یا کوچنیکونه + بنسټ ، ګی -کب

زیاتوالیپای + لویان، بنسټ

ډېرې لیکنې پرې شوې اوهر چا د خپلې خوښې سره ،وری‌ګ که تاسوپه نورو ژبو کې دا همغه ده –چې خورا واړه ژبیونونه دئ –پېژندونه ورکړې، خوموخه.

پښتو ،، له - "morphe" له یوناني ، "morphème"مورفیم،، له فرانسوي راځي،، ،،جوړښت، بڼه

یو وی کیدی شي ټوټه کیدونکی وي او له دې امله د ډېرو مورفیمونو جوړوي، خو یو نه ټوټه کیدونکی وی سملاسي یواځې یو مورفیم انځوروي.

وی:

د یوه غږ یا سېلبې سره .دئ (یووالی یا یا ناسم یې واحد )یو وی یو خپلواک ژبنی یوون یو .تي ژبه کې پرته له غږ یا سېلبې یوه خپلواکه مانا هم لريپه مخامخوالي دا په پیداښد دا موضوع ډېره اوږده .ټولیز باوري پېژند د دې له پاره نه شته او ستونځمن هم دئ .ځېړل شوې، ما یې یواځې هغه لنډ پېژند له تاسو سره بیا ګډ کړ.

نیو د پرمختتلو ژبو په بیا د غږونو ډولونه او نورې ځانګړتیاوې هم شته، چې هغه په دباند ادبیاتو کې هرو مرو شته او په ښه توګه.

ډاکټر ماخان میرزی شینواری

کابل د ۲۰۱۹ ز ک د جون ۲۰-م

# ګڼونه په ګڼونو او په تورو لیکل.

داسې یوه لنډه ننوتنه.

ما دا اوس هم پرته له سلنې، چې ناسمه ده، د لیکوالانو زیاتو لیکنو کې د ګڼونو لیکلو سره یو ډول نه یو ډول ستونځې ولیدلې، چې له امله یې غواړم د یوه مسلکي په څېر دا روښانه کړم.

ې د ګڼونو که رښتیا درته ووایم، زه پهدې درجو او طبقو نه پوهیږم، خو موږ، چ :یادونه څومره والی غواړو راته څرګند کړو، نو د هغې کورونو ره سر او کارلرو، چې دا یویز، لسیز، سلیز ، زریز او اداسې نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په شمیرپوهنه کې د دوه ډوله شمېرنیزو کارونو سره سر او کار لرو. ګڼل او شمیرل.

یادونه: موږ د ګڼلو کارونه له پام غورځولې او دې ګڼلو ته شمیرل وایو، چې دا به په همدې لیکنه روښانه کوو.

پیل:

۱ – ګڼل: د ګڼلو د وې سره موږ له همغه کلې بلد یو، وایو چې دا خلک و ګڼه چې څو دي یا

دا پیسې وګڼه!

د ګڼلو سره موږ دوه څه روښانه کوو:

الف: د یوې لویې څومره – یا څوموالی

د ګڼلو دنده: ............ څو منه، ـمتره،-ساعته

لومړی: د څه ټاکلو غوښتونو شیانو د څوالي، څووموالي او څومره والي ټاکل دي

دا په څه کیږي. په دې کې شیان ګڼل کیږي او دا په ګڼونو کیږي.

پېژند: هغه څه چې د یوې لویې څومرهوالی یا څوموالی په ټاکو ګڼونه دي. دا په ټولو ژبو کې همداسې ده.

ګڼونه (پیداښنتي -):۰ ۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ....۱۰۰ ...

لوستل: یو، دوه( دوې)، درې، څلور، پنځه، ....

لومړی الف: لکه په یوه لوښې کې د منو ګڼل (شمیرل نه لیکو، وروسته یې روښانه کوو)، چې څو منې دي.لومړی ب: د شیانو څوموالی: لکه په یوه لیکه کې ولاړ کسانو یو ځانګړی سړی د بېلګې په توګه سپین څوم سړی دی، چې له ګڼلو وروسته روښانیږي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلګې په توګه سلم سړی دي یا سلم ځای لري یعنې سلم دی ( هیله ده، چې د سلم په ځای د سلن ناسمون به مو اوس سم کړی وي).

په ترتیب داسې لیکو:

۱ – م، ۲ – م، ۳ – م ، ۴ – م، ۵ – م ، ....، ۱۰۰ – م (نه ۱۰۰ - ن)

یوم(لومړی) ، دوهم ( دویم)، دریم، څلورم،پنځم، ....، سلم(نه سلن)

یادونه: په پورته کې که دوه وي، نودوهم اوکه دوې وي،نودویم دی. دریم سم دی. زموږ ځنې لیکوالان یې په دوه اوځنې یې ان په درې بیګانو لیکي،چې ناسم دی.

ګڼل. د یو څه څووالي اوڅومره والي له پاره هغه څه ګڼو، چې کړنه یې ګڼل دي او هغه څه چې پرې ګڼو یې هغه ګڼونه ( یو یې ګڼ) بلل کیږي.

## شمیرل:

ګڼونه چې د کړنو یا د نښلوننخښو له لارې سره ونښلي یا وتړلشي، لکه زیاتون(جمع)، کمون، ځل اونور، دې ته شمیرل ویل کیږي.

موږ د ګڼونویا عددونود لیکلو له پاره کورونه ( کوټه ګی یا ځایونه) لرو، چې هغه څنګه لولو بیایې همهغسې لیکنه هم ده.

دا چې یو ګڼ څومرهلوي دی یا څو دی، څنګه ځان ته روښانه کوو؟

موږ د ګڼونو له پاره (ارزښت ) کورونه یا ځایونه لرو، چې لومړی کور یا ځای کې له صفر تر نهه ولیکل کیږي او له دې امله دا ځای یویز بلل کیږي. دویم ( ځای ارزښت) کور یا ځای لسیز بلل کیږي، چې په هغه کې، که نور ګڼونه پسې را نه شي یا بل ځای ونه لري، نو ۱ څخه تر نهه( ۱ – ۹ ) په کې لیکل کیږي او لس، شل، ...،نوي ځایارزښت لري، نوله دې امله د ځای ارزښت له مخې دا داسې ګڼو:

یویز، لسیز، سلیز، زریز او ... کورونه لرو چې ارزښتځایونه هم ورته ویلی شو

بیلګه: ۶۱۸ دا شپږ سوه اتلس لولو، چې همدا یې لیکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته کې د سليز کور کې شپږ،د لسيز کور کې يو او د يويز کور کې اته دي.

مات يا کسر:

که ولرو: ۸/۳ لولو:درې پر(په) اته، يعني له اتوبرخوڅخه درې برخې يا د يوه يوون يا يووالي ( واحد نهليکو، ځکه چې ناسم دئ) څخه چې په اته برخو ټوټه شي، درې برخې واخلو. دا داسې لولو: درې پر اته،چې همدا يې ليکنه يا ليکښه هم ده.

که د چا پيسې زياتيږي، نووايي، چې پيسې مې دوه برابر يا يونيم برابره يا درې برابره شوې. دا چې ځوک يې ناسم وايي، د هغې ناسم ويلو يا بللو له پاره، نو موږپه ژبه کې کومه لار نه لرو او نه برابروو.

لسميز يا عشاريه: که ولرو: ۳.۰۸۲ ( ۳،۰۸۲ ) نو دا داسې لولو: درې لسميز (عشاريه) صفر، اته دوه او همدا يې ليکنه هم ده.

دلته ګورو، چې په لسميز ځای کې صفر، پهسلميز ځای کې اته او په زرميز ځای کې دوه دي.

بيا: دلته له کيڼ و ښي لور ته کميږي، چې لومړی ځا ځای يې لسميز دا پهدې مانا، چې له يوه يا ښهښنه يې يو يووالس په لسو برخو ټوټه کيږي او که هغې څخه بيا څه اخستل کيږي.

موږ په تورو د ګڼونو د ليکلوسره ستونځې نه شو لرلی، دا يوه پيداښتي پروسه ده اودا زموږ په ژبه کې هم لرو.

که ولرو: ۶۳۵.۸۰۴ نو دا په سليز کورکې شپږ، په لسيزکور کې درې په يويز کور کې پنځه لري او په لسميز کور اته په سلميز کور کې صفر اوپه زرميزکورکې څلورلري اوداسې يې په تورو ليکو: شپږسوه پنځه دېرش لسميز اته، صفر، څلور. ګورو چې په کوم ځای کې په تورود ليکلو سره ستونځې نه لرو.

په سلنه مې يوه ليکنه کړې، چې ناسمه ده او سمه يې سلمه ده.

لنډ بيا د پام وړ: موږ هر ګڼ بې له کوموستونځو په تورو يا د .

توروسره ليکلی شو. څنګه چې يو ګڼ دی، نو همهغسې يې ليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګران لیکونکي دې پوره پام وکړي، چې د پیداښت سره په خپلو لیکنو کې ځان د مخامخوالي سره مخامخ نه کړي. زه دلته درې ګڼونه په ګوته کوم، چې له پیداښته ځنګه دي، نو ولې یې بیا بدلوو؟ موږ ل دي امله دژبې سره بوخت نه یو، چې یو څه نویوالی مو راوستی وي. ژبه هغ په خپل پیداښتي جوړښت کې نویوالي ته اړتیا نه لري او هغه څه چې د نویوالي اړتیا لري، هغه بیا پیداښتي د ګڼونو اړوند څه نه دي، هغه بیا چې نوي څه ګڼونو کې راځي هغه دی او باید سره بدل وي.

بیا: دریم په دوه یا درې یيګانو یعني دریيم او یا دریيیم، لیکل همداسې ناسم دي، لکه چې د سلم له پاره د سلن لیکل.

ستونځې لرو او دا هره ژبه، خو د هغو ستونځو سره موږ له پیداښته بلد یو او دا بیا بلدې ستونځې دي او وي به او موږ به همداسې ورسره بلد پاتې شو.

،.دا پورته لیکنه مې دې لادې لیکلي خوندیونې په هکله لیکلی دئ

،، په متن کې شمېرې ځنګه ولیکو؟/ پوهنمل اسدالله وحیدي،،

ډاکتر ماخان میرې شینواری

## نه دئ، نه کوم، له خوا اوکه ندئ،نکوم... ځنګه لیکو؟

انجنیر صیب ستانه میر زهیر شینوری چې په م ک کې هم خورا هڅاند دئ او زیات وخت پوښتنې رامنځ ته کوي، چې سرې یې و ځوابونو یا نوره هم ښه څېړنو ته را هڅوي.

پوښتنه نږدې داسې وه، چې: له خوا، نه دئ، نه کوم، سره بیل بیل او که ګډ لیکل کیږي.

زه نه پوهیږم، چې په داسې موضواتو به خبرې شوې وي اوکه نه، خوپه هرصورت، دا د ټولوکاردئ اوزه دا خپل اند له تاسوسره شریکوم.

راځئ چې دا موضوع داسې ساده ونه نیسو او لږ یې سره وشاربو. وایي، چې له خبرو خبرې راوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم دې پوښتني دې ته راوهڅولم، چې فکر په وکړم.

له دې د مخه ( ما ليکلي وو: د دې له مخه، خوزر مې ورته پام شو، چې دا ناسم دئ، نو سم يې له دې(څخه) د مخه دئ) چې د خپلې ليکنې موخې ته راځم، يو دوه وړانديزونه:

۱ ـ کله چې موږ د داسې پوښتنو سره مخامخ کيږو او څه په ليکو، نو په هغه بايد وپوهيږو.

۲ – داسې دلايل نه راوړو، چې ګوندې هغه يې ليکي اوکوم ليکوال يا پوه يې داسې ليکي يا هغسې، بې د هغه له دليله، چې د موضوع د سمون له پاره يې راوړی وي، يعنې ولې ګډ يا ولې بيل. دا څرنګه ليکل يې هرومرو يو ژبنيز لامل يا ژبنيزه لار بايد ولري، چې د هغې په بنسټ موږ اړ يو، چې هغه راوسپړو.

اوس خپلې موخې ته راځو:

بايد و پوهيږو، چې دا څه شی دئ او موږ يې د ځواب يا څيړنې په هکله څنګه مخ ته ځو؟

موږدا موضوع په دوه برخووېشو:

لومړی: نه دئ (ندئ)، نه کوم(نکوم)

دويم: دا له خوا او که لخوا دئ.

لومړي ته:

موږ د لته اړ يوچې دې لومړي ته دوه برخې ورکړو يا په دوه برخو و وېشو:

لومړی الف: نه والی، چې په نه سره ښوول – يا ليکل کيږي

لومړی ب : مخامخوالی يا که غواړئ تضاد، چې به نا سره ليکل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي الف ته: ،، نه ،، د يوڅه يا يو وی نه والی ښايي لکه: ځم، نه ځم، دا هغه سړی دی، --- نه دی، هغه غلا کوي، --- نه کوي، زه هم غلا نه کوم.

دويم ب ته: موږ په ډېرو ويونو او په ځانګړې توګه خويونو مخامخويونه په نا سره ليکو او دا نا د هغه څه سره يوځای ليکل کيږي، لکه: هغه وي سره په نوکانو کې يې هغه مخامخ وی ليکو، لکه: سم ( ناسم)، روغ ( ناروغ) جوړه ( ناجوړه) [ جوړه اوناجوړه ته: هغه ګڼونه، چې په دوه پوره وېشل کيږي،جوړه ګڼونه دي او هغه،، چې پاتې يې ۱ راځي، هغه ناجوړه ګڼونه دي] جوړه ګڼونه لکه: ۴ ، ۱۲ ، ۱۸، ۵۰ اونور او ناجوړه ګڼوندي، لکه: ۱۱ ، ۱۵ ، ۲۱، ۱۲۳ او نور. نورې بيلګې:ارام( ناارام)، رښتيا( نارښتيا).

يادونه: دې ته بايد په ګده فکروکړو، چې نارښتيا اودروغ سره توپير لري اوکه نه؟

څوک چې نارښتيا وايي ايا هغه هرو مرو دروغ دي؟

بله پوښتنه:

ايا نه روغ اوناروغ يوڅه دي؟

داسې هم لرو: دا نه سړی دی او دا سړی نه دی، چې ترې پوهيدنه يې سره ډېر توپير لري.

دويم ته:

راځئ چې وګورو، چې ،،له خوا،، څنګه په خبرو کې کارول کيږي. زما، ستا ( په دې کې هم د خبرو څهشته، چې زما، ستا او که دما او دتا) دی.،د هغه، ... يا د يو څه له خوا يو څه کيږي يا يوڅه سرته رسيږي. که زير شو، نو د لته د يوڅه څخه يوڅه بيليږي، چې دلته خوا ده، يعني د يو څه يا يو چا له خوا.

دا ،، خوا،، ادورب دی يعني يو څه يا يوشي څرګند يا ذهني ښايي يا په ګوته کوي. که ،، له،، ورسره مل شي، نوداسې د ويونوپرلپسې ترې لاس ته راځي، لکه د دولت له خوا...

که زما ( دما) له خوا يا د دولت له خوا يا د بل څه له خوا وويل شي، نودا وينا نه ده اوڅه نه په ګوته کوي، خو که ووايو چې:

زما له خوا داسې وويل شو او يا د دولت له خوا داسې قوانين ايښول يا ليکل شوي، نو دلته يوه وينا بشپړه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د وينا څڅه هم روښانه ده،چي دا ،،له( څخه ) دی اودا يواړيکوی يا په دې حالت کې ،،ځيرکومپوزېشن،، دی. د اړيکوي له پاره په تاند کې زما ليکنه شته،هغه کتل کيدی شي. دا نوپه ختّه داسې دي.

غونډالي داسي جوړيږي: زما له خوا څخه تا ته کتاب درکړل شو. د دولت له خوا څخه لاري جوړيږي.

ما د ،، له... څخه،، له پاره هم يوه ليکنه کړې او هغه په تاند کې خپره شوې.

دې ته بايد زړه تنګ نه کړو، چې ګوندې دا موضوع څومره وزېده.

هيله ده، چې په داسې څه به ګران لوستونکي هم خپل اند روښانه اوروښانه دلايل راوړي. ژبه همداسې پوره کېږي او همداسې وده کوي.

## هِه ليکنې چې زما په ليکنو شوي:
## د ښاغلي کريمزي صيب ليکنې ته

دا چې زما د .خوښ يم تاسو سره په دې هکله خبرې کوم باور وکړه !منلی کريمزی صيب ليکنو سره هم انده نه يې او په دې هکله دې ګوتڅنډنه هرڅومره تيزه وي او په پوهنيزه زه پوهيږم، چې زما .ډول يې ردونه که تونده وي هم زه به هيڅ وخت زړه بدی نه شم نو که څوک راته هر .لانو مخامخ دېډ ټولو پښتنو ليکوا -دا بايد په خواشينی ووايم- ليکنې اوبلن، چې وايو، نو :لنډ .څومره برګ شي حق ورکوم، خو هر څه به په دليل ردوو او منو غوره يې هر څه .اوبه نه دي، دويم شيدې يا شودې او شرومبې نه اوبلنيږی يا شودلنيږي دا د .لنه دهواوره، چې لا اوبه نه دي او نرمه شي هغه اوبۍ .چې بهيږي بهيدونکي دي واورې يو حالت دی، چې د اوبو په لور روان دی يانې واورې وېلې کيږي، چې ويلط يا اوره د يخ په څېر زر و .بيا واره نرميږي او بيا اوبه کيږي يانې .ولې شوې، نو اوبه شي بله .هر څه چې بهيږي بهيدونکي دي او هر څه ته مې دليل راوړی :بيا .نه اوبه کيږي داده، چې ته نه شي ويلی، چې په پيداېښتي ژبه کې دا له دې يا هغې ژبې غوره خبره بل موږ هم وايو، چې .په هره ژبه کې همهغسې انډول شته .رانيول شوی يا رانيول شوی بيا که .روانو اوبو ته خوب وايه دا په دې مانا، چې دې بهيدنو ته کله کله روانيدل هم وايو شودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره مننه او د سرې سینې دې هم مننه، خو که څه .اوبلنې کیږي، خو بیا نو سمه ده .بیا .سره یوځای ځیږو، همغه موضوع باید راواخلو او په هر دلیل به سره خبرې وکړو دا د څه نومونه چې پیدابښتي وي موږ لرو، چې ،موږ یو څه ته نومونه باید پیدا نه کړو بیا هم مننه او خوښیږم، چې خبرې مو .باید را ویې سپړو، که تراوسه دا کار نه وي شوی .سره زیاتې هم شي

ما په دې ټولو ګډو خبرو کې ګډون درلوده، چې نصاب کې دا اوبلن د :یوه اخرنی یادونه و ما یې هلته هم مخامخوالی کړی، خو زور مې بهیدنو په ځای کارونې ته را منځ ته شو ا تاسو څومره ځوان یاستی، خو په هر پوهیږم نه دئ رسېدلی، زه خو زوړ یم او نه .بریالی دې وې .صورت زما د چا د زړه بدولو هیڅ وخت غوښتنه نه ده

## نورم:

ټولیز منل شوی نه لیکلې لار یا قانون دی، چې باید د هغې پسې سمه تلنه وشي یا سړی ځان د هغې پسې چمتو کړي..

،، نورمونه کره کړئ یا نورمونه کیږدی،،.

دا یا هغه چې ټولیز ورځنی یا پیژندل شوی وي.

،، د هغې لویه د نورم څخه قوي تغیر ده.،،

## ډېر درونږ پاچا صیب هاشمي.

**.هیله ده، چې زما سلامونه اونیکې هیلې به ومنې**

**ویاړ راوباښه، لوي ځښتن دې یې تاسوته اجرونه ما ته مو ستاسود لیکنې سره ډېر .درکړي**

**:زه ستاسو د داډ له پاره دا څو یادښتونه لیکم**

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړي: مخه د کاله شپيته له اوزما دی ګران ډېر پوره راته صيب زيار چي باوروکړی، ورته درناوی لرم او هغه کار چي پوهاند صيب زيار پښتو ته استادوو، چي له همغه وخته کړی، هغه ډېر ستر کار دی، چي زه يې ستاينې اړوند څه ليکلو ته ځان عاجز بولم.**

**دويم: دا اړيين څه ريښنه مي شميرپوهنه ده، چي نورمې له ليکلواوژباړلو لاس اخستی، دا اړيين څه مي په پښتو ليکلي اوژباړلي، بسيا کوي.**

**دريم: پښتو ناسمونونو ته مې هسې پام راګرځيدلی او اوس هم په ولاړ يم، چي ښه هغه د پوره مې په دلايلو روښانه کړي.**

**څلورم: تاسو باوروکړی، چي زه د چاسره په زړه کې ګنډې نه لرم او بيا خوزما له استاد سره.**

**پنځم: مخامخوالي(تضاد)زما ليکني خود چا له املـه نه ليکم اود چا سره د ه خوسوچ له املـ بوچ دا کار نه کوم.**

**زما خونوره بوختيا نه شته، نو له دې املـه کله د ژبې او کله د فلسې څه له الماني راتپولوم، چې د تاند درنې خپرونې څخه يې د خپرولو ډېره ډېره مننه کوم او له دې هم، چې ما همداسې هڅاند ساتي.**

**زما د برېښناپته: smakhan1946@gmail.com**

**سره موزما په ليکنوکي مرسته کوله ډېر به ورته خوښشم که له ما.**

**ستاسوماخان .بيا هم ډېره مننه اوماته مو ډېروياړراوباښه.**

## يوه پای راوړنه

هر څوک په خپله ليکنه کې يوه موخه لري، خو هغه موخه بايد سپيڅلې وي او د

پوهنيزې موخې په چوپړکې وي. زه هم خپله موخه لرم، چي کله کله بيا بيا په راګرځم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې بله لارنه لرم، خوزه درته دا لوړه کوم، چې پرته له پښتوسمون او ځان روغساتنې څخه بله موخه نه لرم.

که زما په هکله یا ځما د لیکنې په هکله څوک هر څه ولیکي، نه پرې زړه بدی کېږم، پوهنه او په پوهنه لیکنه کې ستونځې شته او هرڅوک په کې په ناسمون کوته لک کیدی شي، خو د هر چا د لیکنو ردونې په لایلو باید ودانوي.

د پښتوسمون له پاره دا تاند د منلي‌خپروني څخه ځوخپروني خپرې شوې، چې زما په اند داسې په پوره دلایلویې رد

یوبل سره باید خبرې اترې شونې شي، زه یو څه لیکم اویوبل څوک څه پرې لیکي، سمه خبره ده، خو دا به بیا د تاند خپرونه ونه مني، چې دا د هغې لارې سرته ورسوو.د دپکارله پاره باید یو ه اړیکه د ن ج څخه د برپښناپتې له لارې ولرودی شو اوخپل اندونه سره مدلل شریک کړواوپه هغه سره چې وومنل یوانده شو.دا کیدیشي، په ګډه بیا خواره شي. ځنې به ووایي،چې دا کار خود پوهنیزه مؤسسو دئ، چې زه یې هم په اند یم، خو موږ.هلته هم ستونځې لرو اودا به یومخامخ د څه جوړول نه وي،بلکه د هغې ملاتړ به وي. د هر څه لومړی دې راته ګران لوستونکي ډېره بخښنه وکړي، چې داسې څه لیکم، خوباوروکړی، چې د ځانپالنې اوځانښوونې له امله یې نه لیکم اویواځې موخه مې د سمو او ټولیزباورې لیکنو له امله ده. بیا هم په بخښنه. اوس راځم خپلې لیکنې ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بيلګې په توګه به زه هغه څه وليکم، چې موږ پخپله ورسره مخامخ يو

هرڅوک يا نوره هم ښه هر ليکوال او په ځانګړې توګه هغه ليکوالان  چې پوهنيز څه ليکي، له هغو څخه په ډېر درنښت هيله ده، چې:

لومړی: د ليکنې موخه ځانپالنه اوځانښوونه نه وي، دا په دې مانا چې ليکنه اوپه ځانګړې توګه پوهنيزه ليکنه يواځې د ليکنې  په موخه او پوهنې له امله  وي، يعنې د ټوليزه ګټو له پاره او بس.

دويم: هرکله چې يو ليکوال د يوه بل چا په ليکنه څه ليکي، نود هغه ليکنه بايد منځرپښتيني بيرته ورکړي.

دريم : ليکونکی پرته له ژباړې-په داسې حالت کې، چې ژباړه منځرپښتيني بيرته ورکړشوې وي – د هرې بلې خپلې ليکنې له پاره د سمون او رپښتينوالي جوګه دئ.

څلورم: هرڅوک د هرڅه د ليکلو له پاره خپلواک دئ، که د بل چا د ليکنې سره د کوتوهنې يا تخريب په موخه نه وي.

پنځم: که هرچا په يوه ټاکلي موضوع کتاب ليکلی يا ژباړلی وي، دا په دې مانا نه دئ، چې بل څوک دې بيا داسې کتاب نه ژباړي يا په دې موضوع څه نه ليکي، خود بل چا ليکنه بې له اجازې او يا نوم نهليکلو رااخستل پوهنيزه غلا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم: هر پوهنیز څه چې لیکو، هغه باید پوهنیز ښوول شوې وي، په کره دلایلو اودلایل

بایدپوهنیزد منلوړ وي.

د ،، ژبپوهان ګواښنه،، سرلیک لاندې

لیکنه د ډېر منلي او ستر ژبپوه پوهاند ډاکتر صیب زیار لیکنه ده، چې زما په لیکنو یې

کړې. زه ترې ډېرهمننه کوم، چې زما لیکنې یا ځنې لیکنې یې لوستلې. زهپهې لیکنه څه

نه وایم او همداسې، چې ده، تاسو ته یې وړاندې کوم.

ژبپوهانو ګواښنې| پوهاند دوکتور م.ا، زیار

اکسفورډ ۲۲مې ۱۹

د نوي ژبني ساینس او نوې پښتوژبپوهنې په مورچل کې:

ستر حمزه شینواری وایي:

څو یې راټول پریو مرکز نه کړمه

هرې تپې ته له جرګوسره ځم

خو زه بیا تاډاکتر ماخان مېږري شینواري) ته وایم چې ترڅو یې زه دژبې ( ربړې-اښتنې پوښتنې او د هواري لارې چارې) پر (یوه- یوازېنې ژبپوهنیز) مرکز راټولې نه کړم، له اسلام کلا تر اسلام اباده، او له بولانه تر واخانه ټولو پرګنو او لیکلو ستوالو او رسنوالو، لیکوالو او تاغوندې پښتومینو پوهانو ته له جرګوسره ځم ــلکه وار له مخه چې تللی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم .که هغه مرکز (زه) اوسم ،یا تر ما کوم بل پک ورک، له لا لوړ ژبپوهنیز لاسونداو نیم پېړییز تدریس او له رېکاردي بنسټیزو تیوریکو او پر کتیکو اثارو سره!

په تاند ووبپاڼه کې ستاد تېرو لیکنو او اوسنۍ (۵ۍ گانې)، (سلمه او سلنه)، کڅه...) لیکنو او بیا د علمي-فرهنگي نومَونپوهنو (ترمينالو جيو).ربړې... او ښاغلي عزت اله نورزي د (تر) (۲۰نوېمبر۱۸)سربل په تړاو لیکلي لیدتوگې دې دغو (گیلو ماڼو) ته را وڅکولم:

(۱)هغه هم په دې چې له خپښې خپلوۍ او دوستۍ سره سره-دچا خبره تر ډېوې لاندې تیاره ده-د ړو مبي او روستي پښتانه استازي په توگه زما پنځو سکلنې ژبپوهنیزې او ژبښوونیزې او بیا دنوې پښتو ژبپوهنې بنسټیزنښیرونه اوزرگونه لیکنې، څېړنې،کره کتنې،غبرگونونه او لارښودونه دې له پامه نه راځي، لکه: پښویه (گرامر)، وییپوهنه او وییرغاونه (لېکزيکولوگي او وورت بیلدونگ)، د (یوې- کره لیکنې) پښتولیکلارښود،د سربلونو انگرېزي- پښتوسیندگي، په تېره تر ټولو غټ یانې د پوره سیند (قاموس) پر کڅ د علمي-فر هنگي نو یزونو (نیولو جېزمونو) پېنځژبیز هغه، همداراز اپټېمولوجیک سیندگی او یوشمېر نور سیندگي؛ گړنې-څرگندنې (ایدیوماتیکس)،سبکپوهنه، مانا پوهنه سېمانتیکس ، پښتو بدلمېچ یا میزان الشعر د غرپوهنې په رڼاکې، پښتواو پښتا نه د ژبپو هنې په رڼا کې...او له الماني اوانگرېزي ژبوگڼې ځانگپو هیزې (تخصصي، مسلکي) ژباړې په رسنیزاو کتابي کڅ او د (افغا نستان ژبپوهنې اطلس) پروژې دننه د گڼو افغا نې ژبو څه له پاسه سل گړ دودي څېړنې؛ چې دا دی، زه یې د پاتې تخنیکي او چاپي چارو د بشپړتیا لپاره داکادمۍ د ژبپوهنې د سلاکار په توگه له جگپوړي پلاوي سره د فرا نسې د یونسکو دو تر او د سوېس برن پوهنتون د آریا نپوهنې ژمنې ځا نگې درانڼگونې په موخه له کابله تر اکسفورډه را رسېدلی یم

(۲) تاته به هم پته لگېدلي وي چې لوېدیز اروپایي زدکړیز سېستم، په تېره د بشري پوهنو په تړاو د (ختيز- اروپايي ( د پخواني شوروي او اوسني رو سي)او بيا امريكا يي هغه پرخلاف ډېر ارت وبیرت دی، د بېلگې په توگه ما شپږ کاله دسوېس په برن پوهنتون کې په اوبلېگاتوري توگه : ټولیز ژبنی سا ینس بیا سراسري-هندواروپایي، گرما نېستیک او ورپسې هندو آریاني سېنکرونيکي او دایکرو نیکي (تشریحي (سپنیزې) او تار یخي) ځانگې خرا نگې پر څېړمه هغې (توکمپوهنې)، سربېره، له ایم فېل) ماسترۍ او B– ډاکترۍ سره سرته رسولي _او په فاکولتاتيفي توگه: ادبي تیوري، فلسفي ژبپوهنه اواتنولنگو ښتيکي، سوسيولنگو ښتيکي... شپېنې کورسونه لا پرځای پرېږده!

په دې ډول یې له همتا شمېرپوه ډاکتره ځکه را پیلوم چې گیله له خپلواو دو ستانو کېږي، نه له پردو،او ان له پېښوري شینواري هم نه، چې د نورو تر څنگ پر نړیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کچ منل شوي سلکلنه غرېزه پښتوابېڅي اوداطلس د ۲۸۴ ګړدودو او د اکاد مۍ د تشريحي

،،،،،،،،،،،،، ۱۶۱ .............

قا موسونو لپاره پرکاراچول شوي، په خپله سپسته را ننګوي، او ستاغوندي د يوې ټا کلي پوهني څانګوال هم نه دی چي هسي بېځايه ور سره سرخوږکړم؛ له تاسره خومي بې له هغې هم دشمېرپوهني نښير د ژبنی کره کتني راهيسي ګوتي ماتي شوي. چي د سراسري پښتو فرهنګي ټولني ګران مشر زرين انځور راته تر چاپ مخکي له کولنه اکسفورډ ته راستولی وو،او ماهم د کابل پوهنتون له اړوندي ترمينالوجی سره سم د( هندسي) لپاره د(شمېرپوهني) پرځای،د (geometry) يا (Lehre von den Formen) سهي انډول (مېچپوهنه) دروړانديز کړې وو او شمېرپوهنه د (علم الحساب ( Lehre von der Zahlen) لپاره چي يوه مياشت هومره وخت يې را لوټ کړ او ان د چاپ پرکال (۲۰۱۰) مي پرې درسره د دانش په کابل دوتر کي هسي يوه يادونه هومره وکړه!

(۳) له يوې- کره ليکنی پښتو نيولي، تر ليکدود، وييونو او وييرغاوني (نيو لوجېزم) پورې د ګړدو ربړو (مسألو) هوارې زماغوندې د نوي ژبني سا ينس او نوې پښتو ژبپوهني په يوازېني څا نګيوه (متخصص) اړه لري، نه په بل څانګيوه او يا اما تور؛مانا يي دا چي د ټولنپوهنو،لکه تاريخپوهني،لرغونپوهني، متنپو هني،يادوديزې ادبپوهني (اد بي فنونو) په توپير په هسي مشق او رياضت، بې اکادميکي- سېستماتيکي زدکړې راخپلېدای نه شي،کټ مټ، لکه ستا ريا ضي( مېچپوهنه+شمېرپوهنه)، سره له دې چي (ژب-شمېرپوهنه) هم له ښايسته ډېر را هيسي پر نورو ژبپوهنيزو څانګو راسرباري شوې ده او په مانا پوهنه کي ځني کاراخېستی دی!

(۴) بيا هم په ټينګار سره خپلي څرګندني راغبرګوم چي له مورنی پښتو سره ستا اونورو ليکوالو او پو هانو مينه اولېوالتيا د ستايني او درناوي وړ دي، خوله دې علمي دود ودستور) سره چي ربړې او ابنتني پوښتني يې سم له لاسه له ماسره د يوازېني څانګيوه په توګه شريکي کړې، کټ مټ هماغسي چي ډېر ښاغلي او اغلي طبي-روغتيايي دا زما له همزولي نومهالي طبي ډاکتر حبيب الرحمان سباو ون سره شريکوي. د لايزر او کمپيوټري طب په څېر،نوې (پسرغښتي ژبپوهنه د (←ساينس ژور نال، نوېمبر۲۰۰۳) په لاسوند نوره له ټولنپوهنو رابېله شوې او په جوتپوهنو ( مثبتو ياساينتيفيکو پو هنو) يي اړه پيدا کړي،او په دې توګه د دود يزو ګرامرپوهانو غو ندې په ژبنيو ربړو مسألو کي، خپلسري او اماتوري لاسو هني نور ځای نه لريّ!

(۵) داچي ته يې مني يا نه مني، د نورو پښتنو ليکو الو غوندې کومي پښتو ليکدودي، ګرامري يا ترمينالوجيکي ربړې او ابنتني پوښتني چي په تېره د کابل (نصاب) پروژې راهيسي تاد تاند او يا نو رو ووبيانو له لارې خپرې کړې او لا يې خپروې ، ما دا نيمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېړۍ پرې د ښوونې (تدریس) تر څنګ په سوونو لیکنې څېړنې خپرې کړې او بیا پر کتابي کچ د پښویې او بیا لیکلارې په پر لیسې څو غځېدلو چاپونو کې را نغښتي دي،د سربلونو-وستر بلونو او غبرګبلو نو څوسوه چارتونه او جدولونه خو مې تر پېښور ،برلین،



اکسفورډ او لندن پو هنتونونو پو رې لاس پرلاس وېشلي او ور شنلې دي. که ته دغه کتابونه له کابل و پېښوره را غوښتای یا راوړای نه شې، لږ تر لږه یې خو دهمدغې تاند ووبپا ښې په خوندیځ (آرشیف) کې تر یوه ځغلنده سترګلیده تېرولای شې، او هله یې د پېژندنې او کار ونې په تړاو خپلو او نورو مینه والو تېروتنو ته ور ځیرکېدلای شې!

ربنتیا هم که لا همدلته دې پرخپل خپل وخت ترسترګو تېرکړی وای، دغه سر خوږی مې نه پرځان لوراوه او نه پرتا چې ښایي ډېرو مینه والو ته سل په سل کې نوې خبرې نه وي!
[

(۶) همداراز په هماغه آرشیف کې ]۶ یاوې-درې واوه او درې هاوې[لیکنه هم موندلای شې او په ترڅ کې یې د←(ی ګانو) ډولونه چې په دغه لړ کې ښاغلي خبیب علي د دودیزې کړوالې (ئ) دفاع کړې او مایې دروایتي یا سکولاستیکي: دک و دلیل پرځای (پښوییز مانیز) سپیناوی کړی دی:

دوې خپلواکې(واوېلي)، لکه: (اوږده -ې او لنډه-ي)؛ یوه نیمواکه ی/y/ له ګڼو دیفتانګي ځېلونو سره، لکه: (نو مواله ۍ) او (کړواله ئ)، او یاهم په جلا(-ی) بڼه په خوی، دوی، ځای، خدای کې چې دغلته پېښوریان یو نارین ګوډی الف (ء) هم پر سر وراچوي_ کړواله (-ئ) له نوموالې (-ۍ) سره تو پیرول ځکه اړین دي، چې تر منځ یې پښوییز او مانیز ټکر پېښېږي، هغه هم د نوموالې(-ۍ) پروړاندې د په نابشپړوسمهالو ډېرګړو کړونو بېلګو کې کړوالې،لکه: لړۍ (سلسله) او لړئ (شور میدهید!)، اوکرۍ (د جولا تنستې اوزار) او کرئ (میکارید!)، کنۍ (ګوشهٔ کُرد زمین) او کنئ (می کَنید!)،شړۍ (شال) او شړئ (می رانید!)، منۍ (پرهیزګاره) او منئ (می پذیرید!)، پېرۍ (جن) او پېرئ (میخرید!)؛

همداراز همجولیزې بېلګې یې خو لا پرېمانه دي،لکه رسۍ (رسن) او رسئ، لړۍ (غاړه) او غړئ (می تابید) (میرسید!)،(خورۍ (همشیره-پرستاره) او خورئ (میخورید یا بخورید!)، وړۍ ( پشم) او وړئ (میبرید)...چې که بشپړ غږپو هیز او پښوییز یا مانیز ټکر هم ونه لري، جولیز دا خو هم په اوسنې پېریانې لیک او لیکدود کې پوره ستونزې او ګډو ډۍ رامخته کوي او له لوستو نکي لارلو دن ور کوي،استاد خادم بیا دواړې (ئ) لیکلې، هغه هم په دې پلمه چې پښتانه (لکۍ نه لري)؛ پر سترګو هم دومره ډېرې لکۍ ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لګي، هرګوره نیمواکه او زوروله (ی) یوازې د ښځې او ویي پایته له نورو ځېلو نو توپيرېدای شي، لکه (یا،یو- بیا-بیاتي)، او زور واله،لکه سړی، لرګی،ځای، پای)، نه په سراو منځ کې، د ښاغلي خبیب له خوا کندهاري (یوګړي نرینه ئ)، په راغلئ-ولاړئ، دئ دئ (= دی دی) د اړوندې ګړدودي ډلې د یوه٠ځانتنی خپلواکونج او خجپوهنې زېږنه ده او د نورو درو واړو ډلو پر وړاندې، کره او معیاري بلل کېدای نه شي ( پښتو



لیکلاربنود). وینګ له مخې ۶ دی، اولاکه اردو ډوله پېښوری ناکره (نرینه تأنیثیه) یا پرته هغه (ے) پرې ورسرباري کړو، نو ۸ ته رسي!

(۷) (.زه پر ګرامر نه پوهېږم،ګومان کوم چې په ژبه پوهېږم او...) خبره به درسره ومنم چې ته په خپلو هاندوهڅو او ازمایښتو تر ډېرو لیکوالو او مینه والو،پر پښتو پښو يي(ګرامر) ښه پوهېږې او که زما یا الما نې داځانته مخبېلګه کړې، زموږ تر دودیزو استادانو به يي لا ښه ولیکي، خو نومهالی دا، ستا تر شمېړپوهنې هم ډېر پېچلی او ورځ تر بلې پرلپسې پېچلی کېږي:

زه د دې منښته (اعتراف)کوم چې له دومره ځانګپوهیزو زدکړو او نیم پېړییزو ښو ونو او پرلپسې غځونو، کرونو او چاپَونو سره بیاهم خپله پښتو پښویه نیمګړې بولم او هغه هم له دې لامله چې پرلپسې نوې نوې ژبپوهنیزې او بیا پښوییزې را منځته کېدونکي تیورۍ او لیدتوګې مخې ته راځي. یوه پرلپسې پراخېدونکي دا سېمانتیکي او ادراکي تیوري ده، په دې ډول چې ژبني غږیز سېمبولونه له ګردو رغانیزو او ګرامري دویو او دویونو (قواعدو او قوانینو سره)- د پوره وبله پوهاوي (افهام و تفهیم) وړتیا نه لري، په نورو ټکو، دګرېد ونکي یا لیکونکي موخه او پیغام کټ مټ او سل په سل کې اورېدونکی یالو ستونکی ترلاسه کولای نه شي، او پر دې سربېره چې خبره یا متن په دومره کچه وي چې اړونده سکالو یا منځپانګه پکې در سته راځای شوې وي او همداراز اورېدونکی هم پرخپل وار پرذهني وړتیا سربېره د ویونکي اړوند ټولنیز او طبیعي چاپېریال هم له پامه ونه غورځوي او ورسره ورسره يي نغوتې اشارې او پژني خوځښتونه (بادي لنګوېج) هم؛ هرګوره، لیکنه او لوستنه هم بایدله هره پلوه کره او معیاري اوسي!

له دې کبله زه هم دېته اړوځم چې خپله پښویه او ورسره ترلې مانا پوهنه نېټه تانده کړم او په دې توګه يې. تر روستۍ سلګۍ پرپېیلی چاپ نوی کړم . له نوي ځوان پښتني پښته او بیا سیده او ناسیده شاګردانو څخه مې داتمه نه کېږي، تر شل دېرشو کلونو پورې د پښتو ژبپوهنې پاتوړې (میر اث) مې پرمخ یوسې او پرلپسې يې وغځوي او تاند نېټه (update) کاندې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاړه شاګردان   مې د بورسونو په تمه تمه همداسې پينه پرځای او کورناستې ته سترګې پرلار پاتې دي او  همدا زما لوستکتابونهشاګردانو ته ور دېکتې کوي؛ يونيم چې دېخوا را کډوال شوی، د راتګ پوروڼو او ترشاپرېښو کورنيو له غمه پژني(بدني) کاروڼه کسبونه کوي.

(۸) (سلمه) يو پورشمېر (عدد رتبی) دی او (فيصدی) لپاره يې پرکار اچول هسې بېځايه دي، ولې توپير نه شي، پورشمېر پارسي او نورې نژدې خپلواني ژبې هم لري، خو

................. ۱۶۴ ..........

(فيصدي) کاروي، نه صدم يا صدمين؛ همداسې  د اروپايي خپلوانو له (پرسېنت) او (پروسېنت) درواخله!

(۹) (کچه) تا پخپله سويه،سطح، اومعيار) ماناکړې او (اندازه) مانا دې پر (معيار) بدله کړې او  هسې دې په ناسيده ډول (کچول- په کچه کول=پيمايش کردن، اندازه کردن) ور زيات کړي دي؛ د (معيار، ستاندرد) په مانا نه په بره او نه په لره کې  ځوک کاروي او نه په کوم سيند سيندګي راغلې ده؟

داچې تا (کچه)د يوه هندسي ترم (اصطلاح) په توګه  پر بېلابېلو ډولونو شنلې ده، د ژبې له ورځنی دودې کاروني سره اړخ نه لګوي، داسې چې د بېلابېلو پوهنو او پو هنځانګو له مخې يو درجن نورې ماناوې هم درلودای شي: موږ دېښوونځې له تولګيوالو به سره په توکې کولې: (سوډيم کلورايډ) دې خوړلې يا (H2O) دې څښلې دي؛ مورفولوجې لړ تر لړه د درو پوهنو(ژبپوهنې- ځمکپېژندنې او درملپوهنې) ترمنځ شريکه نومونه ده، خو ما ناوې يې سره يوراز نه دي؟

د رغښتي ژبپوهنې (structural languistics) نوموتلې  امريکايي ژبپوهاند ( ليو ناردبلومفيلد1887-1949) پر ژبنی او ګرامري جوله (فورم و ساختار ) دومره زور اچولی وو چې د ژبې آره دنده (مانا او مفهوم) يا (افهام و تفهيم) بېخي چليپا کړې ول، د بېلګې په توګه يې په (the Meaning of meaning)  کتاب کې کښلي ول: د (مالګې) رښتينه مانا (سوډيم کلورايډ) ده او دغه کيميايي توکې او ترېښتې چار يې بايدړومبی وپېژندل شي ، نودابه غوره وي، پر وييونو  (لفظو نو)او پښوييز چار يې بسنه وکړو!

تردې چې تر مړينې يې لس کاله روسته ځوان نووام چومسکي چې اوس تر نويو رسېدلی، پر ضد راپورته شو په خپل بېساري نښير (ژبپوهنه ، ماهيت، منشأ او کارونګ) يې د پسرغښتي (Post-structural)انقلاب بنسټ کېښووه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په (کره پښتو لیکلارښود) کې له دوو لیکدودو او دوه ماناوو سره کره زباد کړی: د ( مقدار،اندازه) په مانا (کچه)، لکه (هند ته په ډېره کچه مېوه لېږدي یا صادرېږي او د (سطح-سویه) له مانا سره، لکه (پر هېوادني- سیمییز- او جهاني یانړیوال کچ) او په دې لړکې(د کابل پر کچ یاسطح-سویه) هم سم سهي راځي (معیاریا ستاندرد او یا نورم)ماناوې ترې ډېرې لوړې او هراړخیزې دي!

(۱۰) تا د اروابښاد دوست پر اخځ چې په تاریخي ژبپوهنه کې له ماستري بر یلیک سره له نیم درجن شوروي(نوماندو ډاکترانو) یا (کاندید نووکانو) څخه میدان وړی او له تاسره مې ړومبی پلاڅ-۳لسیزې پخوا همهاغه کره مخامخ لیدلي ول) ستاینومیزې پوړی (ښه- ډېر

...........ړړړړړ ۱۶۵ ...............

ښه- خورابښه) په یوه غونډله او لا په اړ وندمتني یا وینابیز چاپېریال کې دننه سم راځي، خو را بهرنه، د بېلګې په تو ګه، که پارسي غونډله (شهر کابل یک پرنفوس ترین شهراست)، نه شي کولای (کابل ښار یو خورا ګڼ مېشتی ښار دی) راوژ باړې، یاني دغلته( خورا) د ستاینو میز ټینګار توک (اینتنزیفا یر) په توګه د ماناپوهني له مخې د(- ترین) رو ستاړي انډول کېدای نه شي،بلکې پر ځای یې ( کابل ترټولو ګڼمېشتی ښار دی) سهي او کره راځي، یایې هم ((یوازینی)) ستاینوم ځای ورډکولای شي- ما پخپله (تر- ترین) له پارسي راپور کړي او دود کړي دي، ځکه ۲۵٪پردی پانګه راپورولای شو!

(۱۱) ښاغلي عزت اله نورزی پر دې سربېره چې له (تر) سربل سره یې پاسنی (ترټولو) سوپرلاتیف انډول هېرکړی ،نورې تېروتنې یې هم کړې دي، ده ته هم په کاروه، زما اخځونو ته یې مخه کړې وای. سربلونه او وستربلونه یا په یوه نامه (غبرګبلونه Ambi-positions)کتې مټ، لکه (ستاینومونه،شمېرنومونه او نو مځري) د ځیزنوم (اسم) په ټاکندویانو کې راځي چې بېلابېل پېرونه (حالتونه) ور ښیي، لکه الماني یا انګرېزي داتیف، اکوزاتیف، لوکاتیف، ووکاتیف... او رو سي او نورې سلاوي ژبو بیا لرغو نې اته واړه هندواروپایي پدېژونه ساتلي دي او پښتو له دوه درو پرته نور د سر بلونو په مرسته راځرګندوي (←زما هماغه اخځونه)؛ په (تر-ټولو) کې (ټول)، په (تر- سره) کې (سر)، په (تر-پایه...) کې (-پای) هم ناخپلواک نه، بلکې خپلواک مورفیمونه، وییونه او بیا (ځیزنومونه) او یا یې ځایناستي دي!

د پښتو غبرګبلو یوه ځانګړتیا یا ځانګړنه (نه خوی؟) داده چې د سربل او وستربل ترمنځ یوه ټاکلې همغږي تیکاو لري، یاني (د- سره)، نه بلکې (له-سره) یا (په- با ندې) نه،بلکې (پر-باندې) سم راځي او داسې نور!

(۱۲) د علمي-فرهنګي نویزونو (نیولوجېزمونو) یاپارسي (دانشواه ها) په تړاو ستا وړاندیز موږ د (یوې- کره لیکنی پښتو)غورځنګ له هماغو لومړیو څخه راپیل کړی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرلپسي غځېدونکی پېنځژبیز سیند یي دوه ځله چاپ شوی او د ځوان کمپیوټري پښت نوې رغاونو تر کروني روسته نوي چاپ ته چمتو کېد ونکي دي. کروني يې په دې اړيني دي چې ډېری ښاغلي او اغلي زما لارښودونه په واک کې نه لري،که.هغه پر رسنيز او يا کتابي کچ رامنځته کوي: لومړۍ بېلګې يې زياتره کمپيو ټري-انټر نېټي هغه دي او بيا بېلابېلي، لکه د اونيزو ورځو نو مونه، زمونږ تر کروني روسته: (پيلنی-يونی-دونی-درنی-څلنی- پنځنی او اونی) رادود شوې_ پر کتابي کچ خو د اغلې ډاکترې سيما ابراهيم خېلې، طبي، د دوو بياباني ورونو ډاکتر نجيب بياباني اناتومي او د مجيب ورور يې اقتصا دي هغه او داسي نورې نوموني خو را سره په کمپيو ټرکي خوندي دي چې د يوځا يي چاپ لپاره مو ساتلي دي. – او که ستا اجازه وه، شمېرپوهنه به پکې هم راو نغاړو او د يوه لوی سمندر په بڼه به يې د علومواکادمی له خوا چاپ ته وسپارو؟

............. ۱۶۶ .............

(۱۳) ستا له دې څرگندوني (پښتو لکه بله هره ژبه له ځانه پوره ده ) هم دامانا اخلم چې پښتو د بلې هرې ژبې په څېر يو ناپايه پټتوان (بالقوه ظرفيت) يا (پو تنسيال) لري، ياني د هر راز نويو جاجونو (مفاهيمو) لپاره يې د تيارو ولسي مخبېلګو له مخې بالقوه يا پټه زېرمه د نيولو جېزم له لارې راسپړلای او هر راز نوي انډولونه (وييونه رامنځته کولای شو. لکه څنګه مو چې له اماني پېر د (پښتومرکي او بيا پښتو ټولني راهيسي) دا نوي کاله لړوډېرې رارغولي دي: د مېړتون پر بېلګه (روغتون،درملتون،زېږنتون،مرستون،پوهنتون...)، د (اجلځی، رغځی ...) پر بنسټ (ښوونځی، پوهنځی، پالنځير تمځی...) او له لمريزوځلو ښتونو کلونو را هيسي د ادبياتو پښتو څانګې په چوکاټ يا اډانه کې د نوې ژبپوهنې د ماسټرانو (الهام، ياري، شاکر) له خوا له نويو وبيرغاونيزو آرونو (اصولو) سره سم رامنځته شوي (ژبپوهنه، غږپوهنه، وتوځی، زېږځی، ژبيز، غاښيز، شونډيز، تالوييز، ستو نيز، چنغږکيز... غږو نه) او په لا ښه ترا مېتوديک او سېستماتيک ډول د پنځمي لسيزې له پيلامې سره زمونږ د غورځنګ او رابهر ستا غوندې د نورو مينه والو او څانګپوهانو له خوا يې خبره زرګونو تو ته رسېدلې او مخ پر بره درومي!

(۱۵) پاسنۍ خبرې بيا رانچوړم چې اوسني ژبني ساينس دا رازباده کړې چې هره ژبه ناپايه پټتوان (پوتنشيال) لري او زمونږ پښتو له امير کروړه تر اميرحمزه ښايي،متې (ايله) ۹۹٪۹۹ پر کاراچولې وي، نوکه ما او د(يوې-کره ليکنی پښتو) غورځنګ نورو پليونو، او ان داوسني ځوان کمپيوټري پښت نوښتګرو په ګډون، د همدغه ژبني ساينس په مټ په دې نيمه پېړۍ کې تر۰۰٪۹۹ ورزياته کړې اوسي ،خولی به اسمان ته واچوو؛ له لاس برلستونې تربرې پارسی سره علمي-فرهنګي سيالي بې له هغې ناشونې ده، خو څه چې شونې او اړينه ده، هغه د يوې- يوازېنی کره ليکنی پښتو) سمبالونه او د پټتوان رابرسېرونه او دودونه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا يې داچې اوسني ژبني ساينس دا رازباده کړې چې هره ژبه ناپايه پټتوان (پوتنشيال) لري او زموږ پښتو ښايي،له اميرکروړه تر اميرحمزه متې (ايله) ۹۹٪۹۹ پر کاراچولې وي، نوکه ما او د(يوې-کره ليکنې پښتو) غورځنګ نورو پليونو، او ان داوسني ځوان کمپيوټري پښت نوښتګرو په ګډون، د همدغه ژبني ساينس په مټ په دې نيمه پېړۍ کې تر ۰۰٪۹۹ ورزياته کړې اوسي ،خولې به اسمان ته واچوو

(۱۶) پر ۲۰۰۵ ز کال د مخابراتو وزارت د کمپيټر ساينس د پازوال د ښاغلي منصور انصاري په تخنيکي لارښوونه ما او استاد آصف صميم د مايکرو سافټ کمپنۍ له سپارښتنې سره له شپږ لکو ۲۶زرو نومَونو څخه متې درې زره نومونې ورغولې، اکر داچې د کمپنۍ له خوا له اړوند لس ژبيز ګروپ (انګريزي، روسي، عربي...او پارسي) هغو ګردو بشپړې کړې وې. هغه هم، پخپله وزارت دود نه کړې او پښتنو



ځوانانو هم په ايراني کمپيوټري کورسونو کې د (کړکۍ، دوتنې... او سولګر) پرځای (پنجره، پرونده...او رايانر) زده کړل- ايران له نژدې يوې پېړۍ را هيسې علمي-فر هنګي او تخنيکي (دانشواژه ها) لپاره ټوليز سرکاري (فر هنګيستان) او بيا هرڅا نګپوه د خپلې څانګې هغه د ژبپوهانو په همغږۍ سره رغوي او د هوکړې او دودېد نې لپاره ورته سرکاري پشتوانه ټيکاو لري!

(۱۴) لکه پاس چې ورته نغوته وشوه،زموږ غورځنګ له ۱۳۵۲ل. راهيسې د کابل پوهنتون د بېلابېلو پوهنځيو اواړو ندو بشري پوهنو،هنرونو او ساينسي- انجينري نومونپوهنې راپيل کړې وې چې لس-دولس کاله روسته ورته دوکتور نجيب اله د دري-پارسي هغې په را نغښتنه رسمي بڼه ورکړه او لاسباړه (حق الزحمه) يې هم ور هوکې کړې وه چې له بده مرغه دهغه سترانسان له راپرځېدنې سره، مو هرڅه تورې غدۍ تالا ترغۍ کړل!

(۱۶) د ژبپوهانو او ژبه ټولنپوهانو ګواښنې(warnings) لا څه کوې چې وايي:

[پرلپسې په بشري نړۍ کې د نويو نويو مفاهيمو يو توپان رابهاند دی او هماغه معيا ري ليکنۍ ژبې ترې بچېدای شي چې پر وړاندې يې خپله درېګونې پانګه هم پرکار وا چوي ، اوکه اړونده لغوي پانګه يې يومخيزه راپور کاندې، پايښت (بقأ) يې له پوښتنې سره مخامخېږي!]

په دې مانا چې د نړۍ هرې سيالې او دوديالې علمي-فرهنګي ژبې وييپانګه څلور برخې رانغاړي ۲۵٪ګړويزونه (دايلکتېزمونه)، ۲۵٪ زړويزونه (ارکاييزمونه) ۲۵ ٪ نويز ونه (نيولوجېزمونه) او۲۵ ٪ پورويزونه (فارنېزمونه)!.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هسي ولولې او احساسات دي چې له دغې غبرګې لنګوېستيکي تشي سره سره،له
پارسي ژبې سره د يوبرابر ملي-رسمي سيالۍ او کاروني ربنتې (حق) داوې دنګلې کوو!

ځکه پښتو لا يوې-يوازېنۍ کره ليکنۍ ژبې) ته لوړتيا نه ده موندلې:

نه پښوييزې- رغاونيزې رنګارنګۍ (ور سېد- ورسېدو- ورسېدلو-ورسېدئ-سېدلئ-
أورسېدو...) يورنګۍ ته لوړ تيا موندلې او نه يې پارسي هومره پټه ويپانګه رابرسېره
شوې او رادود کړ شوې چې تر ټولو مخکي ورسره پخپله پښتانه ناباندې دي، نو د ستر
خوشال خبره لا هغسې پرځای پاتې ده:

. ............. ۱۶۸ ..................

چاپې پلو له مخ وانه خېست

پښتو لاهسې بکره پرته ده

په ټوله پښتني- افغاني او بيا علمي- فرهنګي مينه او مننه

ستاسې د ګردو پوهيالو او فرهنګيالوسپينږيری خواخوږی زيار

# :ليکنې ژباړې او شينواري مېړي د ډاکتر ماخان

1988 Vienna (Austria):

:لومړی

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact topological algebra : contributions to general algebra 6 ; Page 117 – 122

1987 Vienna (Austria):

:دويم

لومړی-Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم-*Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Algebras, Dissertation at the University of Vienna/Austria*

توري ودې ټولنه،،له لرپوهني پښتوټول کتابونه  په المان کې د ،، افغانستان کيلاندې د شمه خوا  چاپ شوي دي

2000 Bonn (Germany):

....... ۱۶۹ ................

نري، فزيک او اقتصاد لپاره جره د انيوهني برسرپيد شمه : رپوهني ستر کتابـيد شمه :دريم مخونو کې چاپ او دا نوې ۹۰۰ دا کتاب   په ) کوونکو لپاره همداسې د ښوونکو او زده ، (څنو ځايونو غزېدلي او څني ځايونه ترې لرې شوي دي  ليکنه به يې

2003 Bonn (Germany):

رنه  ياو کتې د کتې شمه –کتې  رنه، ديزرو کې شمه ،په سلو ، (هندسه)څمککچپوهنه   :څلورم کوي د اختمالوالي شمېرنه  کتاب  د ښوونځي ټولي اړتياوې پوره ،

2003 Bonn (Germany):

(ته پورته شوى ketabton:com )  (د الجبر بنسټونه دي ) الجبرونه    :پنځم

2003 Bonn (Germany):

(ته پورته شوى ketabton:com ).پښتو ډکشنري –رپوهني   انګرېزي يد شمه :شپږم

2003 Bonn (Germany):

ته پورته شوى) ketabton:com ) او پښتو الماني ډکشنري -رپوهني الماني ـ پښتويد شمه :اووم

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

2003 Bonn (Germany):

(c) ketabton.com: The Digital Library

( (شوی دی، ساده لیکل یو پیل دا کتاب په دي ځانګه کي ) دفرنځیال برابرون :اتم
(ته پورته شوی ketabton:com)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

ر پو هني فرمولونو ټولګهید شم :نهم

............. ۱۷۰ ................

*Mathematical Formulas*

2003 Bonn (Germany):

رپو هنه له عربي په پښتویشم :لسم

1997 Bonn (Germany):

په المان کي :د افغانستان په هکله سپیني خبري :یوولسم

د افغانستان روغي او بیا ابادولو ټولنه،، له خو،،

.

دولو د افغانستان روغي او بیا ابا،، ۹ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري ۲۰۰۰ له :یادونه
مجلي هم را وستلي سیاسي له خوا دري ،،ټولنه.

:او نوري لیکني ژباړي

*Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de)* :

دا کتابونه د ښوونځي .لاندي د برینکمن لیکني چي له پرینکمن ن ج ځخه ژباړل شوي دي
له پاره او همداسي د کانکور ازمویښني له پاره ګټور دي.

(ته پورته شوی ketabton:com ) شمیرپو هنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک - دولسم

(ته پورته شوی ketabton:com )شمیرپو هنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک – دیارلسم

(ته پورته شوی ketabton:com )شمیرپو هنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک – څوارلسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پورته ketabton.com )د بښوونځي لپاره            د احتمالوالي شميرنه - پنځلسم
(شوی)



ته پورته ketabton.com )احصايه يا ستاتيستيک            دښوونځي لپاره – شپاړسم
(شوی)

خه چي د شتوتګارت پوهنتون‌لاندي کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو ځ ن ج ځخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

(ته پورته شوی ketabton.com ) ١   انالیزی – اولسم

(ته پورته شوی ketabton.com )٢  انالیزي – اتلسم

(ته پورته شوی ketabton.com )    کربنیز الجبر – نولسم

(پورته شوی ته ketabton.com )  د شمیرپوهني بنسټونه - شلم

(ته پورته شوی ketabton.com)د فرمولونو ټولګه - یوویشتم

(ته پورته شوی ketabton.com)فنکشنل انالیز – دوه ویشتم

(ته پورته شوی ketabton.com ) وکتور شمیرنه – درویشتم

نوري ژباړي

کربنيز الجبر:څخه. grundstudium.info/linearealgebra/www له – څلرویشتم١٣
(ته پورته شوی ketabton.com )

ketabton.com )کښونپوهنه يا د اعدادو تيوري  Georg Gutenbrunner  – پنځویشتم
(ته پورته شوی

زما ليکني

<u>Bonn (Germany):</u>

دا  : د پوره تغيراتو سره  :لومړی‌برخه  دويم چاپ رپوهني ستر کتاب‌يد شم - شپږويشتم
نري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسي  د ښوونکو جنا ره ديبرسه برخي رپوهني‌يد شم کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

) په کتاب کي د اړتيا سره زياتونه او کونه راغلي .پوره ګټور دی او زدهکوونکو لپاره
(ته پورته شوی ketabton:com

.................... ۱۷۲ ړړ................

(ته پورته شوی ketabton:com ) دويمه برخه رپوهني ستر کتابـيد شم -اوه ويشتم

ته ketabton:com ) دويم چاپ د پوره تغيراتو سره (هندسه ) څمککچپوهنه - اته ويشتم
(پورته شوی

(ته پورته شوی ketabton:com ) الجبر بنستونه دويم چاپ له تغيراتو سره – نه ويشتم

(ته پورته شوی ketabton:com ) ډېرۍ پوهنه يا سټ تيوري - دېرشم

(ته پورته شوی ketabton:com ) (منطق رياضي ) د شميرپوهني سم اند – يودېرشم

(ته پورته شوی ketabton:com )د يو څو شميرپوهانو ژونديک - دوه دېرشم

د شمير پوهني ګډې وډې ليکنې – دريديرشم

د مشتق او :شوی داهم ژباړه ده، خو ليکونکی يې متآسفانه راڅخه نابلد -څلوردېرشم
(ته پورته شوی ketabton:com )انتيګرال شميرنو ته تمرينونه او اوبيوني يا حلونه يې

دريِ ډکشنري + د شميرپوهني انګريزي پښتو او عربي – پنځه دېرشم

(ته پورته شوی ketabton:com )د شميرپوهني پښتو انګرېزي ډکشنري – شپږدېرشم

)ډکشنري د شميرپوهنيزو وييونو په پښتو روښانه ونه د شميرپوهني پښتو – اوه دېرشم
(ته پورته شوی ketabton:com

دا هغه ليکني دي، چې څني يې په نړيول جالونو کې خپرې )د زړه له کومې - اته دېرشم
.(شوي دي

.د افغانستان په هکله سپيني خبرې، چې وبه غزيږي – نه دېرشم

خو لا پوره نه دي ،نوري ليکني، چې په ژباړه يې پيل شوی

د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه –څلوېښتم
(ته پورته شوی ketabton:com )د ګروپونو تيوري :خپريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونځي لپاره فزيک د برينکمن ليکنه -

دا چي زما دويم مسلک فزيک ) ولکي ځخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی‌له پنځم ټ -د شميرپوهني په څير- دا هم د دي ليکوال يوه ډېره ښه ليکنه ده، چي .دی، دا ليکني ژباړم او (دلته هم زيات تمرينونه د حل يا اوبيوني سره په کې راغلي او ماته زيات ګټور برېښي ژباړلي‌دالاندي د برينکن ځخه را

(ته پورته شوی ketabton:com ) فزيک لومړی‌برخه - يوځلوېشتم

ته پورته ( ketabton:com ) .همدا کتاب .برېښنا پوهنه .فزيک دويمه برخه – دوه ځلوېښتم (شوی)

دې .د پوهني وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شميرپوهني کتابونو ته کتنه – درېځلوېښتم هر کتاب يوې برخي ناسمونونو ته ګوته نيول شوې او کتاب کې د دښوونځي کتابونو د (ته پورته شوی ketabton:com ).ناسمونونه بيا سم شوي هم دي

(ته پورته شوی ketabton:com )د فزيک کوچنی ويونو دکشنري –څلورڅلوېښتم

(ته پورته شوی ketabton:com ).يا اړيکويونه پرېپوزېشن – پنځه ځلوېشتم

(پښتو کي ناسم راننوتي ويونه، چي سم شوي دي )نژبسمو = شپږ.ځلوېشتم

۲۰۲۰ پښتو ژبلار يا ګرامر –اوه ځلوېښتم

له پخوانی ليکني ځخه نوی شوی : (که غواړی دويم غزېدلي ليکنه ) ژبسنوم –اته ځلوېشتم ۲۰۲۰. او پوره غزېدلی

په توګه له درې تازه ليکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دي پورته شوي او دا د ځانله ليکنو کاله را په ديخوا د تاند او په دا ورسته کي د دعوت او همداسي د نورو د ج ځخه خورېږي په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ويونه ځېړل شوي ناسمونونو ته .او خواره شوي دي نه ګوته نيول شوي او په دلايلو روښانه شوي، چي ژبمينوالو لهپارهيي لوسته او ګوتنيونه اړيږ ده.

۲۰۲۰ داسي څه له فلسفي –نهه ځلوېښتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۲۰ ژبې مرې او نورې لیکنې –پنځوسم

:ډا کټر شینواری لیکې

زما د غزیز او ان د Ketabton.com کتابونه په کتابتون ټکی کوم نه دېر ۳۹ زما نږدې ونځې له وخت ملګرې، خو له ما پوره ځوان ستانه میر زهیر شینوارې ځوې زما د ښو ګران ځوان وراره ګل شمشاد زهیر شینوارې له خوا خواره شوې او هیله ده، چې دا نور به .هم زر تزره راته خواره کړې، چې ډېره مننه ترې کوم

:د ډاکتر شینوارې د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه

جرمنې .د افغانستان کلتورې ودې ټولنه – ۱

د افغانستان کلتورې ټولمه کولن میشنیش – ۲

د ښوونځې نهم ټولګې شمیرپوهنې کتاب کې مې نوم لیکل شوی، خو ما په :اړیینه یادونه .کې څه نه دې لیکلې

امه چاپ شو د دولسم ټولګې له پاره یې پښتو او درې کتابونه لیکلې وو، چې هغه بیا په بل ن او پوره ناسمونونه یې درلودل، پرته له هغو پوښتنو یا نور جملو اوبیونو یا حلونو څخه، چې د پوهنې .هغه همغه د ډاکتر شینوارې د لیکنې په کې پاتې وو او د ده نوم هم په کې نه وو وزارت او تر جمهورریس پورې یې لیکنې ولېږلې، خو د نصاب استادانو په غوښتنه یې د نورو کارونو څخه ډېه وکړه، وایې، چې څه مې بې له دې هم نه شو کولی

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ډاکتر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

په لومړي ځل یې نوم ،،میرې،، وو، چې د رحمابابا ) ماخان :نوم
(لیسه کې نوملیکلو وروسته ماخان باندې بدل شو

شینواری : د کورنۍ نوم

ارواښاد نورالرحمان :نوم د پلار

ارواښاده پستو :د مور نوم

ارواښاد حسن خان :د نیکه نوم

ارواښاده صبربي بي :د نیا نوم

۱۵ د سپتمبر په ز ک ۱۹۴۶ د ډاکتر ماخان شینواری :دزیږېدو کال
۱۳۲۲ سمه نیټه یې .دا خو هغه رسمي ز ک دی ) زیږېدلی دی نېټه
ه ک ۱۳۲۰ خو تره مې وایي ،وي ش ه کلونو منځ کې باید ۱۳۲۰ او
(دی

ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په :د زیږېدو ځای
.مورګې کلي کې زیږېدلی

قرانکریم تر له د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه
پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځي
.یدې چې پوره پرې پوه ش هم لوستل، لوستلي، خو بې له

د هسکې مېنې پورې ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۱ له :کلیوالي ښونځي
چې دی یې هم د لومړنیو زوکوونکو له ډلې ،مورګۍ لومړني ښونځي
.څخه وو

ټولګې پورې له ۱۲ له لومړي او بیا له دریم تر : د رحمان بابا لیسه
.پورې ۱۹۶۵تر ۱۹۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي پورې د خپل ټولګي ۱۲ تر دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم
.پاتې شوی اولنمره

ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې ۱۹۶۶

ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ۱۹۶۶
.ته تګ

کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۶
.وستېې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لـ

د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ۱۹۶۷ اکتوبر
)ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو ۱۹۸۹ ستونځو سره په
.(دا نو پوره ستونځې دي

.د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور ز ک ۱۹۸۸ ک تر ز ۱۹۸۷له

کې د افغانستان جمهوریت بون جرمني جون پورې په ۱۹۹۲ مارچ څخه تر ۱۹۸۸ د
.تر نوم لاندې (صفر نه وو )شارژد افیر کې د سفیر دندې د سفارت

.له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه

ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداښتي ۲۰۰۵ ز ک جون څخه د ۲۰۰۴ د
.پوهنو څانګه کې دنده

دسمبر پورې د ریاضي څانګه کې د پوهنې زک ۲۰۰۹ د مارچ څخه ز ک د ۲۰۰۸ له
.کې دنده نصاب وزارت درسي

څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ۱۹ ۹۷ ماخان شینواري بې کاره نه دی او لړ تر لړه له
.ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شوني پولې پورې تازه وساتي

میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته کې له لرې د ۱۹۷۲ ماخان میړي په
.ورغلی ته ویانا اتریش

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ز ک کې کوزده کړې وه ۱۹۶۳ ده د میرمن ښاپیرۍ سره په

ز ک دوه بچیان وبخښل، چې ۱۹۷۹ دوي ته لوي ځښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم
همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ځانګه په المان کې د پوهنتون علمې .ځانګه او اباسین نومیږي
.ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**